شهامت

هو! د سولې په اړه
راټوکیدلې هیلې مو چا قتل کړې؟

دولسم کال، شپږمه، پرلپسې ۷۴مه ګڼه، شعبان المعظم ۱۴۴۰هق، اپریل ۲۰۱۹م

- ❖ د هلمند خویندو ته!
- ❖ د سولې په وړاندې د ارګ او طالب د ډیپلوماسۍ توپیر ...!!
- ❖ امریکا را کی ها شکست دادند ؟
- ❖ د اشغالګرو د جرائمو په وړاندې مظاهرې او لاریونونه!
- ❖ دجهاد لپاره اعداد څومره اهمیت لري؟
- ❖ د غــلامی د تالار انکشافات...
- ❖ هفتاد سالگی ناتو؛ تاریخ، واقعیت ها و چالش ها

کالګڼه

د شهامت د دولس کلن مطبوعاتي یون په اړه څو یادونې!

د قطر غونډې د ځنډېدو په اړه

د اسلامي امارت د ویاند وضاحت

نوي پسرلني الفتح عملیات له سیاسي لیدلوري

شهامت

علمي، کلتوري او اسلامي مجله

دولسم کال، شپږمه، پرلپسې۷۴مه گڼه، شعبان المعظم ۱۴۴۰هق، اپرېل۲۰۱۹م

لـــړلیـــك

گڼه	عنوان	مخ
۱	سرلیکنه..........	۱
۲	د شهامت د دولس کلن مطبوعاتي یون په اړه څو یادونې !..........	۳
۳	د قطر غونډې د ځنډېدو په اړه د اسلامي امارت د ویاند وضاحت..........	۴
٤	د سولې په وړاندې د ارگ او طالب د دیپلوماتیک دیپلوماسۍ توپیر..........	٦
٥	اشرف غني په سوله کې لغته ووهله!..........	۹
٦	د بیان د آزادۍ په اړه د اسلامي امارت موقف	۱۰
۷	نوي پسرلني عملیات له سیاسي لیدلورې	۱۲
۸	هفتاد سالگی ناتو؛ تاریخ، واقعیت های وچالش ها..........	۱۴
۹	ددښمن له جنگي بندیانو سره دطالبانو انساني او اسلامی سلوک..........	۱۷
۱۰	امریکایی را کی ها شکست دادند؟	۲۰
۱۱	د دوحې غونډه د سولې اعظمي فرصت !..........	۲۳
۱۲	د اشغالگرو د جرائمو په وړاندې مظاهرې او لاریونونه	۲۵
۱۳	څوک په سوله کې زوالویني ؟	۲۷
۱٤	د هلمند خویندو ته !	۲۹
۱٥	هلمند کې د افغاني غیرت منارونه ولړزول شول!..........	۳۲
۱٥	د سوډان وروستي حالات او د عمر بن البشیر ځیرکتیا..........	۳۳
۱٦	د غلامۍ د تالار انکشافات..........	۳٥
۱۷	د غني ۲٥۰ کسان، ولې ؟	۳۷
۱۸	گلورینې پانې	۴۰
۱۹	تر امریکایانو وروسته افغانستان..........	۴۲
۲۰	د الفتح عملیاتو اعلان بزدله غلیم په جنون راوست!!..........	۴۳
۲۱	د اسلامي نړۍ ځلانده ستوری شیخ الاسلام امام بغوي رحمه الله..........	۴۴
۲۲	ولې عصري علوم زده کوو؟	۴۷
۲۳	پر اسلامي نړۍ د ترمپ بل ستر گوزار..........	٥۰
۲۴	غامدیت د اوسني عصر لویه فتنه..........	٥۴
۲٥	په اسلام کې د مال او ملکیت احکام..........	٥۷
۲٦	د شوراب د غزا گمنام اتل..........	٦۲
۲۷	د هڅونې او تشجیع ارزښت	٦٥
۲۸	د جهاد لپاره اعداد څومره اهمیت لري؟	٦۹

دامتیازخاوند :

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنگي چارو کمیسیون

مسؤل مدیـر :

ابو ظهیر

کتـنـپـلاوی :

لطیف عزم
حسن " علوي" بلال "وحید"
نعیم " صافی " عابد مجاهد
قاري حبیب

بـیـــه :

یوه گڼه ۳٥ افغانۍ او ٦۰
کلدارې په پاکستان کې

تخنیکي مسؤل :

تخنیکي څانگه

یـــادونـــه

شهامت له سرمقالې پرته دنورو
لیکنو مسؤلیت په غاړه نه اخلي.

ادرس : کابل کارته پروان عقب سینمای بهارستان بریښنالیک :Sham.shahamat@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحيم



د سولې په اړه راټوکیدلې هیلې مو چا قتل کړې؟

دروان (۲۰۱۹)میلادي کال فبروی په ۶ مه دمسکو په بین الافغاني ناسته کې داپریکړه شوې وه چې دمسکو ناستې په تعقیب به بله ناسته دعربي خلیجي هیواد قطر په پلازمینه (دوحه) کې جوړیږي.

د هغه پریکړې سره سم تاکل شوې وه چې داپریل په ۲۰مه او۲۱نیته په دوحه کې یاده ناسته جوړه شي ،دقطر حکومت او دکانفرانس تنظیموونکو دمتوقع ناستې لپاره تول مناسب انتظامات اوترتیبات برابر کړي وو.

دافغانستان اسلامي امارت هم ددې لپاره چې سوله دافغان ولس یو ستر ارمان دی او هیوادته د رښتینې سولې دراتلو پخاطر د ډیرو کړکیچنو موضوعاتو په اړه دنرمښت ښودو لړکې دمسکو کانفرانس په پرتله د دوحې په ناسته کې دخو چنده ښځینه اونارینه استازو په ګډون هم دتوافق ښودو ترڅنګ دغونډې دبریالیتوب او کامیابی لپاره یې پخپل تول توان سره تابیا نیولې وه.

په ورته شکل د کانفرانس کوربه هیواد(قطر) او نورو تنظیمونکو جهتونو هم د کانفرانس کې دمتوقع ګډونوالو دوروستي او حتمي نوملړ اعلانولو وروسته دګډونکوو په نومونو بلتلیکونه هم لیږلي وو او دوحې ته دهغوی دانتقالولو لپاره اړونده لارې چارې په ښهړ توګه تنظیم کړې وې او هم یې دځینو هیوادونو څخه دګډونوالوپه انتقال لاس پورې کړی و.

خودکابل ګډوله رژیم دخپل پردیپال او غلامانه ذهنیت او عادت سره سم ددې ناستې دجوړیدو نه دوه ورځې وړاندې په داسې ګډو وډو او اپلتو ویلو شروع وکړه چې په سبب یې دسولې هیلې دنه جبرانیدونکې زیان سره مخ شوې او اشرف غني دخپل وراسته اوشړیدونکي دولت پر نماینده ګی یوځل بیا دخپلې خوښې کسانو لیږلو سره هڅې په کاروا چولې څو دکانفرانس دننه دبدمزه ګیو اوریشنخندونو ماحول جوړ کړي.

حال داچې له وړاندې څخه دمسکو د بین الافغاني کانفرانس پر مهال او بیا وروسته دقطر هیواد او دکانفرانس تنظیموونکو جهتونو سره اسلامي امارت دابحث طی کړی و چې دقطر په متوقع ناسته کې دکابل ادارې په استازولی به

يوتن هم برخه نه اخلي! او ددې په اړه دهغوی لخوا امارت ته دا او دکابل اداري ته خبرداري هم ورکول شوی و چې دقطر ناستې ګډونوال به دافغانستان داروانې کشالې دحل او دسولې راتلوپه اړه دخپلو شخصي ادرسونو څخه د ګډون کولوترڅنګ به خپل شخصي نظريات او وړانديزونه کانفرانس ته وړاندې کوي او دکابل کاواکه اداري په استازيتوب هيڅ يوفردته ګډون اجازه نه وي.

دهغه وضاحت ليک له مخې چې دافغانستان اسلامي امارت لخوا دقطر کانفرانس دڅنډ لاملونو ښکاره کولو په موخه رسنيو سره شريک شوی بکې راغلي چې د امارت استازو اومذاکراتي ټيم پخپل ټول وس د زغم او برداشت نه په کار اخستو دومره نرمښت وښودچې دازادو شخصيتونو په توګه يې دکابل شريدونکې اداري دسولې شورى غړي اونور مامورين هم په ليست کې اومنل خومتاسفانه اشرف غني او دهغه اجير ټيم پرلپسې دا ناوړه هڅه کوله چې دقطر دسولې غونډې په وړاندې دموانعو پيداکولو د بدې ارادې ترڅنګ درسنيو له لارې دداسې ذهنيت خوړولو کوښښ کاوه چې په قطر کې کيدونکې غونډه دطالبانو او کابل اداري ترمنځ يوه مذاکراتي ناسته وي ، دکابل څخه تلونکی ټيم به ددولت د نماينده ګي سربيره دغونډې درياست چارې به هم دکابل د چينجن دولت لخوا اداره کېږي اوهم يې دخپلو دوه نيم سوه کسانو ديولوى [فوج مظفر] دناانډوله ليست په منلو ټينګار کاوه وخت ناوخت يې د ارګ دڅينو نمايشې غونډو د ستيج نه دسرو کرښو خوښونه هم بيانول حال داچې اسلامي امارت يواځې دغونډې لپاره دخپل لوري نه ۲۵تنه استازي نومولي وو اوهرسړي ته ددوه نيم سوه او ۲۵ تنو ترمنځ دزمکې او اسمان واټن ښکاري چې هغه ته په کتو سره ناشونې وه چې داوړې دې شړې شوې واى! دقطر غونډه دې د مسکوناستې دټاکلې اجندا سره سمه پرمخ بيول شوې واى بلکې انديښنه وه چې هسې نه دسولې هغه ټول کوښښونه سبوتاژ کړي کوم چې په وروستيو څو مياشتو کې پيل شوي هغه و چې اسلامي امارت د دې وضعيت دحساسيت په درک کولو سره درک کړه چې د قطر ناستې په اړه دوړاندې څخه دمنل شويوتوافقاتونه دکابل اداري پرلپسې سرغړونې ښيي چې دا ناانډوله ناسته به په افغان ولس نورې ناخوالې تحميل نکړي، په دې وجه يې پکې دخپلو استازو ګډون لغوه وګرځاوه د دې وروسته دکانفرانس کوربه هيواد قطر او نورو تنظيموونکو جهتونو داشرف غني دګډوله رژيم دمنفي رويې په غبرګون کې هم دغونډې ځنډولو پريکړه اعلان کړه.

د کتونکو په اند: داشرف غني کاواکه رژيم په عمل کې وښوده چې هغه په افغان مظلوم ولس يې دريښتينې سولې نعمت پيرزوندى اوپه ښکاره لګيادى دسولې په اړه راتوکيدونکې هيلې په ډيره بې رحمې سره وژني. او هغوی خپله خوښې اوښادې دملت په وژلو او ځورولو کې ګوري او دهمدې لپاره دبهرنيو اشغالګرو ځواکونو په شتون او دجګړې په دوام ټينګارلري او امريکايانو ته يې سهارو ماښام دسوال ځولۍ غوړولې چې موږ به خپل لګښتونه څوچنده راکم کړو خو تاسو رانه خپل مخ په بله خوا مه ګرځوئ!

هو! ملت اوس بيدارشوی اوپه دې پوهيدلی چې څوک په ريښتيا دسولې علمبردار او څوک دسولې دښمن او قاتل دی او ژربه که خدای کول ددې ولس لخوا دسولې ددښمن اوقاتل لوری دداسې کلک پولادي مزاحمت سره مخ شي چې په نړۍ کې به سارى نلري او په ترڅ کې به يې اشرف غني او دهغه خارجي باداران ددې هيوادنه تيښتې ته مجبوريږي او ګران افغانستان به دازادۍ دخواږه نعمت څخه برخمن کېږي. ان شاء الله

د شهامت

د دولس کلن مطبوعاتی یون

په اړه څویادونې!

درنو لوستونکو! دا د شهامت ددولسم کال وروستی(٦) اوپرلپسې ۷۴مه گڼه ده، خوشال یو چې تردې مهاله پرته دڅښتن تعالی په بې پایه لوینه اومرسته دکوم خنډ اووقفې پرته د تیرو دولس کلوراهیسې پخپلو جهادي، علمي، اجتماعي او سیاسي لیکنو اومطالبو سره دخپلو لوستوالو او مینوالو تنده خړوبه ساتلې ده.

په دې ویاړ د شهامت اداره دافغانستان اسلامي امارت دمشرتابه مقام اود فرهنگي چارو کمیسیون ته مبارکې وایي او ترې مننه کوي چې پخپله کامله پاملرنه او توجه یې گام په گام دشهامت دادارې . شهامتوالو لیکوالو اوقلموالو لاسنیوی کړی دی او په دې لار کې یې ورته تولې اړوند مادي ، اقتصادي اومعنوي اړتیاوې پوره کړې.

همدا راز هغه مجاهد قلموال، لیکوال، څېړونکي، مقاله لیکونکي کومو چې دتیرو دولس کلو راهیسې پرلپسې شهامت ته په ډیر اخلاص اومینه پرته دکوم لالچ او غرض نه خپلې وزینې لیکنې، مقالې،تبصرې، او بامحتوا علمي او مطبوعاتي مضامین، په زړه پورې جهادي مرکې او راپورونه رالیږلې دي اوپه دې لارکې چې هغوی موږ سره بیدریغه زحمتونه او ستړیاوې گاللې نو ورته تبریکې وایو او د څښتن تعالی نه هغوی ته دخپلو ټولو زحمتونو په بدل کې اجرونه اوعوضونه غواړم اوپه مستقبل کې ورته دلاموفقیت، بري او همکارۍ دعاکوو

په دې موقع هغه زړوراو قهرمان مجاهدین او طالبان هم دزیاتې مبارکۍ حقداربولو چاچې پخپلو لامثال قربانیواو لازوال کارنامو اوشهادتونو، او تاریخي سربندنو سره دبشري تاریخ تر ټولو څواکمن اوکبرجن طاقت ته دخپل سر په کوپړۍ کې اوبه ورکړې او هغه دیته اړکړی چې نن درپه در خاورې په سر گرزي ، په سوالو نو او زاریو دافغانستان دمرگوني گرداب څخه د ځان ویستو لپاره لارې اوگودرې لټوې

بې انصافي به وې چې په دې موقع هغه باتور، باشهامته اومیړني ولس اوغیرتي قام ته مبارکې وانه وایم چاچې دتیرو اتلس کلو راهیسې داوسپنو نینو په وچیچلو او دډول ډول تکلیفونو ، ستونزو اوو ناخوالو په وزغملو سره یې خپله دمینې اود خواخوږۍ ډکه غیږه دطالب او مجاهد دهوساینې لپاره بیرته کړې او هغوی ته یې پخپلو غریبانه جونگړوکې تل پناه ورکړې اوتردې مهاله دهر ډول فشارونو او لالچونو څخه په بې پرواهۍ یې دمجاهدینو دملاتړ دریغ نیولی او دخپل هیواد دازادۍ لپاره گام په گام او سرو مال ورسره ولاړدي

هو!دشهامت اداره، مجاهدقلموال ، لیکول اوچلونکي دا عهد یوځل بیا تجدیدوي چې ان شاء الله دوی به پخپل ټول توان سره یوخل بیا خپل دقربانۍ عهدتجدیدوي او دتیر په څیرد هیواد دازادۍ ننگیالیو مجاهدینو داسمانځکو کارنامو دترجمانۍ ویاړ دځان لپاره تاریخي افتخار اوشرف گڼي او هم دگران هیواد داسلامي او ملي ارزښتونو څخه دفاع به دتیر په څیر خپل مطبوعاتي رسالت اووجیبه بولي ومن الله التوفیق

دشهامت اداره

د قطر غونډې د ځنډېدو په اړه

د اسلامي امارت د ویاند وضاحت

د روانې اپریل میاشتې په شلم او یویشتم تاریخ په دوحه کې د بین الافغاني کانفرانس اهتمام شوی و چې اوس لغوه شو.

د دې موضوع په اړه لاندې وضاحت ضروري بولو:

۱ ـــ د روان میلادي کال د فبرورۍ په ٦ مه نېټه د ماسکو په کانفرانس کې فیصله شوې وه چې بل دا ډول کانفرانس به په قطر کې جوړېږي.

اسلامي امارت تر ننه په خپل هغه دریځ او وعده ولاړ دی، چې هغه ډول کانفرانس دې دایر شي؛ بلکې اسلامي امارت د قطر په کانفرانس کې د ماسکو د کانفرانس په پرتله د ځوچنده زیاتو ښځینه او نارینه هیوادوالو د ګډون سره هم موافقه وکړه.

تاکل شوې وه چې په کانفرانس کې به ګډونوال د افغانستان د قضې په اړه خپل خپل شخصي نظریات بیانوي؛ خو د کابل ادارې چارواکو هڅه وکړه چې له دغه کانفرانس څخه د کابل ادارې او اسلامي امارت ترمنځ د مذاکراتو غونډه جوړه کړي، هغه څه چې د کانفرانس له تګ لارې سره یې سمون نه خوړ.

۲ ـ د ماسکو په غونډه کې ګډونوالو په شخصي ډول برخه اخستې وه او د قطر راتلونکي کانفرانس لپاره هم له لومړۍ ورځې په همدې دریځ کار پیل شوی وه.

د کانفرانس تنظیمونکو او د قطر هیواد دا خبره په وضاحت سره کړې وه، حتی د ګډونوالو په بلنلیکونو کې یې هم واضح کړي وه چې د هرچا ګډون به په شخصي ډول وي؛ خو د کابل اداري مشر (اشرف غني او یوبل چارواکي عمر داود زي) په تکرار سره بیانونه خپرول چې ګواکې د دوی د خوښې کسان به د کابل ادارې په نمایندګۍ ګډون کوي، چې دا پخپله په واضحه ډول د یاد کانفرانس د ځنډېدو او سولې ضد هڅه وه.

۳ ــ څرنګ چې د کانفرانس ټول ترتیبات بشپړ شول د کابل اداري چارواکو په ارګ کې مرموزې غونډې پیل کړې، د سرو کړښو او شرایطو خبره یې را مخې ته کړه، دعوه یې وکړه چې د یاد کانفرانس مشرتوب به هم دوی کوي، د ګډونوالو یو داسې لیست یې تیار او خپور کړ چې نه خو د قطر د غونډې له حال او مقام سره ښایېده او نه یې په غونډه کې د منل کیدو امکان وو، تر ټولو عجیبه یې داوه چې خپل لیست یې د کانفرانس له منتظمینو سره تر شریکېدو، تفاهم او موافقې وړاندې نشر کړ او په لوی لاس یې ګډوډي رامنځ ته کړه.

۴ ــ په داسې حال کې چې د اسلامي امارت دریځ واضح دی، چې د مذاکراتو په سلسله کې به لومړی د مسئلې خارجي بعد حل کیږي او هغه له افغانستان څخه د ټولو بهرنیو اشغالګرو ځواکونو وتل دی او د کابل له ادارې سره چې بې واکه او شړیدلې اداره ده مذاکرات د وخت ضایع کیدل دي.

له دې دریځ سره سره مو بیاهم د قطر کانفرانس په لیست کې تر دیرشو تنو ډیر د کابل اداري د سولې شوری غړي او نور مامورین ومنل او په مجموع کې د لیست اکثریت برخه د کابل اداري اوسني او پخواني غړي او خواخوږي شول، چې په شخصي بڼه به یې ګډون کاوه، بل پلو په کانفرانس کې د اسلامي امارت لخوا یواځې د پنځه ویشتو کسانو ګډون په پام کې وو؛ خو بیا هم د کابل اداري چارواکو د دوه نیم سوه کسانو په جوړ کړي تا انډوله لیست ټینګار کاوه چې دا مناسبه هڅه نه وه.

۵ ــ د افغانستان اسلامي امارت خپل ځوریدلي ملت او نړیوالو ته داډ ورکوي چې د سولې په روانه پروسه کې اسلامي امارت پوره حوصله کړې. د محترم ملا برادر اخند په مشرۍ د سیاسي دفتر او مذاکراتي ټیم غړو شپه او ورځ خواري وکړه، زغم یې وکړ او تر اخري حده یې په خپل دریځ کې نرمښت و ښود؛ خو داچې د کابل اداري چارواکو او پټو کړیو دا هڅه له خنډ سره مخ کړه مسئولیت یې هغوی ته راجع دی، د الله تعالی نصرت او د اولس ملاتړ به له موږ سره وي، د سولې دښمنان به په خپله پوه شي چې سهوه او اشتباه یې کړي ده.

٦ ــ په پای کې موږ له ټولو اشخاصو، جهتونو، خصوصا د قطر هیواد له درنو چارواکو د شخړو او بشري مطالعاتو د مرکز له مسئولینو او د هیواد دننه د سولې له مخلصو فعالانو څخه مننه کوو چې د دې پروسې په برخه کې یې مرسته کوله او تر اخره یې خپل وس وکړ الله تعالی دې ټولو ته اجرونه ور کړي، خصوصاهغه شخصیتونه چې دې کانفرانس ته یې د تګ تیاري وکړ، خپنو قدرمنو حرکت وکړ له ولایاتو کابل ته ور غلل حتي یو شمیرېي دوحې ته ورسیدل موږ د ټولو د زحمتونو قدرونه کوو او دراتلونکو هڅو لپاره ښه حوصله ورته غواړو.

اسلامي امارت به د واقعي سولې د راوستو او افغان شموله اسلامي نظام ترقیامه پورې خپلې برحقې مبارزې ته دوام ورکوي، ان شاءالله تعالی.

ذبیح الله مجاهد داسلامی امارت ویندوی

۱۴۴۰/۸/۱۴هـ ق

۱۳۹۸/۱/۳۰هـ ش

۱۹/٤/۲۰۱۹م

د سولي په وړاندې د ارګ او طالب د ډيپلوماسي توپير...!!

لیکنه: موسی فرهاد

د قطـر پلازمینـه دوحـه کـې د جوړېدونکي بين الأفغـاني غونـډې د لغوه کیدلو وېره لا هغـه مهال خپره شوه، چې د کابل حکومـت لـه خپلـه اړخه د مرکچیـانو دومره اوږد لیسـت اعلان کړ چې توله دنیا ورتـه ګوتـه پـه غـاښ پـاتې شـوه، او بالأخره دا پراخ لیست د تـولنیزو رسنیو د ریشـخند او توکـو ټکالو یوه اوږده سوژه وګرځیده.

دا چې د حکومت له دومره پراخ لیسـت نـه هـدف څـه وو، کتونکي يې څو احتماله بيانوي: یو دا چې کوشش یـې کړی وو ترڅو خپل تول حکومتي ماموران او د هغوی خپلو او خپلوانو ته هم ځای کړي، دويم دا چې د غني او د هغه د ټیم د تاکتیکي کمپاین کار پکي مخته ولاړ شي. لـه همـدې ځایـه وه چې له دومره پراخوالي سره سره يې بیا هم څوک خوشـحاله نکړای شو بلکي په کور دننه يې دوه نـیم سـوه مخالفتونـه را ولتول. څکه چې هدف یې سوله نه بلکي د سولي په نوم یې نوري ورانی ته هوډ کړی و.

حقیقت دا دی چې ارګ میشتې په تولـه کـې لـه روانـو سـولییزو پروسـو نـه کلکـه وېـره لـري، چـې د دوی واک او څواک پکي له منځه ځي، لـه همـدې املـه هـم د امریکـا او طالبانو ترمنځ په مذاکراتو غمجن دي او هم يې له مسکو نه د راپیل شوي بین الأفغاني فارمټ همیشه سرسخته مخالفت څرګند کړی، اوس چې د امریکا پریشر ورباندې زیـات شـو چې د قطر د غونډې سره به مخالفت نه کوي، نو یې د هغې لپاره د تیاري تـر پـوښ لانـدې د هغـې د ګـډوډۍ او مختـل کیدلو هڅه په دې دول وکړه، چې په نتیجـه کـې یـې دا بـین الأفغاني غونډه لغوه شوه.

لیستونه او د غونډې د تخریب لیست!

دا چې څنګه د ارګ له لاسه دا پروسه تخریـب سـوه؛ په اړه یې د قطر دفتر د یوې سرچینې جریان تـه تـم کیـږو، دا

سرچینه وایي چې لومړی ځل د مارچ په وروستیو کې سلطان برکات ته له امریکا، کابل او ځینو نورو جهتونو څخه بیلابیل لیستونه رسیدلي وو چې هغه بیا دا لیستونه طالب لوري ته وړاندي کړل، د سرچینې په وینا طالبانو، نه یوازې دا چې له تولو سره یې مخالفت ونکړ، بلکې په ترتیب کې ورسره همکاري هم وکړه، او په ګډه یې د نژدې دوه سوه تنو لیست غوره کړ، چې په هغو کې د ماسکو دغونډی برخوال او نور د ګنو جهتونو خلک شامل وو.

څه وخت وروسته بیا سلطان برکات د څلور سوه کسانو نوي لیستونه له مختلفو خواوو ترلاسه کړي وو، مګر دومره وه چې په دې لیستونو کې خپله د حکومت دننه کړیو لخوا خپل خلک انتخاب شوي وو، مثلاً له ځینو سره به لیکل شوي وو، د ډاکترغني نماینده، د اجراییه ریاست نماینده، د کریم خلیلي استاځی، د احمدولي مسعود لخوا، د محقق لخوا، د ښځو د سازمان لخوا، د ولاتي مدني تولني لخوا، د ځوانانو لخوا، همداسي لویې پرېږې وي، چې د زیاتره نومونه به څو ځله لیکل شوي وو. دا لیستونه یوځل بیا د انستیتیوټ لخوا له طالبانو سره شریک کړل شول.

د قطر دفتر دا سرچینه وایي چې بالآخره د تخنیکي تیمونو له عمیقي څېړني وروسته داسي لیستونه تیار شول، چې د تولو جهتونو مناسبه ونده په نظر کې ونیول شوه، د کابل اداری د سولې شوری او یو شمیر نور غړي هم پکې ځای کړل شول، دا لیست نهایي شو، د غونډې پر رابلني کار پیل شو، په دې وخت کې په ارګ کې ګرمي غونډي پیل سوي، د سرو کرښو او نورو پلانونو خبره له ارګه را ووته، او بالأخره دوه نیم سوه کسیز بل لیست پکې اعلان شو هغوی ته د ارګ د سفیرانو نوم ورکول شو، او رسمي مذاکرات یی ترې جوړ کړل په داسی حال کی چی دا لیست نه له قطر سره شریک شوی و، نه له انستیتیوټ سره او نه هم له نورو ګډونوالو او فعالانو سره. او تر دې وړاندې چې کوم لیست نهایي شوی وو؛ هغه له تولو خواوو سر شریک شوی و.

د کابل له دغه نا اندوله لیست سره چې په کور دننه کې هم سخت مخالفتونه را پورته شول؛ او اندیښنې یې را وپارولي، د سلطان برکات انستیتیوټ په هغه لیست تینګار کاوه چې مخکې له مخکې نه د کابل په شمول تولو خواوو ته مناسبه برخه کی ورکړل شوې وه، ارګ سره له دې چې اول یې پرې سر ښوروللی و؛ د برکات دا لیست رد کړ او د قطر الوتکي ته یې د ورتګ اجازه ورنکړه ترڅو کسان غونډې ته ورسوي. په دې توګه یې هم دا غونډه تخریب کړه، او هم یې ځان ریشخند کړ، خو خپل هغه هدف ته ورسید چې د بین الأفغاني پروسې مخه ونیسي.

د کابل سرې کرښې!

سرې کرښې طبعاً د هغو لوریو ترمنځ راکښلي کیږي، چې په رسمي شکل مذاکراتي پروسي ته داخل شوي وي، او یو و بل یې د خپل مقابل جهت په توګه سره منلي وي، لکه طالبان او امریکایان.

د کابل اداري چون تراوسه هغه حیثیت نه دی موندلی چې طالبان یې په رسمیت وپیژني او بیا ورسره مذاکرات وکړي، په ځلونو یې دا خبره هم واضحه کړې ده، د مسکو او قطر بین الأفغاني جلسې تول افغانان داسي یو فرصت ګڼي چې ګوندي د رڼا یو څرک پکې پیدا کړي. او د حل لاري ته به یوه لاره وموندله شي.

خو متاسفانه چې د کابل اداري هیڅکله دا نزاکت، نه درک کړ، نه یې خپل حیثیت وپیژانده او نه یې د ملت د هیلو خیال وساته، د یوې تفاهمي او باورجوړونکي غونډي او د یو رسمي مذاکراتي مجلس ترمنځ یې توپیر ونشو کړای، د یاد کنفرانس تر دایریدو وړاندې یې په ارګ کې غرب ځپلي

ټیکنوکراتـان، جنگسـالاران، غلـه او مافیایي داړه مـاران سره را غونـډ کـړل ترڅو سرې کرښې وټاکي، لـه ارګ نـه را وتلو خبرونو کې وویـل شـول چـې آسـاسي قـانون، نظـام، انتخابـات او د ښځو حقوق د دوی سرې کرښې دي.

يعني دا شيان د بحث وړ نه دي، طالـب بـه يـې هـرو مـرو منـي، هغـه آساسي قانون چې خپله دغـه حکومـت لـه اولې ورځـې تـر پښو لاندې کړی، هغه نظام چې تولـه دنيـا يـې د يـو فاسـد ترين نظام په توګه پيژني، او هغه انتخابات چې په ټولـه دنيـا کې دومره مسخره نشته لکـه د کابـل اداري ټـاکنې، او هغـه ښځينه حقوق چې د کابل اداري عسـکر ورځـې پـه هلمنـد کې تورسري له کوڅيو را کشوي، زنـدانونو تـه يـې اچـوي، سرې ورته وژني ماشومان تري غورځوي، کورنو تـه يـې اور اچوي.

دا هغـه سرې کرښـې وي چـې د قطـر بـين الأفغـاني مجلـس تـه د ارګ لخـوا را کټـل شـوي وي، او د همـدې د منلو لپاره يې ٢٥٠ د واده ورا تياره کړې وه.

له دې ډول ناشولته پاليسيو نـه د لمـر غونـډې څليـږي چې ارګ ميشتي خلک پخپله د افغان سولې په وړانـدې سره کرښه ده، ترڅو چې د دوی وس وي د سولې په وړانـدې بـه همداسي بې شرمانه او ظالمانه خنډونه ايجادوي.

له سولې سره د طالبانو سياسي چلند

طالبان چې له امريکا سره د رسمي مذاکراتو پـروسي ته داخل شوي؛ له همغه راهيسي يې نه يو قدم شـاتګ کـړی او نه يې خنډ او څنډ رامنځ ته کړی، حتی چې مذاکراتي ټيم يې ځای پرځای ورته ناسـت دی، د مسـکو کنفـرانس تـه پـه ورين تندي ورغلل، د قطر کنفرانس ته يې خپله پوره امادګي وښودله، هرڅومره چل ول چې د کابـل اداري وکـړ، طالـب هيئت وزغمه، په ډېرو مواردو کې يې نرمښـت وښـود، چـې بالاخره يې د کنفرانس د لغوه کيدلو لـه ملامتـي څخـه ځـان وژغوره، ملت او دنيا ته يې خپل پيغام مثبت ورساوه، د څنډ او خنډ تول منګی يې د کابل اداري پرسر ورمات کړ. چې دا د سوله ايزي پروسې سره د هغوی کامياب ديپلوماتيک چلند دی. له دې نه څرګنديږي چې طالبان اوس د ديپلوماسي پـه ډګر کې هم ښه پاخه لوبغاري دي، څکه ډېري غټـی لـوبي، سره له ډېرو چيلنجونو؛ د خپل ځان په ګټه پای تـه رسـولای شي.

نن چې په ولـس کـې د غصـې کـوم طوفـان را پورتـه شوی؛ مخ يې ټول د ارګ پرخـوا دی، چـې ښـايي پـه نـژدې راتلونکي کې ارګوال خپل سرونه پکـې وخـوري، د همـدې بين الأفغاني غونـډې وروسـته سمدسـتي پـه کابـل کـې يـو شمېر علماؤ، قومي متنفذينو او سياستوالو په يوه غونډه کـې اعلان وکړ چې نور به له دې پس هم انتخابات تحريموي او هم به راتلونکی د لويې جرګې په نوم دسيسي ردوي، چې دا تولې د دوی په ګمان د هيواد په خير نـه دي، هغـه څـه چـې ارګ يې په جوړولو لګيا دی. نو دا يوه ښېلګه ده چې ولـس د ارګ ميشتو د نـاروا دسيسـو پـه وړانـدې نـور بـې حوصـلې بريښي. پای...!

اشرف غني په سوله کې لغته ووهله

خالد افغان زوی

وروسته له څو لسیزو یو ځل بیا د واقعي او فراګیر بین الافغاني تفاهم لپاره زمینه برابره شوې وه. د قطر چارواکو ته دې رب خیر ورکړي چې د یوې داسې سترې تفاهمي غونډې لپاره یې ټول امکانات برابر کړل چې له طالبانو ونیسه، تر پخوانیو تکنوکراتانو. کابل میشتو سیاستوالو، د ګوندونو استازو او د ټولنې بیلابیلو اقشارو به په کې ګډون کاوه او په افغانستان کې د راتلونکې سرتاسري او واقعي سولې لارنقشه به یې ټاکله. څو داسې معلومیږي لکه د سولې نعمت چې زموږ د دردمن اولس په نصیب کې نه وي. که پخوا زموږ له اولس نه سوله او پخلاینه پردیو استخباراتو او اجنبي لاسونه تروړلې وه، دا ځل د ارګ واکمن اشرف غني چې ځان ته افغان او مسلمان هم وایي زموږ د ملت په دې ناختلې ارمان کې یې لغته ووهله او د ۳۵ میلیونه افغانانو هیلې او امیدونه یې تالا ترغه کړل.

تاریخ او ملت ته باید دا خبره سپینه وي، چې د قطر بین الافغاني تفاهمي غونډې ته طالبانو په ټول اخلاص آمادګي ښودوه او د بین الافغاني تفاهم لپاره یې د ملت غوښتنې ته لبیک ووایه. طالبانو له بل هر جهت وړاندې د غونډې لپاره خپل لست نهایي، خپل ګډون یې تضمین او له خپله اړخه یې ټول لازم ترتیبات ونیول. خو په مقابل جهت کې د کابل چارواکو او په سر کې اشرف غني په ځای د دې چې دې غونډې ته په خپل وخت لازم ترتیبات ونیسي، د قطر د بین الافغاني مجلس د ځنډ او ځنډ هڅو ته یې لاس واچاوه.

یو وار یې په ارګ کې مرموزې غونډې پیل کړې، د هیئتونو ټاکل او لغو کول یې شروع کړل. وروسته یې د سرو کرښو او شرایطو خبره را مخې ته کړه. وروسته چې غونډې ته دوه ورځې پاتې شوې، د ګډونوالو یو داسې ناشولته لست یې خپور کړ چې یوازې د فیسبوک د ټوکانو په ښمر شو او رسنیو ته یې طنزي سوژه په لاس ورکړه. داسې لست چې نه څو د قطر د غونډې له حال او مقام سره ښاییده او نه یې په غونډه کې د منل کیدو امکان و. په سبا چې د قطر د غونډې تنظیمونکو کابل ته د الوتکې د لیږلو اراده وکړه تر څو ګډونوال دوحې ته انتقال کړي د اشرف غني په امر د افغانستان هوایي حریم د قطر د الوتکې په مخ په وتړل شو.

عجیبه دا ده چې په دې هیواد کې که د جنګ او بمبار لپاره د هر چا الوتکو غر او پر جوړ کړی وي هیڅ خبره نه ده. څو د سولې مجلس ته د ګډونوالو وړونکې الوتکه باید را پرې نه ښودل شي.

په دې ډول اشرف غني د قطر غونډه چې افغان اولس یې په سخته اورنۍ تلوسه انتظار یوست له بن بست سره مخامخ کړه. تر دې چې د غونډې د نظیمونکو لخوا مجلس لغو شو.

د اشرف غني لخوا د قطر د سولې په بهیر کې لغته وهل، یوازې د یوې غونډې ځنډول نه دي. بلکې د یوه ۳۵ میلیوني ملت له هیلو، عواطفو او ارمانونو سره یوه داسې ناروا لوبه ده چې زموږ تاریخ یې بیلګه نلري. نه پوهیږو اشرف غني به خپل وجدان څنګه قانع کوي. هغه چې خپلو اولادونو لپاره د نیویارک د بیچونو خرمستۍ خوښوي څو زموږ په کړیدلي ملت یې حتی د سولې خوب او خیال او یوه تشه تفاهمي ناسته هم نه ده پیروز.

تاریخ به ولیکي چې د دې جګړې دوام او هره ورځ د سلګونو افغانانو د وژل کیدو پړه څکه د اشرف غني پر غاړه ده چې د سولې د هر غږ په وړاندې یې د تعلل پالیسي غوره کړې او ټوله توجه یې دې ته ده چې څرنګه د دې ملت د ځوانانو په وینو د قدرت د دوام موج سواري وکړي

د بیان د آزادي په اړه

د اسلامي امارت موقف

معین احمد (معین)

حریت او په انساني کړو وړو کې آزادي د الله تعالی یو ستر نعمت دی چې په هر انسان یې لورولی دی.

الله تعالی انسان ته د ژوند د نعمت ورکولو ترڅنګ پر هغه یو لړ نور انعامات هم لورولي چې په هغه کې د ژوند آزادي ، د فکر آزادي او د بیان آزادي ده .

د اسلام مقدس دین لکه چې د هر انسان لپاره د هغه د شخصي ملکیت په حق قائل دی همدا راز د هغه لپاره د ژوند ، فکر او بیان آزادي په حق هم باور لري .

په اسلام کې د فکري او عقیدوي آزادي په اړه الله تعالی د البقره سورت په (۲۵٦) نمبر آیت کې فرمایي:

لا إكراه في الدين قد تبين الرشد من الغي.

ژباړه : په دین منلو کې زور نشته ، سمه لار له بې لارۍ څخه څرګنده شوې ده .(البقرة ۲۵۴)

همدا راز د اسلام مقدس دین د شرعي مقرراتو په چوکاټ کې د بیان آزادي ته درناوی لري او په دې اړه یې مونږ یوه ښکاره بیلګه د اسلام د دوهم خلیفه حضرت عمر فاروق رضی الله عنه په هغه مبارک قول کې وینو چې د یوې میرمنې د انتقاد په مقابل کې یې وویل :

اصابت امرة واخطأعمر ..

ستر اسلامي مفسر ابن کثیر رحمه الله د خپل تفسیر ابن کثیر په لومړي ټوک ۴٦۸ صفحه کې له حضرت ابویعلی څخه روایت کوي چې یوه ورځ حضرت عمر فاروق رضی الله عنه پرمنبر د وینا په حال کې وفرمایل :

ای خلګو ! تاسو د ښځو په مهرونو کې ډیر والی کوئ حال دا چې رسول الله صلی الله علیه وسلم او د هغه د صحابه کرام رضوان الله علیهم اجمیعن په نزد د ښځو مهر تر ۴۰۰ درهمه لوړ نه وه.

که چیرې د ښځو مهر لوړوالی ، تقوی یا فضیلت وای نو دا کار به رسول الله صلی الله علیه وسلم او د هغه صحابه کرامو کړای وه.

د دې وینا تر اورولو وروسته د غونډې له برخوالو څخه یوې قریشۍ میرمنېورباندې غږ کړ چې اې امیر المؤمنینه !

ته چې خلګ د مهر له لوړ والي منع کوې ایا تا د الله تعالی دا قول نه دی آوریدلی چې فرمایي :

... وَآتَيْتُمْ إِحْدَاهُنَّ قِنطَارًا فَلَا تَأْخُذُوا مِنْهُ شَيْئًا ۚ (النساء) ۲۰ نمبر ایت

ژباړه : او که مو هغوی ته ډیر مال ورکړی وي نو بیرته به هیڅ شي نه ترې اخلئ!

حضرت عمر رضی الله عنه د دې خبرې په اوریدو په هماغې غونډې کې په لوړ آواز وویل :

اصابت امرأة و اخطأ عمر ...

ژباړه: دا میرمن سم وایي او عمر په خپلې خبرې کې تیروتلی دی.

د اسلام دوهم خلیفه چې د خلفای راشدینو له جملې څخه دوهم راشد خلیفه دی تر رسول اکرم صلی الله علیه وسلم وروسته دریم عظیم اسلامي شخصیت دی چې په اسلام کې د بیان آزادي ته په دومره لوړ حیثیت قائلیږي چې د یوې میرمنې د انتقاد په مقابل کې پر خپلې تیر وتنې اعتراف کوي او هغه میرمن په حقه بولي.

دا هغه د بیان آزادي ده چې د اسلام مقدس دین ۱۴۰۰ کاله وړاندې انسانانو ته ورکړې او په اسلامي تاریخ کې بې دغه پیښه د یوې تاریخي بیلگې په توگه حفظ شوې.

معاصره د بیان آزادي :

د بیان معاصره آزادي چې په کال ۱۹۴۸ د د دسمبر په لسمه په پارس کې د بشري حقونو د اعلامیې د ۱۹ مادې له مخې د یوه انساني حق او د دیموکراسي د اصولو په توگه ثبت شوې هغه مشخصه ده چې د معاصرې نړۍ انسان وربانديې ویاړي او په خپله ټولنه کې یې د عملي کولو ادعاء لري.

خو د اسلام په لومړنۍ زرینه دوره (خیرالقرون) کې څوارلس پیړۍ وړاندې مونږ عملا دهغې د عملي تنفیذ بیلگې وینو او اسلامي فقهاوو د شریعت او اسلامي تعلیماتو په رڼاکې د هغې ټول مشخصات واضح کړي دي.

په قرآني نصوصو او نبوي مبارکو احادیثو او د څلورو مذهبونو د فقهاوو په ارشاداتو کې د بیان آزادي په اړه پوره تفصیل شته دی چې دلته یې اختصارا مونږ یواځې د قرآن کریم د دې مبارک ایت چې لا اکراه فی الدین ،

او د اسلام د دوهم خلیفه حضرت عمر فاروق د همدې یوې واقعي په یادولو سره اکتفا کوو:

د بیان د آزادي په اړه د اسلامي امارت موقف

دا چې زمونږ هیواد گران افغانستان یو مذهبي هیواد او ۹۹ سلنه خلگ یې د اسلام د مقدس دین پیروان دی نو ایجاب کیږي چې هغوی ته د بیان د آزدۍ حق هم د شرعي اصولو په چوکاټ کې ورکړل شي.

اسلامي امارت د افغان مسلمان ولس د نورو حقه حقونو په څیر د هغه د بیان آزادي ته هم د اسلامي شریعت د اصولو او مقرراتو په رڼا کې قائل او د هغوی له دې حق څخه دفاع کوي.

دغه د بیان آزادي که د نشراتي آزادي په چوکاټ کې وي اوکه د ویلو او اظهار نظر په چوکاټ کې وي اسلامي امارت ورته درناوی لري.

اسلامي امارت هم د خپل حاکمیت په مهال او هم له اشغالگرو امریکایانو سره د اسلامي جهاد او مقاومت په بهیر کې د بیان آزادۍ ته د اسلامي شریعت د اصولو په چوکاټ کې متعهد پاتې شوی او تر دې وروسته به هم ورته ژمن وي .

د بیان د آزادي په پلمه بې بندوباري

لکه مخکې چې مو واضح کړه چې افغانستان یو اسلامي هیواد او دولس غوښتنه یې هم د ژوند په هره ساحه کې د اسلامي احکامو تنفیذ او تطبیق دی .

نو اسلامي امارت لکه څرنگه چې د شرعي حدودو په چوکاټ کې د بیان او نظر آزادي ته ژمن دی په هماغه شان د بیان د آزادي په پلمه د هرډول بې بندوباري مخالف دی.

دا بې بندوباري که د سیاست او واکمنې په ساحه کې وي ، که په نشراتي ساحه کې وي او که د اظهار نظر او ویلو په ساحه کې.

څکه بې بندو باري او لا قانونیت که تر هرنوم او شعار لاندې پلې کیږي هغه د ولس او ټولنې د نیکمرغي په ځای د هغوی د بدمرغي او بې نظمي لامل کیږي او انسان مکلف دي چې له ټولو هغو عواملو ځان وساتي چې هغه یې ژوند له ستونزو سره مخ کوي.

الفتح عملیات

نوي پسرلني له سیاسي لیدلوري

صلاح الدین صارم

دحمل په لومړی نېټه په کابل کې داشرف غني په ګډون لوړ پوړو امنیتي چارواکو دنوي کال پوځي عملیات اعلان کړل او د" خالد" په نوم یې د ۱۳۹۸هـ ش کال امنیتي پلان ونوماوه، که څه هم کابل مېشتو رسنیویې اعلان په شد ومد سره راوړ، خو ډېر ځای یې ځکه ونه نیو چې اعلان دهیواد په جنوب او شمال لویدیځ ولایتونوکې د اردو له تلفاتو سره هم مهاله و.

داچې طالبانو له کوم ځانګړي پلان پرته ټول کال حتی په ژمي کې هم ډېر خونړي بریدونه وکړل او په ځانګړي ډول داردو او پولیسو مرګ ژوبله پکې ډېره وه ° نو اوس چې طالبانو د " الفتح" په نوم خپل پسرلني عملیات اعلان کړل° فکرکیږي چې ددغو تلفاتو ګراف به ډېر لوړ شي او له شک پرته چې نتیجه به یې په څو چنده خونړی وي .

راځو دېته چې که له سیاسي لیدلوري دغه عملیات وڅېړل شي او وکتل شي چې له دې لیدلوري ددغو وژنو او مرګونو مسؤلیت دچا په غاړه لویږي ؟ او څوک پکې باید مجرم وپېژندل شي ؟!! روان سیاسي بهیر ډېر داسې څه په ګوتو راکولای شي چې دغه مسؤل اړخ تر ډېره په ګوته کړي او دیوه باثباته افغانستان درامنځته کېدوپه مخنیوي کې ښکېل جهتونه په ډاګه کړي .

که پر افغانستان دحملې له وخته تر دا نږدې وروستیو پورې سیاسي فعالیتونو نتیجه نه ورکوله، نو تردېره یې علت دا و چې په خپله امریکا هیڅ سیاسي جوړ جاړي ته تیاره نه وه، ځکه نو ډېرې سیاسي هلې ځلې او منډې ترړې په نمایشي ډول ترسره کېدلې .

خو له کله نه چې امریکا دقضیې حل ته د بهرنیو چارو وزارت خپل خاص استازی ټاکلی او هغه په خپل نږدې اووه میاشتني ماموریت کې کومې هلې ځلې وکړې، نو ولیدل شول چې اوس امریکا رښتیا هم له دې معضلې نه ځان وباسي او دغه سیاسي منډې ترړې رښتونې دي .

دښاغلي خلیلزاد دماموریت په دغه ټوله دوره کې چې څومره وکتل شي، تردېره له کابله ګیلمن واو



کابل په هم دده له دغه ماموریته راضي نه برېښېده، ان تردې چې خبره دېته ورسېده چې له ارگه د ده په کړنو شک وښودل شو او دملي امنیت دشورا مشر" محب" پرې مخامخ لفظي برید وکړ او ویې ویل " خلیلزاد غواړي خان پرافغانستان واک ته ورسوي اومخکې له دې یې هم دوه ځله دا هڅه کړې ..."

په مقابل کې خلیلزاد له طالبانو سره دهر ځل خبرو اترو په پای کې دښه راتلونکي خبر ورکړی او له هغوی سره له تاستو تل راضي ښکاري ، په دې وروستیوکې خو یې وویل : " حکومت له نیم کال نه په زیاته موده کې هم ونه شو کولای چې مونږ ته یو مذاکراتي ټیم را معرفي کړي او طالبانو بیا ښه باصلاحیته ټیم دېر ژر تعین کړ ..."

ورسره په څنگ کې په هیواد کې دننه او له هیواده بهر دېری سیاسي پوهانو، شنونکو او بارسوخه شخصیتونو دېرې داسې څرگندونې وکړې چې په هغه کې یې دکابل حکومت د سولې په وړاندې دخنډونو په ایجادولو تورن کړ او نږدې ټول په دې صراحت کوي چې کابل حکومت قصدا دسولې په ضد حرکتونه ترسره کوي اونه غواړي په افغانستان کې سوله رامنځته شي .

د دغه سیاسي پس منظر په رڼاکې که دغه دواړه نظامي عملیات سره پرتله شي او وکتل شي چې طالبانو خپل عملیات د معمول په خلاف چې دحکومت دعملیاتو له اعلانه به یې مخکې اعلانول° دا ځل دېر وځنډول، دغه راز یې هیڅ داسې څرگندونې او عمل نه دی ترسره کړی چې وښیي د روانو سوله ایزو هلو ځلو په مخ کې خنډ شي اود مخنیوي هڅه یې وبلل شي، نو ویلای شو چې په رښتیا هم د روانو او راتلونکو مرگونو او ناخوالو مسؤلیت دکابل حکومت پر غاړه دی او ښکاري چې هغوی د خپل اقتدار دبقا لپاره پر خپلو خلکو او خپل پرسونل هم رحم نه کوي، څومره چې کولای شي دنوي بدلون درامنځته کېدو مخه به ونیسي، خو ښکاري چې حالات به په دغه دول دوام ونه کړي او یومثبت بدلون به خامخا رامنځته کیږي، له یوې خوا امریکا نور خپلې پېښې له دې ځایه سپکول غواړي او له بل لوري دطالبانو د سیاسي پرمختگ سره هم مهاله پوځي عملیات هم ددې شاهدي ورکوي .

هفتاد سالگی ناتو؛

تاریخ، واقعیت ها و چالش ها

■ حبیبی سمنگانی

ناتو یا سازمان پیمان آتلانتیک شمالی (North Atlantic Treaty Organization) در ۴ اپریل سال جاری میلادی هفتاد ساله شد. این سازمان و همبستگی نظامی در سال ۱۹۴۹ میلادی با ائتلاف دوازده کشور غربی (امریکا، بریتانیا، فرانسه، هلند، بلژیک، لوکزامبرگ، کانادا، دانمارک، ایسلند، ایتالیا، نروژ و پرتغال) و با تلاش های هری ترومن (۳۳مین رئیس جمهور امریکا) در واشنگتن، پایتخت ایالات متحده امریکا بنیانگذاری شد. اکنون این پیمان با داشتن ۲۹ اعضا (۲۶ عضو از اروپا، ۲ عضو از امریکای شمالی و ۱ عضو از اوراسیا) ، بزرگ ترین سازمان نظامی در جهان است. چنانچه مایک پمپئو، وزیر خارجه امریکا در سخنرانی اش در مراسم ۷۰مین سالگرد تاسیس ناتو گفت که : «شش اقتصاد بزرگ و فعال جهان، عضو ناتو هستند».

سازمان ناتو در حالی پایه گذاری شد که چهار سال از پایان جنگ جهانی دوم گذشته بود، اما غربی ها از سیاست توسعه خواهی و تهاجمی اتحاد جماهیر شوروی و کمونیسم سراسیمه بودند. ایستادگی در برابر کمونیسم و مقابله با تهاجمات نظامی کمونیست ها، سبب ایجاد پیمان ناتو شد. بلاک شرق (کمونیست ها) نیز در سال ۱۹۵۵م پیمانی را بر ضد ناتو بنام «پیمان ورشو» با عضویت ۸ کشور کمونیستی و به سرکردگی شوروی پیشین ایجاد کردند. اما با شکست کمونیست و فروپاشی اتحاد جماهیر شوروی، پیمان ورشو نیز در سال ۱۹۹۱م منحل گردید.

اکنون بر علاوه از روسیه، تقریباً تمام کشورهای که اعضای پیمان ورشو بودند، به ناتو پیوسته اند. مثلا جمهوری چک (چکسلواکی پیشین)، هنگری، پولند، بلغاریا، استونیا، لاتویا، رومانیا و البانیا. نیز بعضی از کشورهای که به جنبش عدم تعهد وابسته بودند (یعنی کشورهای که نه در بلاک شرق بودند و نه در بلاک غرب) الان عضو ناتو هستند، مثلا کرواسی و مونته نگرو.

ترکیه به حیث نخستین کشور اسلامی از سال ۱۹۵۲م به این سو عضو پیمان ناتو است. البانیا به عنوان دومین کشور اسلامی در سال ۲۰۰۹م عضو پیمان ناتو شد. بوسنی و هرزگوین سومین کشور مسلمان نشین است که از سال ۲۰۱۰م به این سو برای عضویت پیمان ناتو دست و پا می زند، اما هنوز موفق نشده است. اصلا کشوری که عضو اتحادیه اروپا باشد و شرایط عضویت پیمان ناتو را قبول بکند می تواند عضو ناتو گردد. اما بوسنی و هرزگوین هنوز نتوانسته است عضویت اتحادیه اروپا را بدست آورد (قابل ذکر است که ۴۰ در صد جمعیت بوسنی و هرزگوین را مسلمان ها تشکیل می دهند).

ماده پنج پیمان ناتو، قلب این پیمان خوانده می شود. به اساس این ماده ؛ «حمله مسلحانه بر یکی از کشورهای عضو، حمله علیه همه کشورهای عضو شمرده می شود و سایر اعضا در صورت لزوم دید باید آن عضو را با نیروهای مسلح کمک کنند». امریکا پس از واقعه ۱۱ سپتمبر، با استفاده از این ماده تمام اعضای ناتو را به سوی افغانستان سوق داد، در حالیکه امریکا تا هنوز

نتوانسته است اسنادی را ارائه بکند که حملات یازده سپتمبر در افغانستان سازماندهی شده باشد و یا حد اقل یک فرد افغان دران حملات شریک بوده باشد. سپس امریکا تنها به بهانه اینکه صدام حسین سلاح های کشتار دست جمعی دارد، ناتو را شامل جنگ عراق نیز ساخت. اما بعدا ثابت شد که این بهانه نیز محض بهانه ای بود برای تباهی عراق. چنانچه تونی بلر (صدر اعظم پیشین بریتانیا و از متحدان اصلی جورج بش) در سال ۲۰۱۵م در مصاحبه با سی ان ان گفت : «خاطر اشتباهاتی که در جنگ عراق داشتم و بر اساس اطلاعات غلط تصمیم به حمله به این کشور گرفتیم معذرت خواهی می کنم»

اگر چه مقر یا دفتر مرکزی سازمان ناتو در بروکسل پایتخت بلژیک است، اما در واقعیت امریکا نقش محوری درین سازمان دارد. ظاهراً تمام اعضای سازمان ناتو در تصامیم این سازمان رای مساوی دارند و حتی کشورهای کوچکی مثل البانیه و ایسلند نیز حق ویتو دارند. اما در حقیقت، این امریکا است که مسیر ناتو را تعیین می کند و ناتو را طبق سیاست ها، پالیسی ها و استراتژی های خود به پیش می برد. به الفاظ دیگر، سائر کشورهای عضو ناتو دنباله رو امریکا هستند و از خود ابتکاری ندارند.

ناتو پس از فروپاشی و ناکامی کمونیسم، از دو دهه به این سو با استفاده از شعار «مبارزه با تروریسم» در برابر مسلمان ها و کشورهای اسلامی صف بسته است و به سرکردگی امریکا بر افغانستان و عراق یورش های مسلحانه برده است. ناتو درین دو دهه اخیر و به ویژه در مبارزه با «تروریسم» جز دنباله روی امریکا هیچ عملکرد جداگانه و مستقلانه ای از خود نشان نداده است. از همینست که مسلمان ها ناتو را به حیث «لشکر صلیبی» می شناسند.

پس ازینکه هفت دهه از ایجاد پیمان ناتو می گذرد، این سازمان حالا چین، روسیه و تروریسم (یعنی مسلمان ها) را حریفان بزرگ خود می داند. چنانچه مایک پنس، معاون رئیس جمهور آمریکا در جریان سخنرانی در مراسم هفتادمین سالروز تشکیل ناتو، چین را مهمترین چالش پیش روی ناتو در دهه آینده دانست. همچنان وزارت دفاع امریکا همواره روسیه را متهم می کند که در پی از بین بردن پیمان اتلانتیک شمالی (یعنی ناتو) است. تنش های شرق اروپا مثلا کشمش های اوکراین و الحاق جزیره کریمه به روسیه، بیانگر اینست که ناتو و روسیه رسما با هم دست و گریبان اند. هر چه موضوع «تروریسم» یعنی سرکوبی اسلام و مسلمان ها هنوز هم در صدر برنامه های ناتو قرار دارد.

ناتو دو گونه مصارف مالی دارد، مستقیم و غیر مستقیم. مصارف مستقیم آن هم دو بخش دارد، ملکی و نظامی. مصارف مستقیم ناتو در سال جاری میلادی ۱٫۶۵ ملیارد دالر تصویب شده است (۲۵۰ ملیون دالر در بخش ملکی و ۱۴۰۰ ملیون دالر در بخش نظامی) . امریکا ۲۲ در صد مصارف مستقیم این سازمان را می پردازد.

مصارف غیر مستقیم ناتو در سال ۲۰۱۸م یک تریلیون دالر (هزار ملیارد دالر) بود. مصارف غیر مستقیم ناتو عبارتست از هزینه های نظامی (بودجه های دفاعی) کشورهای عضو ناتو. اصلا ناتو جز طیارات کشفی دیگر هیچگونه سلاح و تجهیزات نظامی از خود ندارد. بلکه اعضای ناتو عند الضرورت مکلف هستند که کشتی ها و طیاره های جنگی، میزایل و حدود ۳ ملیون نظامیان خود را در اختیار این سازمان بگذارند. لهذا هزینه های نظامی کشورهای عضو ناتو در حقیقت مصارف غیر مسقیم ناتو به حساب می رود.

اعضای ناتو در سال ۲۰۱۴م به توافق رسیده بودند که تا سال ۲۰۲۴م باید هر عضو ناتو مصارف نظامی خود را حد اقل به ۲ در صد تولید ناخالص داخلی خود برساند یعنی بودجه نظامی هیچ عضو ناتو باید کمتر از دو در صد تولید ناخالص داخلی آن نباشد، قابل ذکر است که امریکا تقریباً چهار در صد تولید ناخالص داخلی خود را در بخش نظامی هزینه می کند و از میان یک تریلیون دالر (که مجموع مصارف غیر مستقیم ناتو در یکسال می شود) حدود ۷ صد ملیارد دالر آن را تنها امریکا هزینه می کند.

از همینست که دونالد ترامپ در کمپاین های انتخاباتی و سال های ریاست جمهوری اش همواره ناتو و

کشورهای عضو این پیمان را آماج نقدهای تند قرار داده است. ترامپ می گوید که ۸۰ الی ۹۰ در صد مصارف ناتو را امریکا به تنهایی هزینه می کند، در حالیکه (به باور ترامپ) سود بیشتر از ناتو را اروپا می برد، گویا ناتو است که اروپا از دست روسیه آرام است. ترامپ از آلمان نام برد که تنها یک در صد تولید ناخالص داخلی خود را در بخش نظامی خرج می کند.

آمار های رسمی سال ۲۰۱۷م نشان می دهد که تنها ایالات متحده، بریتانیا، استونی، یونان، پولند و رومانیا شش کشوری هستند که دو یا بیش از دو در صد تولید ناخالص داخلی خود را در عرصه نظامی صرف می کنند. اما اعضای بزرگ این سازمان همچون آلمان، فرانسه، ایتالیا، هسپانیا، کانادا و ترکیه هنوز به این هدف نرسیده اند و شاید اراده هم ندارند که برسند (مثلا آلمان تصمیم دارد که بودجه دفاعی خود را تا سال ۲۰۲۳م به ۱،۲۳ در صد رشد بدهد، یعنی بسیار پایین تر از دو در صد). این مشارکت ضعیف مالی آلمان و دیگر کشورهای اروپایی برای ترامپ قابل تحمل نیست و سبب مشاجره میان اروپایی ها و دولت کنونی امریکا شده است.

اگر چه استولتنبرگ (منشی عمومی ناتو) در مراسم ۷۰مین سالروز تاسیس این سازمان، ناتو را «دیرپا ترین بلکه موفق ترین ائتلاف در تاریخ» خواند و این دعوای او شاید چندان دور از واقعیت هم نباشد. اما واقعیت دیگری اینست که امروز ناتو چالش های زیادی بر سر راه دارد. مثلا :

این اعتراض از سه دهه به این سو مطرح می شود که پس از شکست کمونیسم و فروپاشی شوروی، دلیلی برای ابقای این سازمان نمانده است. از همینست که بعضی کشورهای اروپایی که در عین حال عضو ناتو هم هستند اکنون چندان اهمیتی به این سازمان نمی دهند.

دوم اینکه سیاست و حوائج کشورها با گذشت زمان تغییر می خورد، مثلا ترکیه در حالیکه عضو ناتو است قرارداد خرید موشک های ضد هوایی «اس ۴۰۰» را با روسیه امضا کرده است و این سببِ تنش میان امریکا و ترکیه شده است. همچنان تمام اعضای ناتو نمی توانند برای منافع امریکا و بعضی کشورهای دیگر در برابر چین که دومین اقتصاد بزرگ جهان است موقف بگیرند.

سوم اینکه اصرار و پافشاری امریکا بر اعضای ناتو برای افزودن بودجه نظامی شان، در حالیکه هر یکی ازین کشورها از خود مشکلات و ترجیحات مختلف اقتصادی دارند، اعضای ناتو را در دوراهی قرار داده است. از همینست که بعضی کشورهای اروپایی هشدارها و اخطارهای دونالد ترامپ را نادیده گرفته، خشم ترامپ را بیشتر ساخته اند.

ناتو با چالش های دیگری نیز رو برو است که دامنه، کوتاه مقاله، اجازه تفصیل آن را نمی دهد. البته ؛ نکته، مهم تر و واقعیتی بالاتر از همه واقعیت ها اینست که شکست امریکا و ناتو در افغانستان استعداد و توانایی این سازمان را به شدت خدشه دار ساخته است. مقاومت تاریخی افغان ها در برابر این سازمان غول پیکر سبب شد که روسیه نیز جرات ایستادگی در برابر این سازمان بکند. حالا اعضای ناتو به این فکر هستند که با همه توانایی که به خرج دادند نتوانستند در یک کشور تهیدست همچون افغانستان به پیروزی نهایی برسند. در حالی که آن ها همکاری های چندین کشورهای متحد ناتو را نیز در افغانستان با خود داشتند.

حاصل اینکه کشمکش های اروپا و امریکا، نیرو و نفوذ روز افزون روسیه و چین و شکست ننگین در افغانستان و عراق، سوال های زیادی را در مورد آینده و سرنوشت ناتو پیدا کرده است.

ددښمن له جنګي بندیانو سره

د طالبانو انساني او اسلامي سلوك به

د هغوی وجاهت نور هم زیات کړي!

رحیمي

بادغیس دهیواد په شمال لویدیځ کې دهغه پروت ولایت نوم دی کوم چې د[مرغاب] او [هریرو] سیندونو ترمنځ موقعیت لري ، بادغیس معنی ده (بادخیز) ځنګه چې هلته بادونه او هوا ګانې ډیرې لګیږي ،نو یوخت داسیمه په بادخیزبلل کیده ، بیا کرار کرار د خلکو تلفظ د [بادخیز] نه بادغیس جوړکړ.

دباغیس ولایت دمرکز نوم [قلعه نو] دی او په غرب کې پولې یې دهرات ولایت سره، شمال کې ګاوندي هیواد ترکمنستان سره،په شرق کې فاریاب ولایت سره اوجنوب کې دغورولایت سره نښتي دي، ټول ۲۰۵۹۱ کیلومتر مساحت لري او ۶ ولسوالۍ لري دنفوسو شمیرېې په دې ډیر ندی چې اوبه کمې لري او دخلکو ۵۶سلنه یې تاجکان، ۴۰سلنه پښتانه او ۴سلنه ازبک، ترکمن او بلوڅان دي

دبالامرغاب په نوم ولسوالۍ یې له دې پلوه ستراتیژک اهمیت لري چې دګاوندي هیواد ترکمنستان په پوله پرته ده، دتیرو څو اوونیو راهیسې یاد ولایت او ولسوالۍ دتودوجګړو دګرو ، طالبانو دتهاجمي بریدونو په نتیجه کې بالامرغاب ونیو چې له امله یې دکابل رژیم مربوط لوی شمیر عسکر ترکمنستان ته وتښتیدل او پاته دطالبانو لخوا اسیران کړای شول

داپریل په نیمائي کې طالبانو یوه ویډیو خپره کړه چې یو طالب مشر۔ پکې ښکاري دبالامرغاب په نیولو شویو ۱۲۸اسیرانو یې پیسې ویشي۔ او یوبل طالب وایي: داهغه بندیان دي چې دباغیس ولایت دبالامرغاب ولسوالۍ په جنګ کې مجا هدینو ژوندي نیولي وو او اوس داسلامي امارت مشرانو لخوا ورته د ښښې وروسته کرایه او سفریه ورکول کېږي اوخپلو کورونو ته لیږل کېږي

رسنیو کې دا ویډیو زرګونه کسانو لخوا وکتل شوه او هغوی دطالبانو دغه اسلامي او انساني ګام وستایه او دهغوی مشرتابه لپاره د دعاګانو اونیکو هیلو ترڅنګ یې ورته ته دخلوص پیرزوینې وړاندې کړې

دطالبانو دا مهرباني ، عاطفه او رحم دومره لوی دی چې په اوسني او نیږدې تاریخ کې بل څوک دهغه مثال نشي وړاندې کولی هغه امریکا او اروپا چې په ټوله نړۍ کې دحقوق بشر ډنډوره غږوي په دې اړه یې عمل او کردار دومره

ناولي او پليت دی چې نن هم په ګونتانامو ، ابوغريب او بګرام کې دوحشت يادګارونه يې تازه دي چې په څومره وحشت او ظلم سره يې په مظلومو بنديانو دظلمونو او ستمونو درانه غرونه نړولي.

خو ددي باوجود طالبان دومره معتدل او دنرمو زړونو څښتنان دي پخپل ولس او خلکو مهربان دي ډلې ډلې داردو او پوليسو هغه عسکر چې دامريکا دملاتړ او بري لپاره جنګ کوي ونيسي او بيا پرته دکوم تعذيب او سزاڅخه يې نه يواځې خوشې کړي بلکې دلارې سفريه او کرايه ورته هم په جيبونو کې کيږدي سره ددينه چې طالبان پخپله دسختو اقتصادي ستونزو او مشکلاتو سره مخ دي خوبيا هم خپل اسلامي او افغاني مسؤليتونو ته متوجه دي دخپل دښمن دجنګي اسيرانو دسفري او کرايې لپاره هم پيسې پيدا کوي او هغوی په خوشالۍ سره خپلو کورونو ته استوي

راځئ! په څلور کونجه نړۍ به نظر واچوو او معلومه به کړو چې ايا په پراخه نړۍ کې دومره مهربان او زړه سواند جنګيالي چې طالبان دي بل څوک شته؟

يقيناً نشته اوکه کوم خلک دا دعوه نه مني هغوی دي چراغ واخلي په ټوله نړۍ کې دي دطالبانو پشان مهربان، معتدل او دعاطفې نه برخمن جنګيالي پيدا کړي ! يقيناً به په لاس ورنشي دازکه طالبان هغه پوځي ځواک دی چې ګام په ګام داسلام دمبين دين په ارشاداتو او لارښوونو دعمل کولو کوښښ کوي هغوی دمهربانۍ، زړه سواندۍ او عاطفې الهام دخپل مقدس دين (اسلامه) اخستی کوم دين چې دجنګ او وينو په ډکو ويالو کې هم داخلاقياتو رعايتولو حکم کوي کوم دين چې مسلمانان مجاهدين په دې ماموركړي چې دجنګ په دوران کې به اسلامي اخلاق او اصول ګام په ګام رعايتوي.

که دنړۍ په تاريخ نظر ځغلوو کړو نو وينو نړۍ کې چې څومره زبرځواک قومونه او لوی حکومتونه تيرشوي دي،د خپلو دښمنانو دجنګي بنديانو سره دهغوی رويه ډيره زړه بوږنوونکې او وحشيانه وه، هميش هغوی دخپل دښمن جنګي اسيرانو سره بې رحمانه برخورد کړی دی او ورته ډول ډول وحشيانه تعذيبونه او سزاګانې يې ورکړي دي، داوسنۍ امريکا او اروپا نن اوپرون دواړه دجنګي اسيرانو سره دوحشتو او ظلمونو څخه عبارت دی دامريکا او غربيانو ننۍ رويې ته په کتو سره به يومنصف انسان هم داتسليم نکړي چې ګواکي د امريکا او اروپا په قاموس کې بشريت ته داحترام او درناوي درس مندل کيږي، په موجوده نړۍ کې يې تازه اوژوندي مثالونه ګونتانامو ابوغريب او بګرام زندانونه دي چېرته چې امريکا دمظلومو مسلمانانو بنديانو سره دبشري تاريخ ترټولو ناوړه رويه او سلوک کوي

لله الحمد! چې طالبان داسلام دمبارک دين احکامو ته پوره ژمن او وفادار دي هغوی ته دامعلومه ده چې اسلام داسيرانو سره دحسنه اخلاقو، عاطفې او مهربانۍ حکم کړی په جنګ بدرکې کله چې دقريشو ۷۲ جنګيالي دمسلمانانو په لاس اسيران شول،مدينه منوره کې صحابه وو درسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په حکم دهغوی کوم خدمتونه او ميلمه پالنه وکړه هغه په ټول بشري تاريخ کې ساري نلري لکه يوڅوک چې دخپل ګران ميلمه قدر او احترام کوي، دخپلو اولادونو څخه يې هم زيات دهغوی مدارت وکړ،دبدر په اسيرانو کې يواځې دوه تنه (عقبه ابن معيط او نضربن حارث چې دهغوی دواړه د نه بښونکو جرمونو په وجه) قتل کړای شول نور ټول ۷۰تنه دفديې په عوض کې ازاد کړای شول، دجنګ بدر وروسته په بني مصطلق غزاکې مسلمانانو ته ترسلو زيات نارينه او ښځينه بنديانو په توګه لاس ته ورغلل خو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغوی ټول پرته دکوم شرط او عوض نه ازاد کړل هم دا راز په حنين کې دشپږزره نه زيات نارينه او ښځينه

قیدیان رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دکوم عوض او شرط نه پرته زاد کړل حتی د ځینو بندیانو دازادولو لپاره معاوضې یې هم پخپله اداء کړې او ځینو، ځینو بندیانوته یې ډالۍ او انعامونه هم ورکړل او ازاد یې کړل،ددینه ددښمن بندیانو سره دښه سلوک او احسان په اړه مجتهدینواحکام استنباط کړي چې ددښمن بندیانو سره داسلامي لښکر او مجاهدینو لخوا څنګه سلوک او رویه کړای شي چې تفصیلات یې دفقهې په کتابونو کې شته

وروسته درسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دهمدې لارښوونو نتجیه وه چې دراشدینو خلفاوو په دورکې کله چې دعراق، مصر، شام ایران او خراسان پشان لوی لوی ښارونه اومتمدن ملکونه فتح شول په هیڅ یوښار، یا ملک کې په یوجنګ یا حمله کې هم چا دغلام یا وینز ه ګرځولو ذکر نه مندل کېږي او حتی دمغلوب دښمن څخه دجنګ دتاوان ذکر هم نه مندل کېږي (رحمة للعالمین (۱-۲۱۲مخ)

نو دشریعت داحکامو په رڼا کې داخبره روښانه اوښکاره ده چې داسلام دجنګ قانون په نړۍ کې دامن، عافیت او سلامتیا ضامن دی بلکې اسلام راغلی ددې لپاره دی چې مظلومو انسانانو ته دظالمانو دمنګلو څخه نجات ورکړي له نیکه مرغه چې دطالبانو قیادت داسلام ددغه اړخ په ځلولو کې په کراتو مراتو دخپل دښمن جنګي اسیران ښنلي او هغوی یې په ډیر دناوي او احترام سره خپلو کورنیو ته رخصت کړي

هغه خلک چې دپردیو مزدوران او غلامان ندي او په هیواد او اسلام مین دي هغوی دطالبانو دغه ګام ستایي او ورته دخلوص نه ډکې پیرزوینې وراندې کوي زکه داکار په ولس کې دطالبانو مقبولیت او وجاهت ته نور هم ګټه رسوي او هم نړیوالو ته داسلام او مسلمانانو اصلي شکل وړاندې کوي، چې مسلمانان د دومره لوېې عاطفې خاوندان دي چې ان دجنګ او وینو په ډکو ویالو کې هم اخلاقیات په کلکه توګه رعایتوي او خپل پیروان او مجاهدین یې په دې مامور کړي دي چې هغوی به دجنګ په ګرم ډګر کې اسلامي اخلاق نه پایمالوي، ددښمن اسیران به نه وژني، اودهغوی مړي به نه مثله کوي باغونه او کښتونه به نه سیزي، ماشومان، میرمنې، سپین ږیري او هغه خلک چې دوی سره ددښمن له اړخه په جنګ کې ګډون ونلري نه وژني، بناً دطالبانو مشران باید نورهم متوجه اووسي او مجاهدین وخت په وخت وهڅوي چې په جهاد کې خپلسرۍ او بې اطاعتي ونکړي دحقوق العباد رعایتولو ته پوره ژمن او پام ولري

او دا دلیل چې دکابل رژیم په زندانو کې زموږ په زرګونه اسیران پراته دي اوهغوی وربانډې ظلمونه او ستمونه کوي موږ بیا ولې دهغوی په عسکرو دومره مهربان او ښه چلند ورسره کوو؟ پرځای ندی زکه امریکا دشک پرته یو وحشي ځواک دی چې دنړۍ هیڅ قانون که هغه اسماني دی که وضعي ورته احترام نلري په ورته توګه دهغې نوکر رژیم هم کوم قانون او اصل ته درناوی نلري، طبعاً دهغوی رویه به زموږ دمجاهدینو سره ظالمانه وي خوموږ دظلم غچ په ظلم سره نشو اخستلی موږ په ماموریو چې دالله دقانون او شریعت څنګه احکام وي دهغو سره سم چلند غوره کړو په همدې کې زموږ بری دی او د دنیا و اخرت کامیابي او سرخرویي هم..

امریکا را کی ها شکست دادند؟

بوستان گلستان

گرچه این قضیه، مانند آفتاب آشکارا و هویداست و هر کسی که ذره ای عقل، تمییز و انصاف داشته باشد و عقل، قلب و وجدانش اندکی خالی از تعصبات زهرآگین باشد، حتما درک می کند که این طالبان هستند که با یاری الله متعال و با پیش گرفتن راه جهاد و مبارزه و دادن قربانی های بی دریغ توانستند پوز اشغالگران صلیبی و مزدوران شان را به خاک بمالند و آن ها را شکست داده و مجبور به فرار کنند. الله قهار و جبار که بر همه چیز تسلط و قدرت دارد، با همین طالبانی که از نگاه مادیات و تجهیزات نظامی، در مقایسه با امریکا و همپیمانان و مزدورانش بسیار ضعیف و ناتوان بودند، جبروت و فرعونیت امریکا را شکست.

بیاییم لحظه ای با خود فکر کنیم، آیا می شود گروه دیگری غیر از طالبان را عامل شکست امریکایی ها دانست؟

آیا می توانیم بپذیریم آنهای که در صف امریکا قرار گرفته و دو شادوش آنها به زور طیاره های بی۵۲، میزایل های کروز، طیاره های بی پیلوت و تانک های غولپیکر امریکایی و همراهی لشکرهای صلیبی، کابل و شهرهای مهم کشور (بلخ، قندهار، ننگرهار، هرات و.....) را تصرف کردند...؟! آن های که در نشست بُن، رسماً فروش افغانستان را به صلیبیان امضا کردند و دست نشانده اشغالگران، یعنی حامد کرزی را به حیث رئیس جمهور کشور پذیرفتند. آن های که تا هنوز با کمال اخلاص، در پهلوی اشغالگران صلیبی قرار دارند و با آنها یکجا علیه ملت مسلمان و مجاهد افغانستان می جنگند و شب و روزشان برای محافظت از پایگاه های صلیبیان می گذرد. آن های که شب و روز به دم دِر امریکا به سجده افتاده و عذر و زاری می کنند که افغانستان را ترک نگویند و آن ها را تنها نگذارند، زیرا دارایی که به چور و چپاول، دزدی و فساد بدست آورده اند (و نامش را دستآوردهای ۱۸ ساله نامیده اند)، همه از دست شان می رود.

یا مگر می توان گفت که امریکا را آنهای شکست دادند که با آمدن اشغالگران صلیبی، از غرب به افغانستان آمده و به خدمت اشغالگران صلیبی مشغول شدند، و هر کدام شان از برکت آقایان صلیبی شان، صاحب ملیون ها دالر و مقام و منصب اعلای دولتی شدند و از هیچ گونه خدمتی در راه تحقق بخشیدن آرمان های باداران صلیبی شان دریغ نورزیدند ؟!!

یا آن های که با تایید و امضا کردن پیمان ننگین امنیتی، کشور را بار دیگر رسماً و با کمال افتخار به امریکایی ها فروختند، و تاهنوز با پررویی و وقاحت از این جنایت خود دفاع می کنند.

پس آیا امریکا را آن گروه دیگری که همیشه با شعارهای هوایی و خالی بدون عمل، می خواهند خلافت خیالی خود را تأسیس کنند، وادار به شکست کرد، و آنها را مجبور ساخته که افغانستان را ترک گویند؟! نه، هرگز نه، چون امریکا از سخنان بی عمل و شعارهای خالی هیچ ترسی ندارد، بلکه برای این گروه و امثالش اجازه داده است که در تمامی ایالت های امریکا، مقر باز کنند و آنجا خلافت قایم سازند و امریکا یکی از ولایت های خلافت خیالی این هاست.

آیا گروهک داعش را میتوان عامل شکست امریکا، و فرار شان از افغانستان دانست؟! نه، هرگز نه، زیرا این گروه مفسد، از روزی که قدم منحوس خود را به خاک افغانستان گذاشته، جز جنگ با مجاهدین و کشتار بی گناهان دیگر کاری نکرده است. جنایت هایش در حق مسلمانان، در ننگرهار، جوزجان، کنر و غیره از هیچ کسی پوشیده نیست و بارها ثابت شده که صلیبیان و مزدوران شان آن ها را تمویل و تسلیح و اکمال کرده، در حمایت آنها شتافته و آنها را نجات داده اند. قضیه درزاب جوزجان "لیس عنا ببعید".

و همینطور بقیه گروه های موجود در افغانستان، هیچ کدام را نمی توان عامل شکست امریکایی ها در افغانستان دانست.

البته، احتمال ضعیفی وجود دارد که سران اداره فاسد و مفسد کابل را عامل شکست امریکایی ها دانست !!! زیرا این ها با دزدی، اختلاس، چور و چپاول و........ فغان باداران امریکایی خود را کشیده اند. مسئولان امریکایی بارها از «بی کفایتی و نا اهلی» ایشان شکایت کرده اند.

اما باز هم نمی توان ایشان را عامل اصلی شکست امریکا و فرار آن از افغانستان دانست، زیرا خود جنرالان صلیبی هم مانند سران اداره کابل، فاسد و مفسد و شریک جرم هستند، و هر دو از هم فرقی ندارند. بلکه مقامات اداره مزدور کابل، تمام جنایات را پیش روی باداران صلیبی شان و زیر چتر آن ها انجام می دهند.

اینجاست که می توان دوباره با قاطعیت تاکید نمود که عامل شکست امریکایی ها در افغانستان - با یاری و مدد الله متعال – تنها و تنها مجاهدین امارت اسلامی هستند. زیرا :

۱ : امریکایی ها، افغانستان را با زور اشغال کردند و جز با زور با دیگر هیچ چیزی شکست نمی خورند و از کشورمان خارج نخواهند شد. و این در صورتی تحقق می یابد که نظامیان شان که با هزاران خون جگر و هزینه ملیون ها دالر تربیه شده اند، در افغانستان کشته شوند. هر اندازه تلفات جانی شان بیشتر شود همانقدر شکست آنها قریب تر و فرار شان سریع تر میگردد. طالبان این واقعیت را درک کردند و از روز اول اشغال، همین راه را در پیش گرفتند و الحمدلله کشته و زخمی های صلیبیان، به ده ها هزار نفر می رسد؛ بر اساس اعتراف ویب سایت امریکایی بنام (icasualtie.org) که تلفات جنگ به رهبری امریکا در افغانستان و عراق را گزارش می دهد، شمار قربانیان نظامی اشغالگران خارجی در افغانستان را از آغاز تا امروز ثبت کرده است، تا هنوز بیش از سه هزار و پنجصد نفر شان در افغانستان کشته شده اند، و بیش از ۳۰ هزار نفر دیگر شان شدیدا زخمی شده اند. آمار منتشر شده در این وب سایت نشان می دهد که بیشترین شمار کشته شدگان نیروهای اشغالگر خارجی در هلمند، زابل، کندهار، ارزگان، غزنی، میدان وردک و غیره ولایاتی بوده است که پایگاه های طالبان محسوب می گردد. (البته تعداد کشته‌شدگان اشغالگران در واقعیت به مراتب بیشتر از آنست که این ویب سایت به آن اعتراف کرده است) .

۲ : مصارف هنگفت جنگ افغانستان نیز از اسباب عمده شکست امریکا درین کشور است. بر اساس اعتراف پنتاگون : «جنگ افغانستان بر علیه طالبان برای امریکا سالانه ۴۵ میلیارد دالر هزینه دارد». این نشان می دهد که جنگ امریکا بر علیه طالبان، بار گران بر کمر اقتصاد امریکا تمام می شود. و همانطوری که معلوم است که این هزینه بیشتر در میدان نبرد صورت می گیرد،

معلوم است که اگر گروهی مثل طالبان در افغانستان نمی بود که بر علیه امریکایی ها می جنگید، حتما میزان هزینه و مصارف امریکایی ها بسیار کاهش می یافت.

۳ : جنگ و مقاومت طولانی طالبان سبب دیگری شکست امریکایی ها در افغانستان است. این طولانی ترین جنگ تاریخ امریکا، سران و مقامات امریکایی و نیروهای آن کشور را به شدت خسته ساخت و آن ها مورال خود را از دست دادند. اما بالمقابل، طالبان به جای اینکه از این جنگ طولانی بر علیه صلیبیان و مزدوران شان خسته شوند و مورال بیازنز، با گذشت هر روز قوی تر شدند و معنویات و مورال شان فزون تر گشت.

۴ : قربانی های تاریخی و بی دریغ طالبان را نیز هرگز نمی توان نادیده گرفت. همانطوری که شیخ عبد الله عزام رحمه الله همیشه میگفت : «کسانی که گمان میکنند دین خدا بدون خون ها و شهدا و زخمی ها و... پیروز می گردد، یقینا در وهم و خیال قرار دارند».

اگر نگاه کنیم، گروهی که قربانی های بی دریغی را در جهاد علیه اشغالگران صلیبی تقدیم کرد، امارت اسلامی افغانستان است. طالبان در جنگ بر علیه امریکا و مزدوران شان، هزاران نفر خود را قربانی دادند. قربانیان طالبان شامل صدها و هزارها فرماندهان دسته اول، دوم و سوم آن ها هستند - حتی امیرالمؤمنین ملا اختر محمد منصور رحمه الله نیز در حمله هوایی امریکایی ها جام شهادت را نوش جان کرد - . زندان های بگرام، قندهار و پلچرخی و زندان های مخفی شبکه های استخباراتی اداره کابل پر از زندانیان مظلوم طالبان و افغان های بی گناه هستند.

بناءً طالبان هستند که به یاری و مدد الله متعال و همکاری و پشتیبانی ملت مسلمان و مجاهد افغانستان، صلیبیان امریکایی و همپیمانان و مزدوران شان را شکست فاش دادند و آن ها را وادار به فرار کردند، و صرف همین مجاهدین امارت اسلامی مستحق لقب قهرمانی هستند که از قلب ملت مسلمان و مجاهد خود قدعلم نموده و بخاطر پاسداری از دین، میهن و عزت و شرف ملت خود جهاد و مبارزه کردند و می کنند.صرف همین ها هستند که تاریخ به عنوان شکست دهنده گان امریکای طاغوت و دیگر صلیبیان یاد خواهد کرد و و نسل های بعدی مسلمانان، جهاد و فداکاری این قهرمانان را به یاد خواهند داشت و ممنون شان خواهند بود.

د دوحې غونډه

دسولې اعظمي فرصت!!

له کلونو دسولې دربنتیا او دروغو نارې وې، ډېر سولې ته تږي وو او ډېرو بیا دخلکو دغلطولو لپاره دسولې کاذبې نارې وهلې تردې چې په دې نامه یې لوی تشکیلات او ستر منصبونه هم رامنځته وو.

خو دنن امیدونه حقیقي دي، ځکه طالب په داسې حال کې افغانان په ځان راټولوي چې فاتح دی، اوله ممبره یې دسولې غږ شفقت او لورینه ده، پرون که طالب ته دسولې نارې وهل کېدې په دې امید چې په یو ډول په دام کې راگیر کړای شي اوپه دې نارو عام ذهنیت بدلول هدف و .

مگر نن د دوحې دغونډې چانس ځکه مهم دی چې نور دطالب په مخ کې هر نظامي ځواک اوقوت مات دی، نو مجبور نه دی چې د کوم فشار په نتیجه کې دې د داسې اجماع د رابللو هو ډ وکړي، بلکې په رښتیا چې دا غږ دشفقت او لورینې غږ دی.

په هیواد کې دتېرو ترخو تجربو غوښتنه خو داده چې غالب جهت هیڅکله خبرو اومذاکراتو ته تیار نه شي او طالب هم باید چې په نظامي حل ټینگار کړی وای، ځکه نور هدف ته رسیدونکی دی ، خو اوس چې دتل لپاره په هیواد کې دجنگ جگړو دختمولو مصلحت په بین الافغاني تفاهم کې دی ، نو ټولو سیاسیونو، مخکښنو څېرو، جهادي شخصیتونو او هر با اثره اورسوخ لرونکو افغانانو ته په کار ده چې د دوحې له بین الافغاني ناستې نه اعظمي گټه پورته کړي اوپه دې لارکې له خپل ټول رسوخ او توان څخه کار واخلي، خپل ایماني او وطني مسؤلیت ترسره کړي اوپه ډېر متانت دخنډونو په له منځه وړلو کې دقربانۍ ترحده مبارزه وکړي .

ځکه دسولې دغه فرصت دنورو په پرتله ډېر متفاوت لاملونه لري :

په هیواد کې دقوت او واک دساحې د پراختیا په اساس واکمن جهت د سولې داجماع کوربه توب کوي.

دسولې دعملي کېدو تضمین ممکن دی .

دنړیوالو اخلاص یا مجبورت یو بل لامل دی چې مخکې ډېر یقیني نه و .

په روانه جهادي دوره کې مقاومت بېلابېلې ډلې نه ! بلکې یو صف او یوه قومانده ده .

پر دوته وفادارې ډلې اوس دپردو په غدر او بې وفایۍ پوه شوي دي

او ....

دغه راز بېلابېل لاملونه او اسباب دي چې ددغې ناستې ارزښت او مؤثريت په ګوته کوي همدا لامل دی چې داخل د هرافغان مسؤليت د قضيې په اړه درنوي، ديوه افغان اوراتلونکي با امنه ښېرازه افغانستان د سرنوشت ټاکونکي په حيث بايد په ناسته کې نور ټول لحاظونه او نسبتونه حذف کړي، يواځې او يواځې دهمدغسې يوه با امنه، ښېرازه او اسلامي هيواد دتحقق په غرض دخپلې رائيې اظهار او مسؤليت ترسره کړي، که څه هم داسې څوک وي چې تردې غونډې دې په پردي نسبت او غرض رارسيدلی وي!.

يوه خبره چې يادونه يې ضروري ده: داچې په دې کې خو هيڅ شک نه شته چې په قضيه کې ډېر مؤثر لوری طالبان دي او دقضيې دحل غوټه تقريباً دهغوی په لاس کې ده، نو د دې لپاره چې دا طلايي چانس مو بياله ګوتو وتلی نه وي د ډېرو هغو مسائلو سر دې له طالبانو سره ونه نيول شي چې زمونږ له ټولنې، عنعناتو اسلامي ارزښتونو سره په ټکر کې نه وي .

مونږ هغه فرعي مسائل څه کوو چې په هيواد کې مو دوينې دتويېدا مخه نه نيسي، خو مونږ دې پرې ټينګ يو اوله دې پرته چې له اصلي موضوع نه پرې له بحثه وو څو بله به هيڅ ګټه پرې مرتب نه وي.

داچې طالب اوس دخپلې مبارزې او جګړې په مخ کې هيڅ داسې قوت او ځواک نه ويني چې خبرو او مذاكراتو ته يې مجبور کړي، بلکې هغه په خپله ديوه مثبت اوبا امنه راتلونکي لپاره دغسې مثبتې هڅې ترسره کوي، په کار ده چې تر ډېره يې خبره مطرح او طرف درونـد وي ، يو څوداچې راتلونکی پاک هدف مو ترلاسه شي اوبله دا چې په دې کې دې هم څوک شک نه کوي چې طالب په دې لار اودخپلواکۍ په ګټلوکې بې دريغه قرباني ورکړې، نه بايدچې دغه قرباني له پامه وغورځول شي .

که څه هم دقطر دغه ناسته له مخالفو جهتونو سره د مذاكراتو او سياسي جوړجاړي لپاره نه ده، خو لکه څنګه چې دبين الافغاني تفاهم ترنامه لاندې دايرېږي، همداسې دافغانانو راتلونکي ور پورې تړلې او ديوې سرنوشت ټاکونکې اجماع لپاره چې د راتلونکي نظام ډانچه به تياروي، ترټولو اعظمي فرصت دی .



د اشغالګرو د جرائمو په وړاندې مظاهرې او لاريونونه

فاتح افغان

له څه مودې راهيسې د دښمن وحشت له پولو اوښتی، په بې دفاع ملکي وګړو باندې يې ظلم اوج ته رسيدلی، - د اسلامي مقدساتو توهين، نواميسو ته په سپکه کتل، د کورونو نړول، د ماشومانو، تورسريو او بې دفاع ولسي وګړو بېدريغه وژل - هغه جرائم او جنايتونه دي چې تقريبا هره ورځ د هيواد له ګوټ ګوټ څخه يې موږ د ييښيدو خبرونه اورو.

د دې ټولو ظلمونو ميچن په افغان مسلمان ولس چليږي، خو په دې زړه بوږنوونکو جنايتونو او جنګي جرائمو د نړيوالو سکوت او چوپتيا دښمن ته دا جرات ورکړی چې په ډيره بې باکی مکررا خپل جرائم ترسره کړي، متاسفانه په ټولو نړۍ کې دومره څوک نشته چې د اشغالګرو امريکايانو د ښکاره او سترو جنګي جنايتونو تشه غندنه وکړي.

دا چې موږ تاسې مسلمانان يو او افغانان يو، بايد موږ تاسې نه د حاقدو صليبيانو رحم ته په تمه کښينو، نه د کفر له حلقه بګوشو غلامانو څخه د خير تمه ولرو، او نه د تش په نامه نړيوالو انساني سازمانونو انصاف ته انتظار وباسو، موږ تاسې بايد له دغه مشکل څخه د ځان ايستلو لپاره خپله لاس په کار شو.

مسلمانان د ظلم په وړاندې نه لاس تر زنې کښيني، او نه يوازې په اوښکو تويولو بسنه کوي، د الله جل جلاله د نيکو بنده ګانو يو صفت دا دی چې کله وړاندې د کفارو له لوري ظلم وشي غبرګ اخلي، {وَالَّذِينَ إِذَا أَصَابَهُمُ الْبَغْيُ هُمْ يَنتَصِرُونَ }الشورى٣٩ د الله مؤمن بندګان هغه دي چې کله وړاندې ظلم وشي هغوی غبرګ اخلي.

د اشغالګرو او دهغوی د غلامانو د ظلم په وړاندې تر ټولو مناسبه لاره د هغوی په وړاندې مسلح جهاد دی، دا هغه لاره ده چې الله رب العالمين د مکې د مشرکانو د ظلم وړاندې خپل رسول الله صلی الله عليه وسلم او د هغه اصحابو رضي الله عنهم ته په ګوته کړې ، قال الله تعالى: {أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَاتَلُونَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا وَإِنَّ اللَّهَ عَلَى نَصْرِهِمْ لَقَدِيرٌ }الحج٣٩

هيڅ يو مسلمان افغان بايد دا فکر ونه کړي چې زه په ښار کې دننه اوسم، زما سر په امن ده، په کليو او اطرافو کې که چاپې غورځي، کورونو نړيږي، خلک وژل کيږي هيڅ پروا نشته.

مسلمانان يو تن او يو وجود دی د مسلمان ورور يو حق دا دی چې ظالم ته به يې نه ورپريږدي چې ظلم وړباندې وکړي بلکه تر خپله وسه به ورڅخه دفاع کوي او له ظلم څخه په وتلو کې به کومک ورسره کوي.

عن ابن عمر رضي الله عنهما أَنَّ رَسُولَ الله - صلى الله عليه وسلم - قَالَ : « المُسْلِمُ أَخُو المُسْلِمِ ، لا يَظْلِمُهُ ، وَلا يُسْلِمُهُ . مَنْ كَانَ فِي حَاجَةِ أَخِيهِ ، كَانَ اللهُ فِي حَاجَتِهِ، وَمَنْ فَرَّجَ عَنْ مُسْلِمٍ كُرْبَةً ، فَرَّجَ اللهُ عَنْهُ بِهَا كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ يَوْمِ القِيَامَةِ ، وَمَنْ سَتَرَ مُسْلِماً سَتَرَهُ اللهُ يَوْمَ القِيَامَةِ » . مُتَّفَقٌ عَلَيهِ .

له حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: مسلمان د مسلمان ورور دی نه به ظلم وړباندې کوي، او نه به يې چا ته پريږدي چې ظلم پرې وکړي (بلکه مرسته به يې کوي او دفاع به ترې کوي) او څوک چې دمسلمان ورور د حاجت پوره کولو هڅه کوي الله تعالى به دهغه حوائج پوره کړي، او څوک چې له يو مسلمان څخه غم لېرې کړي الله جل جلاله به يې په مقابل کې د قيامت له سختيو يوه سختی له ده څخه ليرې کړي، او څوک چې په يو مسلمان پرده واچوي الله جل جلاله به يې د قيامت په ورځ دهغه په عيوبو او ګناهونو پرده واچوي.

که چیرته څوک د کوم شرعي عذر له امله نشي. کولای د مسلح جهاد په صف کې ودریږي، هغوی بایدهڅه وکړي چې د خپل وس په اندازه د روان ظلم په وړاندې خپل ږغ پورته کړي، د ږغ پورته کولو یوه بهترینه لار مظاهرې او لاریونونه دي چې په دې وروستیو کې یې په بیلابیلو ولایتونو کې لړۍ تونده شوې، افغان مجاهد ولس له دغې وسیلې څخه باید اعظمي استفاده وکړي، ترڅو هیوادوال او نړیوال د امریکایانو او دهغوی د ګوداګیانو له جنګي جرائمو څخه خبر او د باوجدانه او منصفو انسانانو خواخوږي خپله کړي.

ځیني خلک په دې بانه په مظاهرو او لاریونونو پسې بد وایې چې ګواکې غربي دود دی او له کفارو سره د مشابهت له امله یې ناروا او حرامې ګڼي.

خو تاریخي شواهد په دغو ادعاوو د بطلان کرښه راکاږي او دا جوتوي چې زموږ تاسې اسلافو د ظلم د له منځه وړلو او نهي عن المنکر په موخه لاریونونه او پرلتونه کړي، او د خپلو حقوقو د اعادې لپاره یې احتجاجونو او مظاهرو ته مخه کړې، او ډیره جالبه دا چې علماوو او منورینو به دغه ولسي پاڅونونه رهبري کول.

لاندې موږ له څو تاریخي مصادرو څخه د همداسې څو پیښو تذکره راخلو چې په دې دلالت کوي چې له استعمار وړاندې په اسلامي نړۍ کې دغه دستور رواج درلود او دا کومه غربي او دخیله پدیده نه ده.

علامه ابن جوزي رحمه په خپل کتاب المنتظم في تاریخ الملوك والأمم (ج١٦/ ص٩٤) د ٤٥٨هـ کال یو پرلت ذکر کوي او وایي:

د هتیو له تړلو وروسته ډیر خلک راټول شول او د دار الخلافت (بغداد) په لوري ولاړل داعیان او علماء یې وړاندې روان وو او بې له ډاره یې د روافضو د ځینې کړنو غندنه کوله، خلیفه ورته خلک راولیږل چې موږ هم هغه څه تقبیحوو چې تاسې یې غندئ.

د همدې کتاب په (ج١٦/ ص١٣٨) د کال ٤٦٤هـ پیښو په اړه وایي: سبا ته حنابله د مانۍ په مسجد کې راغونډ شول له خان سره یې شیخ ابو اسحاق الشیرازي او د هغه ملګري هم داخل کړل او د فحشاء خونو او شراب پلورنځیو بندولو غوښتنه یې کوله آخر امیر المؤمنین د دې کار وعده ورسره وکړه.

مشهور عثماني سیاح اولیاء چلپي (مړ١٠٩٥ هـ) په خپله سفرنامه کې د یو لاریون اتخور کشي په دې ټکو کوي : چې کله د ازهر علماوو د پاڅون اعلان وکړ له جامع څخه اووه سوه کسان راووتل بیرغونه یې هسک کړي و، خدایه خیر! د دوی پاڅون خو سختي کې انتها ته رسیدلی ٢٦٢/١.

علامه جبرتي په خپل تاریخ عجائب الآثار د عثماني قاهرې د دغو مظاهرو ډېرې پیښې ذکر کړي چې کله به د امراوو او واکمنانو له لوري ظلمونه او باجونه زیات شول عوام به راوپاریدل دکانونه او بازارونه به یې وتړل، ډلې ډلې به جامع ازهر ته راتلل، له سترو علماوو لکه شیخ احمد الدردیر او شیخ عبد الله الشرقاوي د جامع ازهر مشایخ او طالبان به هم راټول شول، د مدرسې دروازې به یې وتړلې درسونه به یې بند کړل، کله کله به په مسجد کې آن د آذان او لمانځه بندولو ته نوبت ورسید، بیا به علماء له واکمنانو سره د خبرو اترو لپاره ورغلل او د ظلم بندولو، د بې ځایه ټکسونو د لیرې کولو او د حقوقو د اعادې غوښتنه به یې ورڅخه کوله. عجائب الآثار للجبرتي: ٦٠٩/١، ١٦٦/٢.

دا چې د بې ګناه انسانانو د ژوند ژغورل یو سپیڅلی هدف دی، د دې سپیڅلي هدف د لاس ته راوړلو لپاره باید له هر ډول وسیلې څخه کار واخیستل شي څو پورې چې شرعي حرج پکې نه وي، بناء افغان مسلمان ولس د مسلح قتال ترڅنګ باید د اشغالګرو پر ضد لاریونونو ته هم مخه کړي، په سترو ښارونو کې مظاهرې تنظیم کړي، او د اشغالګرو او دهغوی د ګوډاګیانو د جرائمو پر وړاندې یې خپل ږغ اوچت کړي.

اما دا یو خبره باید درک کړل شي چې مظاهرې او لاریونونه هیڅکله دمقدس مسلح جهاد بدیل نه شي جوړیدلی البته ممد او معاون یې ګرځیدلی شي.

څوک په سوله کې زوال ویني؟

سجاد

دې کې شک نشته مور د یو ولس په توګه نن د خورانازکو ګړلیچونو اود سختو حساسو پړاوونو تیریږو، یاپر بل سپیناوي افغان ولس دخپل تاریخ د ستونزو او ناخوالو دیو ژور ګرداب نه دوتو کوښښ کوي

اوسني وضعیت دوه مهم اړخونه یا لوري لري، یو یې امریکا، د هغې متحدین او ګوډاګیان! اوبل دامریکایي اشغال نه د ګران هیواد دازادۍ په جنګ بوخت ننګیالي طالبان او مجاهدین دي.

لومړی لوری (امریکا) بیا دوه اړخونه یا جهتونه لري یوخارجي امریکایي جهت او بهرني متحدین یې! اوبل کورني ګوډاګي او غلامان دي!

امریکا او متحدینو یې په ۲۰۰۱ زکې زموږ پر هیواد یرغل وکړ او دګران افغانستان ارضي تمامیت یې په زوره اشغال کړ، دهغه مهال راهیسې امریکا او متحدین افغانستان کې پوځي حضور لري او هره ورځ دافغانستان په کلیو، باندو اوښارونو دترهګرۍ خپلو په پلمه رانده، وحشیانه اوظالمانه عملیات کوي په کومو کې چې زموږ لسګونه بې دفاع خلک چې دیرې یې ماشومان، میرمنې او سپین ږیري دي په شهادت رسوي او دافغانانو حیا، عزت اوابرو ترپښو لاندې کوي او هم یې دافغانانو دملي شتمنیو او طبعي زیرمو په چور او تالان لا س پورې کړی په دې علاوه دافغانستان له مهم جغرافیوي استقامت نه په ګټه اراده لري ګاونډیو هیوادونه لکه چین، پاکستان، ایران او دمرکزي اسیا هیوادونه ترخپل استخباراتي څار او تهدید لاندې وساتي

کابل رژیم او دهغه پولیس، اردو او عسکر پخپل ټول قوت لګیادي دامریکایانو او دنورو خارجي یرغلګرو سره ګام په ګام دهیواد او افغانانو په ضد جنایتونه کوي ، دمجاهدینو پرضد جنګونه او عملیات کوي د ازادۍ دننګیالیو(طالبانو) مرکزونه او د تجمع ځایونه بمباردوي اوپه بدل کې یې هغوی ته امریکا معاشونه او مرستې ورکوي دکابل رژیم اردو، عسکر او امنیتي کارمندانو لویه دنده داده چې هغوی دطالبانو د هغوبریدونو اوعملیاتو مخنیوی وکړي کوم چې طالبان مخامخ دامریکا په پوځي هډو او مرکزونو ترسره کول غواړي، دوی هغه ټولې لارې ، سرکونه او کوڅې په امنیتي پوستو اوکمر بندونو سره پوښلې کومې چې دامریکا د پوځي هډو او قرارګاوو په لور غځیدلي دي

طالبان هغه باتور، زړور او ننګیالي قشر یا څواک دی چې دګران هیواد دازادۍ لپاره د امریکا ،متحدینو او اجیرانو سره دتیرو اتلس کلو نه په قوي جنګ او مقاومت لګیادي ، هغوی امریکا نه دافغان خاورې غصب کړې ازادۍ ترلاسه کول غواړي او دافغانستان ارضي تمامیت داشغاله ژغورل غواړي.

دطالبانو دبریدونو او عملیاتو لومړي اهداف امریکایان او د هغوی متحدین دي؛ کومو چې دنړیوالو اصولو او مقرراتو نه په سرغړونه افغانستان اشغال کړی او هره ورځ دافغانانو ویني لکه دابو پشان ارزانه بهوي طالبان دامریکایانو په هډو او قرارګاوو بریدونه کول غواړي خو افغان اجیره اردو او عسکر دطالب دبریدونو په وړاندې خند او مانع ګرځي او دامریکایانو د ساتنې او دفاع لپاره هغوی سینې سپرنیولي، په دې صورت کې طالب مجبور دی چې څوک دده مخه نیسي۔ اویا دده

وژلو هڅه کوي هغه له ځانه رومبی کړي او بریدونه او عملیات په هغه وکړي دغه وجه ده چې طالب دتیرو اتلس کلو راهیسې دامریکا او دافغاني اجیرانو سره په جنګ لګیا دی،په دې لړکې په زرګونه امریکایې یرغلګر عسکر او په لکونو افغاني اجیران عسکر مړه اوټپیان شوي، همدا راز زرګونه طالبانو خپلې وینې دهیواد دازادۍ او داسلام لپاره نذرانه او قربان کړې چې بالاخر یې امریکا دیته مجبورکړه چې اعتراف یې وکړ او وې منې چې دزور لارې جګړه نه ګټل کېږي او دپای ته رسولو شعار یې پورته کړ.

دامریکا ولسمشر ترمپ جنوبي ایشیا په اړه دخپلې تاکلې ستراتیژۍ د نا کامۍ وروسته دادرک کړه چې جګړه امریکا لپاره په تاوان ده، زلمي خلیل زاد په مشرۍ یې یو باصلاحیت ټیم ته وظیفه ورکړه چې دطالبانو سره کیني او خبرې ومذاکرات ورسره وکړي، هغه و چې دتیرو ٦میاشتو راهیسې دامریکا او طالبانو ترمنځ د مخامخ خبرویوه لړۍ پیل شوې چې لومړنۍ ناسته یې په ابوظهبۍ کې او نورې د قطر په دوحه کې دطالبانو او امریکایانو ترمنځ وشوې اودواړو لوریو له افغانستانه دخارجي ځواکونو په وتلو سر بیره دافغانستان خاورې نه دامریکا پر ضد اینده کې دکوم ګواښ دنه پیداکیدو میکانیزم په جوړولو هم یوې حتمي موافقې کولو ته ور نیږدې شوي

لیکن دکابل رژیم مشر اشرف غني چې خپلې مزې وچړچې په جنګ کې ویني دخارجي ځواکونو په وتلو خوابدی ښکاري او ځان ګیله من ښیي چې ولې د امریکا حکومت طالبانو سره خبرو کې دوی د پامه غورځولي اوپه رښتیا هم اشرف غني او دهغه دحکومت لپاره دشرم او خجالت نه ډک ځای دی چې هغه امریکا تراوسه په ټول روان بهیر کې ورګډ تکړاشو اوخپله یې دطالبانو سره خبرو او مفاهمې مزې غځولې لیکن دامریکا په نظر کې داشرف غني مقام جوت دی هغه ته دیو نوکر او غلام په سترګه ګوري او غلام څوک کله دومره مهم بولي چې هغه دي دخپل دقوي دښمن سره په جرګه ومرکه کې کینویاوبیا داسې جرګه و مرکه چې دواړو لوریو (امریکا او طالبانو) ته حیاتي ارزښت لري.

داچې امریکا دجګړې نه سخته ستړې شوې، نور جنګ نه غواړي او ځان تري ژر بیغمه کول غواړي ، همدا وجه ده چې دخلیل زاد وروستي سفر وروسته کابل رژیم دیته غاړه کیښوده چې دقطر په بین الافغاني کانفرانس کې یې څو تنه ازاد کسان ګډون وکړي چې هلته به ددولت په نماینده ګۍ نه بلکې خپل شخصي نظریات شریکوي کنه ددینه وړاندې یې ټینګار کاوه چې دوی دافغانستان دولت په استازیتوب طالبانو سره غواړي خبرې وکړي دکومو سره چې طالبان مخالفت لري هغوی کابل رژیم دافغانستان دمشروع رژیم په حیث نه مني همدا وجه ده چې دتیرو څومیاشتو مذاکراتي بهیرنه کابل رژیم ویستل شوی، دکابل رژیم اوسنی په شاتګ هم په سیاسي ډګر کې دطالبانو بل مهم بری دی چې اخریې امریکا اونور قانع کړل چې کابل رژیم به د دولت په حیث په بین الافغاني غونډه کې ګډون ونکړي که وې کړي دوی (طالبان) به پکې شرکت نه کوي.

دطالبانو دا دریځ قوي او بامعنی دی چې کابل رژیم دافغان ولس نماینده دولت ندی هغه دامریکا لخوا نه یو تپل شوی حکومت دی چې ورسره خبرې کول هیڅکله ګټه نلري او داشرف غني لخوا په جګړه ټینګار او دخارجي ځواکونو په شتون باندې اصرار دا ښیي چې هغه دافغانستان دښمن دی، دافغانستان دازادۍ دښمن دی، دافغانانو دخوشالۍ او سوکالۍ دښمن دی اوپه افغانانو باندې یې سوله او ارامي نده پیرزو، ښکاره ده چې امریکا پخپل ټول ځواک شکست خوړلی ، هغه دجګړې غځولو تاب نلري او خامخا به له افغانستانه عسکر وباسي او دکابل رژیم به هم داسې شرمنده او خجالت پاته کېږي او بیا مظلوم ولس به تري دخپل مظلومیت ټول غچ تري اخلي نو هغه ورځ لري نده چې اشرف غني او دهغه انډیوالان هم لکه دکارمل او نجیب دخپل کرغیړن سرنوشت سره مخ شي.

د هلمند خوېندو ته!

شهیدزوی

د هلمندمسلمانوغیرتي خویندو! دبزدل دښمن په لاس ستاسې اسیرکېدلو ټول هېواد لړزولی ؛ ټول ژمن مسلمانان سخت غمجن او زړونه یې دانتقام له لمبو ډک دي .

ستاسې پرپلو چې له نېږدې خپلوانو پرته دبل هیچانظر نه شو پرېوتلی صلیبي یرغلګر فوځیانو او دصلیبیانو لاسپوڅو غلامانو چې ستاسو مړوندونو ته زولنې دراچولې الله تعالی ښه پوهېږي چې ستاسو زړونو کې به څه تېرېدل؟

تاسې به ډېرې زیاتې حیرانې وئ چې په خپل وطن او خپلو کورونو کې زموږ سره دا څه وشول ؟!

هاغه څه چې په اړه یې تصور هم نه شو کېدای؟

تاسې به د ولس له خوانانو ګیله منې یئ چې دوئ ټول ژوندي دي نو دښمن څرنګه خپلو مرکزونو ته زموږ د ژوندي وړلو جرأت وکړ او څرنګه یې خپلې شومې ارادې ته عملي شکل ورکړای شو ؟

هو! ستاسې حیرانتیا او ګیله دواړه پرځای دي؛ دیرغل او اشغال په تېرو ۱۸ کلونو کې صلیبي اشغالګرو او دهغوئ دصف داخلي غلامانو په ړندو بمباریو ؛ مخامخ ډزو او شپنیو عملیاتو کې دخوان؛ بوډا ، کوچني او مېرمنې دامتیاز پرته زموږ په سونو زره هېوادوال شهیدان کړیدي ؛ دکورونو ترڅنګ مو روغتونونه جنازې ؛ وراګانې؛جوماتونه؛مدرسې،او ددستاربندیو پروګرامونه بمبار شوي او د بمبار په خینو پېښو کې مودسلونه زیات هېوادوال شهیدان شویدي ؛ په سونو زره سړي مو دوحشت نه ډکو زندانونو ته بوتلل شویدي خو چې صلیبیان او داخلي غلامان دواړه پدې پوه دي چې دخپلو تورسرو په هکله افغانان سخت حساس دي نو دمېرمنو دژوندي بوتللو جرأت یې نه شو کولای نوحیرانتیا مو بې ځایه نده .

او ستاسې ګیله هم پرځای ده؛تاسې حق لرئ چې ووایاست دغلامې ادارې په لیکو کې کار کوونکو وسلوالو افغان خوانانو! تاسې چې لاهم ځانونه مسلمانان او افغانان ګڼئ تاسو چې دخپلو خویندو پسې امریکایان راوستل نو وژدان مونه ملامتولی؟

دخپلو خویندو دزنداني کولو پسې مو چې پردي راوستل دا مو په زړه کې نه راتله چې داداسې ستر جرم دی چې دافغانانوپه تاریخ کې ساری نه لري ؟

تاسې چې یو ستر غیرتي اوبا احساسه ولس ته ځانونه منسوبوئ ستاسې پرورآندې چې دستاسې خویندو مړوندونو ته پردیو زولنې اچولې تاسې نه شرمېدئ او نه مو غیرت په جوش راتلو؟

تاسې چې دمسلمانۍ او افغانیت دعوی لرئ نو اسلامي حمیت او ملي غیرت او غرورمو څه شو ؟

اشغالگرو یا دهغوئ غلامانو چې موږ ته زولنې را اچولې تاسې پرې ولې دخپلو ټوپکو ججورې تشې نکړې؟

کوم وسلوال چې د دې پېښې له خایه لرې وو هغوئ ولې ددې غلامې ،اسلام؛مسلمان او افغان دښمنې ادارې نه دجدا کېدو او پرخمکه دخپلو وسلو ایښودلو پرېکړه ونکړه؟

خپلو کورونو تـه دراستنېدو پرمهال بـه خپلـو خویندو میندو او مېرمنـو تـه څـه وایـئ ؟ دا چـې دا دواړه هلمندیانې زموږ خویندې نه وې که دا چې موږ دصلیبیانو په غلامـی داسـلامې وروولـی او حمیـت او افغـانې غیرت نه بې برخې شوي یو؟؟؟

دهلمند خویندو! څوک چې خانونه جهادیان ګڼي او یا خانونه دعلماءو ددلې نه شمېرې خـو دغلامـې ادارې برخه ده او یا دا اداره مشروع ګڼي ، کرنلاره او کړنې یې تائیدوي ستاسـې دا پوښـتنه تـرې پرخـای ده چـې آیـا ستاسې مسلمانې جهادي توب دیني علومو ته نسبت اوس هم تاسې ته دا اجازه درکوي چې دداسـې ادارې برخـه اوسئ یایې تائید کړئ چې ددې ادارې وسلوال ستاسې پرحریم تجاوز کوي او تور سرې موزندانونو ته بوځي؟

دهلمند خویندو! تاسې به دعام ولس نه هم ګیله منې یئ او ګیله مو یقیناً پرځای ده .

دا پېښه دومره درنده او دردنونکې ده چې باید ټول ولس پرې په ټول هېـواد کـې پـاڅون کـړی وای؛اشـغالګر دښمن شکست خوړلی ؛مورال یې په تمامه معنی بایللی دی؛نور دلته دپاتې کېدو توان یې په کـلي ډول لـه لاسـه ورکریدی ؛ دخان لپاره دتېښتې لار لټوي ؛ دولس پـاڅون بـه دوئ دویتنـام دتېښـتې نـه هـم تېـزې او شرمـونکې تېښتې ته اړ کړي؛ هېواد به مو دتل لپاره ددوئ دناپاکو قدمونو نه پـاک شـوی او دتـوری پـه زور بـه مـو دهېـواد ازادولو کې دولس هر فرد سهیم شوی وای خو متأسفانه چې موږ په هېواد کې دننه داسې محرکین او دابلاغ داسـې وسایل ونه لرل چې ټول ولس یې اهتزاز کې راوستی او پاڅون ته سوق کړی وای.

دهلمند خویندو! ستاسو ټولې ګیلې پرځای دي ، ګیلمنې به یئ ! خو امید دی چې ناهیلې به نه یـئ ځکـه چې تاسې په داسې هېواد کې یئ چې پکې په لسګونو زره خوانان د اشغالګر دښمن او دهغوئ دغلامانو پرضد پـه کاملې مېړانې دجهاد ډګر ګرم کـړی او دا مقدسـه مبـارزه یـې دتېـرو ۱۸ کلونـو راهیسـې دخپلوویـنـو اوسرونوپـه قربانیوروانه ساتلې ده ؛ دخپل دین،خاورې، ملت او د خپلو نوامیسو نه ددفاع په لار کې خپل سرونه قربـانوي او دښمن ته هم دسراو مال دومره ډېر زیانونه واړوي چې یې دشکست او تېښتې سبب شوي یې دي.

خویندو تاسې به خبرې یئ که نه چې دهمدې پېښې نه لږې ورځـې وروسـته پـه بـاګرام کـې پرامریکـایې وحشي عسکرو کامیاب برید ترسره شو چې پکې دلسو نه زیاتو عسکرو تـه مـرګ ژوبلـه وراوښـته چـې پخپلـه امریکایانو هم دخپلو ۳ عسکرو وژل کېدل ومنل.

نو دا چې سپیڅلی جهاد روان دی او په برکت یې دښمن درانده ګوزارونـه خـوري دا ډېـر دخوښـی مقـام او هیله بښونکی حالت دی نوځکه وایو چې تاسې به نا هیلې نه یئ .

که ددښمن ظلم او وحشت وای او خدای مکره جهاد او په جهاد کې دښمن تـه ور رسـېدونکی سـتر خـانې او مالي تاوانونه نه وای نو دا به ډېر غم،حسرت او ناهیلی نه ډک حالت وای.

دهلمند خویندو!په فلسطین کې چې په زرونو مسلمانې خویندې دیهودو پـه زنـدانونو کـې داسـارت شـپې ورځې تېروي هغوئ هم زموږ خویندې دي.

په برما کې دوحشي بوداياڼو له لورې په لسګونو زره تښتول شوې؛ بې‌عفته شوې او وژل شوې مظلومې مسلمانې مېرمنې هم زموږ خويندې دي .

په وسطي افريقا او کامرون کې دوحشي مسيحيانو دوحشت ښکار شوې مېرمنې هم زموږ خويندې وې او په دې ټولو خويندو زموږ ترڅنګ دنړۍ ټول مسلمانان همداسې دردېږي لکه پرتاسو چې وردرېدل خو دلته او هلته کې فرق دا دی چې دلته يواځې درد او غم دی ناهيلي نشته ځکه چې ددښمن دوحشت مخه هم نيول کېږي او انتقام هم اخستل کېږي خو هلته په فلسطين،برماوسطي افريقا،کامرون او نورو ځايونو کې چې پرمسلمانو مېرمنو ظلم او وحشت کېږي نو دغم او درد ترڅنګ ناهيلې هم شتون لري ځکه چې پرمسلمانو مېرمنو دوحشت نه مخنيوی کېدای شي او نه هم ددې وحشيانو دوحشت انتقام اخستل کېدای شي.

نو دلته چې دلويې امريکا نه موږ انتقام اخيستی او دوحشت مخنيوی يې کولی شو داد ډېر ستر شکر مقام او هيلو نه ډک حالت دی.

او اوس خو هيلمندي نوره هم زياته شويده ځکه چې اسلامي امارت ددښمن پرضد دالفتح په نوم نوي پسرلني عمليات اعلان کړيدي ؛ ان شاءالله دا کال به ددښمن پرضد د يقيني،عامې او تامې فتحې کال وي ؛ددامې فتحې چې ورسره به په ټولې نړۍ کې مسلمانان ددښمن دظلمونو او وحشتونو نه خوندي شي.

دهلمند مسلمانو خويندو! تاسې ته به دا هم معلومه شوي وي چې د ژمنو ټولو مسلمانانو او په ځانګړي دول داسلامي امارت په زړه کې دخپلومسلمانو تورسرو ډېر ستر مقام دی.

داشغال نه پس په سونو زره مسلمان سرې امريکايانو ګونتنامو،باګرام او نورو بدنامو زندانونو ته وړيدي چې پرې دبهرنړۍ ټول مسلمانان سخت خفه دي خو په بهر نړۍ کې به کمو خلکو ته دا معلومه وي چې دوئ څوک دي او څومره دي ؟

خو يوه عافيه صديقي چې امريکايانو اسيره کړيده نو دنړۍ ټول مسلمانان يې يادوي.

زندانونو ته د افغانانو ورل کېدو لړۍ بنده شوی نده ؛اوس هم دالړۍ روانه ده او په لسګونو زره سرې په زندانونو کې داسارت شپې ورځې تېروي چې ټول ژمن مسلمانان يې په اسارت سخت غمجن دي او دازادۍ لپاره يې دعاوې کوي خو دستاسې ددوه وو غم دهغوئ لسګونوزرونه هم دروند دی؛ نوځکه ستاسې په زنداني کېدو ټول افغانستان ولړزېد چې دا په ټولې اسلامي ټولنې او په ځانګړي دول په افغاني ټولنې کې ستاسې دلوړ مقام يو ډېر روښانه دليل دی ؛ مجاهدين به دخپلو وينو او سرونوپه قربانيو ستاسې ددې لوړ مقام نه دفاع کوي اوستاسې دې لوړ مقام ته چې چا په سپکه کتلي ډېر ستر دعبرت درس به ورکړي او ملاماتونکي ګوزارونه به پرې وکړي لکه چې يې پرې وراندې کړي. ان شاءالله تعالی .

هلمند کې د افغاني غيرت

منارونه ولړزول شول!

حافظ هجرت

هلمند د افغانستان له هغو ولايتونو څخه يو ولايت دی چې له تيرو څو پيړيو راهيسې پکې د نړۍ د زوروړو ، ښکرورو او د تجاوز کونکو لښکرو لکه (انګريز ، چنګيز ، مغل او د روسي دهريانو) غرور او شور له خاورو سره خاورې شوی دی.

له امريکايي يرغل سره سم د انګريز ريښتيني لمسيانو (برطانويانو) د خپلو نيکونو د غچ اخيستلو په موخه هلمند ته خپل روزل شوي پرمختللي او په عصري تکنالوجۍ سمبال پوځونه راولېږل ترڅو د خپلو نيکونو انتقام واخلي .

خو د څو کلونو په اوږدو کې د هلمند ريښتيني بچيانو د خپلو سرونو په قيمت ورته داسې عبرتناک درسونه ورکړل چې د خپلو نيکونو هغه تير "شرمېدلی تاريخ "يې ورته په ياد او تکرار کړ .

دا چې د هلمند مېړنی ولس تل د ايماني غيرت سرلوړی تاريخ له ځان سره لري ؛ نو له همدې امله يې تل د نړۍ تجاوزګر کافران او د هغوي لاسپوڅي ايمان پلورونکي غلامان د خپل وس تر کچې هڅې کوي ؛ ترڅو د خپلو بې دريغه وحشتونو او جناياتو په ترڅ کې د هلمند د باتور او غيور ولس د زرين تاريخ هغه منارونه ونړوي ، کوم چې د هلمند پخوانيو ولسونو د خپلو سرونو او هډونو په قيمت تاسيس کړي دي .

نو په همدې لړ کې صليبي اشغالګرانو او د هغوي تالي څټي غلامانو څو شپې وړاندې د هلمند ولايت د نادعلي ولسوالۍ په تور پله سيمه کې د ولسي خلکو په کورونو چاپه وهلې چې په ترڅ کې يې د سيمې يو شمېر وګړي په شهادت رسولي او ورسره يې د يوه سيمه ييز ډاکټر (اسد) کور سوځولی او د هغه په شمول يې د هغه د کور ۲ تنه مېرمنې هم له ځان سره وړي دي ، چې له امله يې د افغانستان د مېړني ولس د غيرتونو او ننګونو تاريخي منارونه لړزېدلي دي .

د اشغالګرو او داخلي ځواکونو دغه وحشيانه ، بزدلانه او غير انساني عمل ته په خواب کې د کابل رژيم ګڼ شمېر وجدان پلورونکو او ايمان پلورونکو چارواکو او د هغوي ړندو پلويانو دغه عمل د غندلو پرځای نور هم تائيد کړ او دا يې د اشغالګرو او داخلي ګوډاګي ځواکونو يوه مهمه لاسته راوړنه وبلله ، او زياته يې کړه چې بهرني او داخلي ځواکونو دغه عمليات د القاعدې په يوه مهم غړي ترسره کړي دي . او نيول شوې مېرمنې يې هم د خپل جنايت د برحقه ثابتولو په موخه د القاعدې په ټاپه تورنې کړې او هغوي يې هم خورا خطرناکې بللې دي.

خو حقيقت کې نه ډاکټر اسد القاعده دی او نه د هغه د کور هغه ۲ تنه عاجزې او بې وسه مېرمنې چې دوي له ځانه سره وړي دي ، هغه القاعده دي .

د يادې سيمې قومي مشرانو او مخورو سپين ږيرو هم د خپلو مظاهرو په جريان کې د کابل د ګوډاګي رژيم او د هغوي د ړندو پلويانو دغه بې بنياده او له حقيقت لرې ادعا ناسمه او پروپاګند بللی دی .

دا خو د لمر په څېر يو روښانه حقيقت دی چې دوي (ګوډاګيان) له خپل بادار (امريکا+ناټو) څخه د دغسې وحشيانه پېښو پوښتنه نه کوي او نه يې کولای شي ، حتی چې پخپلو غلامو اذهانو کې يې د پوښتنې کولو فکر او خيال هم نشي راوستلای ، نو له همدې امله خپلې غلامۍ او بې وسۍ ته د پرتوګ ګنډلو په خاطر پخپلو افغاني وروڼو او خويندو د القاعدې ټاپې وهي او د صليبي کافرانو په بدنامو جرمونو باندې خپلې سترګې پټې کړي .

خو موږ بې وسه او ناچيزه بندګان د خدای تعالی له دربار څخه عاجزانه غوښتونکي يو چې الله جل جلاله خپل لښکر (طالبان) يو وار بيا د صليبي لښکرو او د هغوي د غلامانو په مراکزو باندې د ابابيل مرغانو په څېر ورنازل کړي او د دغه بدنامه ، غير انساني او کرکجن عمل انتقام ترې د دوي په لاسونو واخلي ، ترڅو د افغاني غيرت د لړزېدلي منارونو زړونو ته قرار او سکون ورسيږي.

د سوډان وروستي حالات

او د عمر البشير ځيرکتيا !

د سوډان فوځ تېره پنجشنبه د اپريل په يوولسمه د هيواد په ولسمشر جنرال عمر حسن احمد البشير کودتا وکړه او له واکه يې لرې کړ.

عمر البشير چې له (البديرة الدهمشية) قبيلې سره تعلق لري، په کال(۱۹۴۴)م کې د حوش بانقا کوچني کلي کې زيږېدلی دی. نوموړی په ۱۹۶۷ م کې د سوډان له حربي پوهنځي څخه فارغ شوی او په نظامي علومو کې يې په کال ۱۹۸۳ کې د ماليزيا هيواد کې ماستري کړې ده.

ده په خپله هم په کال ۱۹۸۹م د جون مياشتې په ديرشم تاريخ د وخت په ولسمشر او د وزيرانو شورا په مشر (صادق مهدي) د اسلامپالو په ملاتړ، چې د اخوان المسلمين د نظرياتي ملګرې مرحوم استاذ حسن ترابي لخوا رهبري کيدل، کودتاوکړه او واک يې ترلاسه کړ.

د ۲۰۱۹ م کال د اپريل په ۱۱مې ورځې په ماښام د سوډان د دفاع وزير "عوف بن عوض"د دولتي تلويزون له لارې ملت ته په خپله ويناکې اعلان وکړ، چې نوره د عمر البشير دوره ختمه شوه، دفاع وزيريه خپله ويناکې وويل چې دوه کاله به د فوځي شوراى لخوا د هيواد چارې اداره کيږي، اساسي قانون به معطل وي، درې مياشتې به هيواد کې بيړنی حالت وي او له ټاکلې مودې وروسته به د نوي اساسي قانون په رڼاکې ټاکنې کيږي او واک به يو جمهوري حکومت ته سپارل کيږي.

د يادونې وړ ده، چې د تيرکال د دسمبرد مياشتې راهيسې هيواد کې د اقتصادي بحران او د توکو د لوړو بيو پر خلاف لاريونونه روان وو، چې وروسته يې د ځينو هيوادونو په اشاره او مرسته د جنرال عمر البشير د استعفاغوښتنه پيل کړه.

وروسته له دې چې تيره مياشت په الجزائرکې د سختو لاريونونو څخه وروسته ولسمشر "بوتفليقه"واک پريښود، د سوډان لاريونوالو هم روحيه واخيسته، لاريونونه يې پراخ او شديدکړل.

پوځ مجبورشو مداخله يې وکړه او د البشير(۳۰) کلنې واکمنۍ ته يې د پاى ټکی کيښود، د ډيرو کتونکو په اند دا هرڅه به خکه د البشير په خوښه شوي وي چې خپله هم پوځي جنرال و او د نږدې ديرش کلنې واکمنۍ پرمهال يې پوځ تل ملاتړى پاتې شوی و.

داسې ښکاري چې ښاغلي بشير به څکه د کودتا په نوم واک پرېښي وي، چې نوموړي له ۲۰۱۱م کال وروسته عربي نړۍ او په ځانګړي ډول د ليبيا او سوريې خونړي بدلونونه مخ ته ايښي وو، د يادو هيوادونو مشرانو د لاريونوالو په وړاندې له زوره کار واخيست چې پايله يې کورنۍ جګړې، د هيوادونو ويجاړۍ، د لکونو انسانانو وژل کېدل او سيمه کې د امريکا، روسيې او نورو هيوادونو برېنده پوځي مداخله وه.

جنرال عمر البشير ته معلومه وه، چې د لاريونوالو ترشا امريکا ولاړه ده او امريکا تل هڅه کړې چې لومړۍ د اسلامي هيوادونو، په ځانګړي ډول د هغو اسلامي هيوادونو په حکومتونو پسې خپل ولسونه راوپاروي، چې د امريکا اوصليبي نړۍ ګټو ته خطر واقع کېداى شي او بياله همدې لارې او پلمو مستقيم يرغل وکړي.

لکه څنګه چې صدام حسين، معمرالقذافي، محمد مرسي او بشارالاسد د امريکا اوامرو ته سرونه نه ټيټول، څوک يې په جعلي پلمو له واکه لرې کړل او په چاپسې يې ولسونه راوپارول، بيايې مستقيمه مداخله وکړه او هغه ريژيمونه يې نسکور او هيوادونه يې د ځان محتاج کړل، همدا لوبه يې په سوډان کې هم کوله؛ خو دا چې عمر البشير له حکمت او خير کتيا کار واخيست، هم يې نظام وساته او هم يې ولس له تباهۍ وژغوره.

هغه خو خپل مسؤليت سرته ورساوه، اوس سوداني ولس ته هم پکار دي چې د ليبيا او سوريې انجام ته په کتو، له پرديو سره د خپل هيواد معامله ونه کړي. او د سوډان اوسنۍ رهبري، چې په رأس کې يې دعمر البشير خواخوږي جنرالان قرار لري، اميد دى چې د غربي نړۍ په وړاندې به د ښاغلي بشير سياست خپل کړي او د خپل هيواد او خلکو حريت او ګټو ته به ژمن واوسي.

هلمندي خويندو ته!

محمد امين بسمل

ملالۍ اوښکې توېولې بېګا
بېګا وې بيا چاپې راغلې بېګا
وېل يې غيرتو پښتنو چېرې واست ؟
درنه يې ښځې چې بيولې بېګا
دعبدالله او غني تود و محفل
ورته لوڅ کونې نڅېدلې بېګا
د اريانا سعيد تر څنګ يې يې ګل
لاس ته راوړنې يې شمارلې بېګا ؟
له حکمتيار اوسياف مه کړئ ګيله
د فريب تسبيح يې اړولې بېګا
کرزي اوخپني سياستوال دوسان
بيا څه نقشې تيارولې بېګا ؟
له انسانيته لرې لرې خلګو
بيا دروازې الوزولې بېګا
دا مدعيان د بشري حقونو
بويټې خولې يې وې ګنډلې بېګا
وطن دښمن ژورنالستان چېرې وو
بيا يې ډالرې تولولې بېګا
دا و د اتلسو کلونو سوغات ؟
چې مو تورسرې سپکېدلې بېګا
د پرديپالو ليره کو له لاسه
د رسوايي شپې راغلې بېګا
اى شهوتي شاعره ته چېرې وې؟
کومې ډمانې دې ستايلې بېګا
ګوتې دې شلې شه بې ننګ ليکواله
بيا دې پيسې حسابولې بېګا
طالب لالى مې په باګرام کې بندي
که نه فرقې يې ماتولې بېګا
مور نارينه بايد بنګړي په لاس واى
چې زمور خويندې لوټېدلې بېګا
غربو وم نيولى سا مې بنده بنده
سلګۍ مې توله شپه وهلې بېګا
ها په جمرود کې ببر سرې خويندې
دا خل بې تبغ حلالېدلې بېګا
اولس دښمن غني ته داسې واياست
د دار تسمې خويندو اوبدلې بېګا
بسمله څه دې چې له وسه کېده
هغه جملې تا دې ليکلې بېګا
ملالۍ اوښکې توېولې بېګا
بېګا وې بيا چاپې راغلې بېګا

دغلامۍ د تالار انکشافات...

کله چې امریکا زموږ په ګران هیواد یرغل وکړ، زموږ دجغرافیـــې ارضي تمامیـــت اوفضائي قلمرو یې اشغال کړ او دبن شرمونکی جریان په نتیجه کې یې په موږ دبیرون څخه خپل یو ګوډاګی رژیم تحمیل کړ او دخپلو اهدافو ترلاسه کولو پخاطریې په لکونه خپل اوپردي عسکر راوستل ، زموږ سمه او غر دواړه یې پري چور او تالا کړل.

دمادیاتو او لالچونو په دام کې په نبنلولو سره یې د افغانانو دایمان او ضمیر پیرلو په پلان هم کار شروع کړلیکن دافغـــان ولـــس اکثریـــت دځینوپردیپـالو او غـرب کـې دروزل شـویو کرغیړنـو څـیرو پرتـــه دامریکـــا دلالچونـــو او مادیاتو په لومو کې ښکیل نشو او تش لاسونه دایمان په ځواک او وسلو دامریکا دتیري په مقابل کې پورته شول او دجهاد عظیم الشانه فریضه یې پیل کړه کومه چې دتیرو اتلس کلو راهیسې دځنډ پرته دوام لري.

دیرغل په لومړیو کلو کې دچا په وهم اوګومان کې دا نه تیریده چې یو داسې وخت به هم راځي چې امریکابه خپل یرغل او تجاوز اشتباه وبولي او خپلو لاسپوڅو او ګوډاګیانو ته به سپکې سپورې کوي او رټې به یې چې موږ ته ټولې اوسنی کشالې ستاسو دلاسه پیښ دي!

دقدرت کارونوته ګوره اتلس کاله وروسته نن موږ وینو او اورو چې امریکا پخپلو لاسپوڅو کله په یوځای او کله په بل ځای کې سترګې سرې رایستلې وې اوپه سپکو یې سپکوي .

څه موده دمخه دافغانستان دملي امنیت شوری رئس (حمد الله محب) چې په خورا کلانکارۍ امریکا ته سفر وکړ او هلته یې په ناخبرۍ کې دامریکایانو دمزاج خلاف جسارت وکړ نو سملاسي دامریکایانو ماغزه په جوش راغلل او دبهرنیو چارو وزارت ته یې استحضار کړ اوهلته یې ورته ښه قوي اودس ورکړ اوژریې سرکوزی بیرته راولیږه اینده لپاره یې اعلان وکړ چې دامریکا دیپلوماتان او جنرالان به په هغو غونډو کې ګډون نکوي چې دافغانستان په استازولۍ هغو کې حمد الله محب شریک وي .

دا کیسه لا نه وه ختمه چې دیو بل عجیب او غریب راپورانکشاف هم وشو ، دیو ې باورې مرجع وېناده: خلیل زاد کابل ته په رسیدو ارګ کې داشرف غني او عبد الله په ګډون دحکومت او اپوزیسیون مشر ان خپل حضورته ور وبلل، په خبرو خبرو کې داشرف غني ډلې دامریکا نه ځینې ګیلې میلې ورته کړې چې جنابه! موږ ته خو بلکل راګوری هم نه؛ اویومخ

دیامه غورځول شوي یو! قطر کې طالبانو سره خبرې لري ښه باک به ولري که دمجلسونو دلړ حال احوال نه کله نه کله خبروئ! موږ خو دمتحده ایالاتو د دوست هیواد لپاره څومره قرباني ورکړې او لا هم ورکوويې

خو خلیل زاد چې پخپلو پرمختگونو ډیر غاور بریښیده، دهغوی گیلو میلوته چندان پام ورنکړ او خپل انگریزي تقریر ته یې دوام ورکړ، کله چې هغه خبرې بس کړې اشرف غني پخپله څوکۍ کې ځان سم کړ اوپه دې ډاډ چې زه او خلیل زاد دواړه دیو بادار نوکران یو! ضرف مسؤلیتونه بیل، بیل دي خلیل زاد ته په اشاره وویل: ډاکټر صیب زه او ته یو یو! که دسولې په روان بهیر کې درگډ شو کوم تاوان خو نه لري؟ که ستا ترڅنگ موږ هم ناست یو کوم زیان ولري؟ باید افغانان پوه شه دا وفهموي چې دافغانستان ولسمشر هم دچا نه کم ندی! هغه اختیار او واک لري، خپل استازیتوب پخپله کوي نه په بل چا! دې خبرو د خلیل زاد رغم یومخ تمام کړ او د تقریر په منځ کې یې له غني ویوښتل جنابه! تاسو دکوم استازیتوب خبره کوئ؟ دامریکا او که دافغانستان ؟ که دامریکا داستازولۍ خبره کوئ! هغه خو هغه دی تیار زه یم ! او که دافغانسنان دخلکو استازولۍ خبره کوئ... نو دلته دافغانانو استازي کله شته ... دلته د هغو خلکو چې دهغوی زامن او خپلوان وژل شوي کله استازي لري؟ تاسو او جناب ډاکټرصیب عبد الله ته خو موږ(امریکا) دا فرصت برابر کړ اوپه یو حکومت کې مو درته دوه سهمونه رامنځته کړل

دخلیل زاد خبرو په اشرف غني دومره بد اثر وکړ چې په خوله کې یې لاړې وچې او ستونی یې وچ شو غوښتل یې خلیل زاد ته څه ووایي! خو ټوخي ونیو... په ځای یې ډاکټر عبد الله دریځ ونیو داشرف غني په بیا اُح ...اُح مسکی مسکی کیده، خلیل زاد ته یې کړل جناب ډاکټر خلیل زادصیب زه په تا او دامریکا په ولسمشر ښاغلي ډونلډ ټرمپ صیب داباور لرم او د دوستو قواوو د مشر جنرال میلر په صلاحیتونو اعتراف لرم! او ځان دامریکا نه جلا نه شمیرم !تاسو چې هر گام اخلئ موږ ته به هغه دمنلو او قناعت وړوي.

داشرف غني وزیرانو د عبد الله په دې خبرو خپلمنځ کې یو بل ته حیران، حیران کتل ،نور چوپه خوله ناست وو د عبد الله نه وروسته اشرف غني بیا ځان راسم کړ: خلیل زاد ته په خطاب کې وویل ډاکټر صیب خلیل زاد معذرت غواړم ستونی مې بند شو او ناروغې لرم! ستاسو په صلاحیتونو لکه جناب ډاکټر صیب عبد الله چېوویل زه هم بشپړ یقین لرم کور مو ودان چې په موږ پوښتنه کوئ که نه مو کوله دچا زور درسره سم و! موږ پوهیږو ته په موږ مهربان یې او موږ دي تربل هرچا نه ډیر خوښ یو موږ اراده کړې دقطر بین الافغاني کانفرانس ته ستاسو دلزوم دید سره سم د دولت دچوکاټ نه بیرون کسان ورمعرفي کړو! زه همدا اوس سمدستي سلام رحیمي صیب راغواړم او هغه ته ستا په حضورکې دلیست برابرو لو حکم کوم او کوم کسان چې ستا لزوم دید وي دهغوی نومونه به هم رحیمي صیب یادابنت کړي، خلیل زاد دامریکا سفیر خواته په اشاره وویل تاسو دسفیر صیب دفتر ته ورشئ هلته به هغه ستاسو سرونه په ټول میکانزم خلاص کړي او زه هم دلته مجلس نه وزم بل ځای وعده لرم تاسو ته به دامریکا دسفارت نه معلومات درکول شي دهغو سره سم اماده گې ونیسئ

خلیل زاد او دهغه ملګري

دخوني نه ووتل اشرف غني ګنګس ښکاریده، زر ورته دخپلو مشاورینو پوج مظفر ورسید او غني ته یې دخپلې څوکۍ نه دپورته کیدو او شاتنی خوني ته دتلو سلا ورکړه ، غني خپل قت کړي خادر په اوږه کیښود او په وره دروازه دتالارڅخه ووت ،ورپسې سم دسلاکارانو او وزیرانو فوج مظفر هم یې ووت او دعبد الله نه ګیر چارپیره بیا خپل لوچان راټول وو په اشرف غني پسې خندل کرزي چې دپیل نه تروش او تریو ناست و، هغه هم دخلیل زاد دتلو سره سم ووت، سیاف او حکمتیار بیا یو بل ته زیږي زیږې کتل چې دا موږ خو په سرپو کې هم څوک شمار ې نه، سیاف یو نیمه وزیر ته و غږ کړ: برو برای ما از رئیس جمهور صیب وقت بګیر ما همرایش کار دار یم! حکمتیار غوښتل یو څه ووایي، خو غږ یې ناست او خف و څوک یې په خبره پوی نشول چې څه یې وویل؟ کریم خلیلي بیا دډاکټر عبد الله خوا نیولې وه هغه ته یې ویل: غني بسیار بدکرد خلیل راد خیلی هوشیار ادمی است ! بلی شما خوب کفتی ورنه خجالت بودیم ! عبد الله هغه ته دخپل سر په ښورولو داد ورکړ هدف یې داو چې خلیل زاد کدام طفل نیست ، نماینده ئی امریکا ست معمولی ګف نیست همرایش احتیاط خوبست عبدالله دخپلې څوکۍ پورته شو خپل ساتندویان تري تاوشول اوپه استاد سیاف غږ وکړ: استادما میریم بری ما کدام خدمت خونیست ! داچې حکمتیار دسیاف لمنه دومره کلکه نیولي وه چې سم ځان ور پورې سریښت کړی و ، عبد الله ته یې ویل ما هم میروم لیکن یک چند دقیقه همرائي حکمتیار صحبت داریم دعبد الله په وتلو سره ګڼه ګوڼه یوڅه کمه شوه سیاف او حکمتیار پښتو کې یوبل سره خبرې شروع کړې سیاف به اکثر په لوړ غږغږیده خو حکمتیاربه کوښښ کاوه چې څوک غږ وا نه وري اخر حبیب الرحمان حکمتیار هم ځان ورګډ کړ سیاف حکمتیار ته کاندي: زما خو طالب ډیر بدایشي... او هیڅ زړه مې نه غواړي چې ورسره ووینم! حکمتیار یې په تائید کې سر وښوریعني زه یې هم دلیدو ز غم نلرم! خو دلته دولت کې هم دمجاهدینو قدرنشته څوک په ښه سترګه ورته نه ګوري! دې دارګ دتشریفاتو یوغونډ منډ کارمند راغی او غږ یې کړ ازهمه مهمانان ګرامی تقاضه میشود لطفاً تالارتخلیه کندکه ما مردم کار خود انجام مینمایم ... حکمتیار سیاف ته وکتل دحال په ژبه یې ورته وویل دپښتنو او مجاهدینو دا حال دی.... حبیب الرحمان حکمتیار ،خپل پلار ته په اشاره وویل بس زو او له استاد اجازه اخلو، زه (راوي) هم نور تم نشوم اوژر ترهغوی مخکې دتالار څخه ووتم او دلته راته دغلامی یوتریخ داستان را برسیره شو چې څومره بده اوشرمونکې پدیده غلامې! دعاء مې وکړه یا الله هیڅوک هم دومره غلام نه کړې لکه داارګ میشتي واکمن ، موټرکې کیناستم ټوله ورځ مې په لار دحمزه بابا لاندې څوبیتونه ځان سره زمزمه کول او په دې سره مې دخپلو مغزو نه دغلامۍ د کثیف اونحسوس اثر دښکته کولو هڅه کوله:

چې بې تا چاټیټ نه شي ننګیالی زما ژوندون کړه
زړه زمادي مسلمان وي تفکر مې دپښتون کړه
زه له وخته ګیله نکړم چې ښادې یې له مایوړه
خو کاروان مې دهمت او استقلال بیرته راستون کړه
زه دي وچ هډوکي شپیلم خو ملت مې سلطان وي
دا زما دسخن سیوری په معنی کې همایون کړه



د غني ۲۵۰ کسان، ولې؟

فیض محمد ځلاند

افغان سوله د افغان جګړې هومره کړکیچنه او له ګکلیچونو ډکه ښکاري. ددې ستونزو په هواري کې د ملي وحدت د حکومت لوی مسولیت پروت دی. په تېرو اتلسو کلنو کې لومړی ځل دی چې امریکا د جګړې د پای ته رسولو تابیا نیولې، نیت یې کړی چې خپلې ستراتیژیکې ګټې د افغان جګړې پر ځای په افغان سوله کې ولټوي، خو له بده مرغه چې د امریکا افغان پارټنر (شریک ملګری) د کابل حکومت په داسې دوره رنګی، خپل سیاستونه په مخ بیا یې چې د افغان ولس ستره هیله (سوله) یې له کاواکی او ستونزې سره مخ کړې ده.

د افغان سولې اړوند د امریکا او طالبانو د پنځو بریالیو پړاوونو پایله دا شوې چې اوس باید افغان لوري (طالبان، د ملي وحدت حکومت، سیاسي ډلې...) جوړجاړي ته کېني، ددې جوړجاړي د رامنځته کېدو دپاره د طالبانو دا شرط چې مخامخ له افغان حکومت سره نه کېني، د بین الافغاني بحث اساس او بنیاد جوړوي. امریکا د طالبانو دا شرط ځکه منلی چې خپله ستونزه یې، د سولې شرایط یې، د جګړې د درېدا اړونه یې له طالبانو سره پرته د افغان حکومت له حضوره تمام کړل. داسې شواهد شته چې امریکا او طالبان په دوه مسلو (د امریکایي پوځیانو په وتلو او د طالبانو را ګرځېدا وروسته امریکا د نه تهدید) په خبرو هوکړې ته رسېدلي، خو دوه نورې مسلې چې (د افغان لوریو ترمنځ ګډ تفاهم او د اوربند) مسله به په بین الافغاني ناستو کې ترسره کېږي لا هم د افغانانو ترمنځ د ګډ تفاهم او خبرو پایلو ته پاتې شرایط دي.

ډاکتر صیب غني چې د خپلې ناکامي پنځه کلنې دورې پای ته نږدې دی، غواړي د خپلې ناکامی، غږ له افغان سولې واخلي، هېواد داسې یو کړکیچ ته ټېل وهي چې افغان مظلوم ولس دده د پنځو کلو ناکردي هېرې کړي او په داسې عذاب مبتلا شي چې د کفن کش کیسه پرې تکرار شي. له دې امله، د ماسکو د بریالي ناستې را پدېخوا غني په دې لته کې دی چې د افغانانو ترمنځ (طالبان او سیاسیونو) ترمنځ هر ډوله ناسته مختله کړي، پایلې یې له خنډ او ځنډ سره مخ کړي، د سولې پر ځای ټاکنو ته لومړیتوب ورکړي او په دې توګه خپله ناکامه پنځه کلنه دوره، پنځه نورو کلنو ته وغځوي.

غني د شنډ او خنډ په طرحو کې ډېر بریالی ښکاري ځکه کله چې د ماسکو ناسته د طالبانو او له کابل څخه د حامد کرزي په مشری، د پلاوې ترمنځ ترسره شوه، نړیوال ته دا تمه پیدا شوه چې نور نو

افغانان خپلو کې جوړېږي، د سولې روان بهیر بریالی کیږي، ټاکنې باید وځنډولی شي، سوله رامخته شي، نو د امریکا ، قطر شاهي دولت، طالبانو او افغان سیاسیونو په غوښتنه دا هوکړه وشوه چې د اپریل په شلمه به د بین الافغاني غونډې دویم پړاو په دوحه کې ترسره کیږي. د همدې اعلان سره سم، غني د افغان سولې اړوند له خپل پسیف (غیری فعال) سیاست څخه اکتیف (فعال) حالت ته راګرځي. د سولې د رهبري شورا تر نامه لاندې یوه ناقصه طرحه عملي کوي، تر څو افغان سیاسي مشران دیته اړ کړي چې په سوله کې د غني مشرتوب او دده د مذاکرتي ډلې استازیتوب له طالبانو سره ومني، افغان سیاسیون چې د غني خودخواهۍ ته پام کیږي، د سولې له رهبرۍ شورا خپلې پښې سپکوي.

غني چې نن له هر بل چا او وخته زیات منزوي شوی دی، د سولې د ارزښت او د ولس د هیلو په سپکولو کې خپله درنه لټوي. د قطر د شاهي دولت په غوښتنه له خلیلزاد د شاوخوا ۱۵۰ کسانو د ګډون غوښتنه وشوه چې د بین الافغاني بحث د دویم پړاو خبرو ته تابیا ونیولی شي، د ګډون کوونکو په نوملړ کې غني ډېره فاسده لاسوهنه وکړه، د ۱۵۰ کسانو پر ځای یې ۲۵۰ داسې کسان چې اکثریت یې د وطن په غم ښاد دي، د جګړې ښتوګان دي، د جګړې دوام ته ډولونه وهي دا یې پرته له مشورې له رسنیو سره شریک کړل، تر څو د افغانانو ترمنځ، د سولې د غونډې د ګډونوالو ترمنځ بې باورې، شخصیت وژنه او اختلاف ته لار هواره کړي او په دې توګه د دوحې ناسته له خنډ او ځنډ سره مخ کړي.

د غني د ناجوړه لیست په وړاندې کرزی دوحی ته له تګ په شا شو، اتمر، قانوني، محقق، عطا محمد نور له تګه په شا شول، په دې توګه د قطر حکومت پریکړه وکړه چې موږ هم الوتکه کابل ته نه لیږو، د سولې غونډه ځنډېږو. غونډه کیدای شي ترسره شي، خو د غونډې پیغام غني سپک کړ، غونډه کیدای شي ترسره شي خو د غونډې ګډونوال غني یو له بل سره په ناندریو کې کړل، غونډه کیدای شي ترسره شي خو د غونډې کیفیت د کمیت تر اغېز لاندې راغی، غونډه کیدای شي ترسره خو غني غونډه د بین الافغاني ډیلاګ د پیل د پاره خنډ کړه. غني یو ځل بیا بریالی شو، افغان مظلوم ولس ناکام شو، خو تر کله!!!

موزي په مینه څه پوهیږي

کلورینې پاڼې

غزل!

عشقه! سلام اومنه دستا ښکلی دلدار یمه
عشقه! تابه نه پرېږدم له تاڅخه تل ځار یمه

عشقه! د زما د ژوند خوندونه ټول په تاکې دي
عشقه! دمنصور غوندې دې مینه کې په داریمه

عشقه! ته مې توره لیلا زه دې سپین جنون کې ورک
عشقه! ستا لپاره د زړه ویتو ته تیار یمه

عشقه! زما دکلي د ګودر زېړ مازدیګر یې ته
عشقه! زېړ زېښلی یم، مدام په انتظار یمه

عشقه! ته شکره یې نه، نه، ته دجنت شراب
عشقه! ته مې یار یې ځکه تل خمار خمار یمه

عشقه! له هرڅه نه راته ګران یې زما ځان یې ته
عشقه! نه، اروا مې یې؛ بغیر لتا ناچار یمه

عشقه! نه، غلط شومه، له روح او ځان هم ګران راته
عشقه! پس کعبه مې یې او زه دې ایماندار یمه

عشقه! له سرو ویتو مې رنګونه پسرلي اخلي
عشقه! پر وطن قربان طالب پرهار پرهار یمه

عشقه! ما تر خدای بوځه او زه به دې جنت ته ورم
عشقه! زما ربیار شه زه عرفان دستا ربیار یمه

سوله

هبة الله منتقم

سوله سوله نه غواړي جګړه کوي
پام پرې دوکه نشې بهانه کوي

ترمپ ته وایي پاته شئ چې لاړ نشې
اوس په لر پیسو هم ګذاره کوي

اوس یې هم زړه یخ نه دی پر دې خاوره
تښتي یرغلګر دا تري ګیله کوي

داسې خدای وهلی اولس مشر دی
تل د جنازې لمونځ کې سجده کوي

سرو ویتو کې رنګ مو مسجدونه دي
دا هر څه د بل په اشاره کوي

ځنګه انتقام ورڅخه وانخلم
وګورئ بمبارد په مدرسه کوي

دا عسکرچې ته وایي غلام ندئ
وګوره چې جنګ له چاسره کوي

وایم هبةالله منتقم دوی ته
څه چې امریکا وایي هغه کوي

غزل!

ډاکټر احسان الله درمل

ورځ د ظالمانو د حساب را رسېدلې ده
دلته هنگامه د انقلاب را رسېدلې ده

ځمکې ورکه نکړه زما وینه، څه غاټول شوله ...
څه هم په جامه کې د گلاب را رسېدلې ده

سپکه چې د لویو دریابونو د څپو کوي
څه به وکړي؟ ورکه د حباب را رسېدلې ده

ژوند مو تر محشره کم نه و، وېره د محشر په څه؟
موږ ته خپله برخه د عذاب را رسېدلې ده

لوړه او شعور شاید په یو سر کې ځایېږي نه
گوره رمه کور ته د قصاب را رسېدلې ده

تورې شپې تېر دې ټولوه چې قافله د لمر
نه گورې چې څه په آب و تاب را رسېدلې ده

شعر

جانان خدرخېل

زمزمې وې، ولولې وې، ستا د مینې ترانې وې
د سکون ورځې او شپې وې، هغه څهٔ د خوند شېبې وې

گلابونه مې یاران و، لاس په لاس سره روان و
څهٔ نرې نرې باران و، ښکلاگانې مېلمنې وې

ستا د حُسن تلاوت و او د ښکلو امامت و
یو سپېڅلی بغاوت و، مستې مستې حماسې وې

زموږ لوړې ارادې وې، زموږ سترې حوصلې وې
زموږ پاکې عقیدې وې، زموږ زړونو کې جذبې وې

وې ملگرې مو رڼاوې، ماتېدې تورې بلاوې
چې راوړلې مو بریاوې، دعاگانې راپسې وې

نه مو دمه نه مو خوب و، زلمیتوب مو لېونتوب و
زموږ داسې مئینتوب و، معشوقې مو زولنې وې

خوشالي وه، سوکالي وه "خدرخېلـه" آزادي وه
څومره ستره نیکمرغي وه، څومره خوښې پرگنې وې

تر امریکایانو وروسته افغانستان

شاهد (غزنيوال)

امریکایانو ۱۸ کاله وړاندې اسلامي امارت د دې لپاره رنګ کړ چې افغانستان تر خپلې ولکې لاندې او بیا د هغه له جیوپولیتیک موقعیت څخه په استفادې سره منځنۍ آسیا او د افغانستان ګاونډ تر خپل اغیز لاندې راولي.

خو د الله تعالی په نصرت او د افغانستان د مسلمان ولس په مرسته اسلامي امارت وکړای شو د خپل جهادي مقاومت په برکت اشغالګر امریکایان د جګړې په ډګر کې امات او د افغانستان د اشغال خیال یې په بشپړه توګه له دماغه وباسي.

دا چې اوس هغوی له افغانستان څخه وتلو ته مجبورشوي نو اسلامي امارت ته په کار ده چې د خپل حکیمانه سیاست په غوره کولو سره تر امریکایانو وروسته افغانستان لپاره داسې یوه جامعه طرحه ولري چې د هغې په عملي کولو سره نور افغانستان د جګړې او ګډوډې له شره وژغورل شي.

امریکایان به له افغانستان څخه تر وتلو وروسته هم خپل نهایي کوښښ وکړي چې داسې یو ګډوډ افغانستان تر شا پرېږدي چې د هغه په سمولو او منظمولو کې امارت داسې بدنام شي لکه د شوروي ځواکونو تر وتلو او کمونیستي نظام تر سقوط وروسته چې جهادي تنظیمونه په افغانستان کې بدنام او ناکام شول.

له دغې ناکامي څخه د ژغورنې یوه وسیله د هغه ولس ارادې ته مراجعه کول دي چې تېر (۱۸) کاله یې له امریکایانو سره په مقاومت کې هرډول قرباني زغملې دي:

په مشخص ډول که تر امریکايي ځواکونو وتلو وړاندې اسلامي امارت د بین الافغاني تفاهم له مخې داسې پلان ترتیب او عملي کړي چې ټولو افغانانو ته ورکې د نظام جوړونې او هیواد رغاونې سهم ورکړل شي شايي چې په راتلونکي کې ورباندې په هیواد کې د هر قسم ګډوډې او تباهي مخه پرې ونیول شي.

ځکه دا چې هیواد د ټولو افغانانو ګډ کور دی ، نو د هغه د راتلونکي نظام او بیا د هغه عمراني رغاونې دنده هم د ټولو مشترک مسؤلیت دی.

لوی خدای دې وکړي له اشغاله وروسته هیواد مو د ټولو ځوریدلو افغانانو لپاره د رابوځای کیدو پُرامنه کور وي.

د الفتح عملیاتو

اعلان بزدله غلیم په جنون راوست !!

هرکال په دغو شپو او ورځو کې د اسلامي امارت له لوري د یوه خاص دیني او جهادي مناسبت په اساس پسرلني عملیات اعلانیږي ؛ چې متعال رب جل جلاله په خپل خاص عنایت سره په ټولو اعلان شوو عملیاتو کې د مجاهدینو له توقعاتو او هیلو لوړ نصرتونه او برکتونه لورولي ؛ او په ترڅ کې یې داخلي او خارجي یرغلګرو او د اسلام نورو دښمنانو ته تاریخي اوتل پاتې زیانونه او عبرتناک درسونه ورکړل شوي دي .

لکه د تېر کال (الخندق) کفر ځپونکي عملیاتو چې د مغرور او ناترسه دښمن ټولې ستراتیژۍ او جنګي پلانونه یې په نطفه کې خنثی ، لسګونه ولسوالۍ او سلګونه پاخه سنګرونه یې د مجاهدینو لاسته ورغلل او په نورو زیانونو اوتلفاتو سربیره پکښې د دښمن دومره مهمې او کلیدي څېرې او چارواکي د جهنم کندو ته ولیږدول شول ؛ چې د کابل رژیم او د پنتاګون ستنې او بنسټونه یې ولړزېدل او بالآخره ټرمپ او اتحادیان یې دېته اماده شول ؛ چې د غرور او تکبر له بامه راکوز او له اسلامي امارت سره خبرو او مذاکراتو ته کیني .

د الفتح د مبارکو عملیاتو هیبت او موثریت له دې ځایه جوتیږي ؛ چې فقط له اعلانولو سره یې د کابل رژیم له جعلي مفکرینو او هم یې له بادارانو څخه چیغې او کوکارې پورته شوې ، دا ځکه چې بزدله غلیم په دې پوهیږي ؛ چې د الفتح عملیات څه معنا او مفهوم لري او مجاهدینو ته کوم ډول روحیه او مورال وربښلی شي .

د تعجب او حیرت ځای خو دا دی ؛ چې د کابل رژیم غلام او مفسدو چارواکو د خپلو بادارانو په زور او ملتیا د افغان ولس په مقابل کې د خپلو وحشي ملیشو او نام نهاده قطعاتو په توسط د هواد په لر او بر کې په بېګناه او بېوزلو هېوادوالو سلګونه چاپې وهي او هره شپه د لسګونه مظلومو افغانانو وینې بهوي ، دهغې سر بېره اوس یې د باعفته ولسي وګړو په مقابل کې دې بربریت ته هم لاس ور اوږد کړی ؛ چې د چاپو پر مهال نارینه ځای پرځای په ډیرې بې رحمۍ سره شهیدانوي او (تور سرې باعفته میندې) یې له ځانو سره وړي ؛ خو ددې ناوړه او کرغېړن کردار سربېره بیا مکار او سپین سترګی دښمن په ډیرې سپین سترګۍ سره د اسلامي امارت د پسرلنیو عملیاتو غندنه کوي او استدلال راوړي چې د سولې او مذاکراتو په دوران کې د عملیاتو اعلانول مناسب اقدام ندی .

مختور او شرمیدلي دښمن هغه مهال له اسلامي امارت څخه دا ډول توقع لرلای شوای ؛ چې دوي خو سولې ته د ژمنتیا په نیت لږ تر لږه د هوایي بمباریو ، شپنیو چاپو او د ډرون بریدونو دا ټوره او قاتله لړۍ بنده کړې او محدوده کړې وای ، او یا یې د ۴۰ زرو تنو هغو مظلومو افغانانو له جملې څخه چې د ظلم او بربریت په تورو زندانونو کې ورسره پراته دي حد اقل لس زره تنه سولې ته د تلوسې او تمایل په نیت ازاد کړي وای .

خو حقیقت دا دی ؛ چې امریکایي ډالرو په دوي کې د ذرې برابر احساس ، ضمیر او غیرت ندی پرېښی چې دوي پرې دا ډول ځلېدلی او له انسانیت ډک اسلامي چلند ترسره کړي .

مونږ په دې باور لرو چې د سږ کال پسرلني عملیات به د مبیني فتحې زیری لري او پر افغان ولس د مفسدینو او یرغلګرو تور حاکمیت او ناولي استبداد ته به د پای ټکی کېښودل کیږي ... وماذلک علی الله بعزیز.

د اسلامي نړۍ ځلانده ستوري

شیخ الاسلام امام بغوي - رحمه الله-

هغه دعلوموسمندر و. اسلامي ملت ته يې ډېر څه په میراث پرېښودل

دافغانستان سپېڅلې خاوره که په تاریخي استناد له يوه پلوه دسترو غازیانو تاتوبی او د یاغي تاړاکونو هديره ګرځېدلې، له بله پلوه د داسې علمي هستو زانګو هم ده،چې نړۍ کې يې دعلمي رڼاوو زرزري مراندې سره غړلي او غځولي دي.

له دغو درنوعلمي ستو څخه يو هم ؛ شیخ الإسلام، الإمام، الحافظ، الفقيه، المجتهد،المحدث، العلامة، القدوة، محيي السنة، المفسر، ركن الدين، أبومحمد الحسين بن مسعود الفراء البغوي دی، چې په (۴۳۳ هـ اويا ۴۳۶هـ) کال د هرات ولایت په (بغشور) یا (بغ) سیمه کې نړۍ ته راغلی. (أبو محمد) يې کنیت- (محيِّي السنة)، (رُكْنِ الدِّين) او(ظهيرالدين) لقبونه وو. الفَرَّاءُ يې « نسبتي نوم » دی،چې (الْفِـرَاءِ) دڅرمن/پوستکو کاروبار او سوداګرۍ ته يې نسبت شوی،او دا يې دپلار- نیکونو پیشه وه. د «البغوي» نوم نسبت يې د«بغ» او یا «بغشور» دهرات هغې سیمې ته شوی چې د سرخس او مرو ترمنځ موقعیت لري.

زده کړه يې:

دعلامه بغوي -رحمة الله عليه- کورنۍ له جیدو دیني علماوو سره تړاو درلود، دنوموړي دپلار او نیکه ترټولو لويه تمنا دا وه چې دکورنۍ دغه ډېوه يې ددیني علم يو مثالي باعمله عالم جوړېدو ترڅنګ ددې سبب وګرځي چې د علم دنورځلاوې د نړۍ هر لور ته خپرې کړي.

همدغه تمنا او دعاوې يې د لارې او سفرڅوېرۍ (توښه) شو،کلی يې پرېښود او د« مرو روذ» ښار ته دخپل وخت انتهایي لوړ علمي شخصیت، حسين بن محمدالمروزي القاضي دشاګردانو په حلقه کې شامل شو، او په ډېره مختصره موده کې يې دخپل محنت، ذهانت، او خلوص پر بنا دخپل مربي اومشفق استاد په نظر کې د ګرانښت او درنښت اعلی مقام حاصل کړ. دلته يې دعلومو له خزانې څخه شپه ورځ دخپل زيار پرمټ چې څومره شونې وه،اخیستنه وکړه.

مشايخ يې:

له دې وروسته يې دعلم او حکمت په لټون او پرمخيون پسې ډېرو هيوادونو ته سفرونه وکړل او دوخت له جليل القدر علمي شخصيتونو يې په لويه پيمانه علوم ترلاسه کړل، چې دځينو مشايخو نومونه يې په لاندې ډول دي:

۱- أبو علی الحسين بن محمد بن أحمد المرزوي.

۲ أبو عمر عبد الواحد بن أحمد المليحی الهروي.

۳- أبو الحسن علی بن یوسف الجويني.

۴- أبو بكر يعقوب بن أحمد الصرفي النيسابوري.

۵- أبو علی حسان بن سعيد المنيعي.

۶- أبو بكر محمد بن عبد الصمد الترابي المرزوي.

۷- أبو القاسم عبد الكريم بن عبد الملك النيسابوري
۸- أبو صالح أحمد بن عبد الملك النيسابوري.
۹- أبو تراب عبدالباقي بن يوسف المراغي
۱۰- عمر بن عبد العزيز القشاني.
۱۱- أبو الحسن محمد بن محمد الشريزي.
۱۲- أبو سعد أحمد بن محمد الخطيب الحميدي.
۱۳- أبو محمد عبد الله بن عبد الصمد الجوزاني.
۱۴- أبو جعفر محمد بن عبد الله الطوسي.
۱۵- أبو طاهر محمد بن علي الزراد.
۱۶- أبوبكر أحمد بن أبي نصر الكوفاني.
۱۷- أبو منصور محمد بن عبد الملك السرخسي.
۱۸- أبو عبد الله محمد بن الفضل بن جعفر الخرقي.
۱۹- أبوالحسن علي بن الحسين بن الحسن القرينيني.
۲۰ - أبوالحسن عبد الرحمن بن محمد الداودي.

شاګردان يې:

امام بغوي رحمة الله، دعلومو ترحصول وروسته خپل وطن -مرو روذ- ته ستون شو او هلته يې دتدريس چارې پيل کړې،چې دلې دلې ديني طالبان پرې رامات او لوی شمېر يې له دريابي علم څخه تندې خړوبې کړې،دبېلګې په توګه:

۱- مجد الدين أبو منصور محمد (هغه شخصيت ، چې شرح السنه يې له مؤلف «امام بغوي» څخه روايت کړې،او له ده څخه ګورا زيانو ديني عالمانو لاس ته وړې.)

۲- أبو الفتوح محمد بن محمد الطائي الهمداني(لوی عربي محدث، چې عظيم الشان تأليف «الأربعين....» يې دعالي افکارو ترجماني کوي).

۳- عبد الرحمن بن عبد الله الليثي (لوی امام او فقيه)

۴- أبو مقاتل الديلمي(پر عماد الدين ملقب او نوموتی شاګرد يې)

۵- عمربن الحسن الرازي (د امام فخرالدين الرازي پلار)

۶- أبو المکارم فضل الله بن محمد النوقاني(دا يې وروستی شاګرد و، چې روايت يې ورڅخه کړی، او تر شپږسويم هجري کال پورې ژوندی او زيات علماء يې تولني ته وړاندې کړي دي).

استشهادات يې:

حافظ ذهبي: الشيخ، الامام،العلامة، القدوة،الحافظ،شيخ الاسلام،محيی السنة، مفسر د ډېرو تصانيفو څښتن... سيد، امام، عالم،علامه او زاهد و. په تفسير کې دهغه قدم ډېر مضبوط و او په فقه کې يې لاس ډېر اوږد و.

ابن خلکان: هغه په علومو کې درياب و، دکلام الله په تفسير کې يې تصنيف،او د قول النبي(حديث) مشکلاتو يې وضاحت کړی.

ابن کثير: هغه دخپلې زمانې علامه و، متدين،ورع،زاهد،عابد او صالح شخصيت و.

سيوطي: دده په تصنيفاتو کې برکت اچول شوی، نيت او اراده يې رښتينې وه، بې شکه دربانيينو علماوو څخه و او په ډېر لږ څه يې قناعت درلود.

داودي: هغه يو متقي، زاهد او عظيم شخصيت و، دی په تفسير کې امام،په حديث کې امام او په فقه کې امام و.

ابن العماد الحنبلي: امام بغوي لوی محدث،مفسر، صاحب التصانيف او د خراسان دخاورې ستر عالم و.

ابن قاضي شبه: بهترين مفسر،محدث او دلوړې پوړی فقيه و. دهغه علمي زيارونه، نن ورځ هم دعلم لارويانو ته دلارې مشال دی، هغه چې راتلونکي اسلامي ملت ته په ميراث څه پريښودل؛ نه هېرېدونکی علمي احسان يې دی.

صفات او ځانګړنې يې:

دخلکو په زړونو کې يې داحترام دا نبه وه،چې دخپل نوم پرځای يې پر «محی السنه»يا«شيخ الاسلام»... ياداوه. نوموړي دتوصيف تر هغه مقام رسيدلی و، چې دصحابه -رضي الله عنهم- او تابعينو-رحمة الله عليهم- اتباع يې دهر عمل پر خصوصيت اوښتي وه. نوموړی د له ائمة اهل السنة

والجماعة نامتو امام او له رجال الحق والهدی پیاوړی رجل و. دقران کریم تفسیر،نبوي احادیث، او دصحابه کرامو اعمال یې دخپل فکر او خیال راهنما جوړشوي وو.

په فقه کې دامام شافعي مقلد و، دنورو ائمه وو دلائل یې په ښه دیانت داری تجزیه کول، دژوند ترپایه یې له عقدونو(رخو)، تعصباتو او اختلافاتو څخه ساتلی و. ددنیاوي ضرورتونو حصول او عدم حصول یې دخان لپاره هیڅ مسئله نه ده ګڼلې،له دنیاوي چمک او ځلاوو څخه کله هم نه دی متاثر شوی. دنیک نیت،سخاوت، او خاکسارمزاج خاوند و، اثار (کتابونه) یې په اسلامي امت کې له سترمقبولیت برخیز شوي دي.

کتابونه یې:

امام بغوي رحمه الله، په بېلابېلو موضوعاتو درانه تصنیفات او تالیفات کښلي،چې ځینې یې په لاندې ډول دي:

۱- معالم التنزيل / تفسير البغوي
۲- الأنوار في شمائل النبي المختار.
۳- ترجمة الأحكام في الفروع .
۴- مصابيح السنة.
۵- الجمع بين الصحيحين.
۶- شرح الجامع للترمذي.
۷- شرح السنة.
۸- فتاوى البغوي.
۹- فتاوى المروالروزي.
۱۰- أربعون حديثاً.
۱۱- الكفاية في القراءة.
۱۲- المدخل إلى مصابيح السنة.
۱۳- التهذيب في الفقه .
۱۴- الكفاية في الفروع.
۱۵- معجم الشيوخ.

مړینه یې:

امام بغوي – رحمة الله علیه- علمي دګړونو ته تر سترو خدمتونو وروسته د ۵۱۶هـ یا په ۵۱۰هـ کال دشوال په میاشت کې دبادغیس ولایت په بالامرغاب (مرو الروذ) سیمه کې له دې فاني نړۍ څخه دتل لپاره وکوچېد، او دیادې منطقې په تالقان نومې هدېره کې دخپل استاد قاضي حسین -رحمه الله- ترڅنګ خاورو ته وسپارل شو.

سرچینې:

الأعلام – زركلي
معجم البلدان - ياقوت الحموي
سير أعلام النبلاء – ذهبي
وفيات الأعيان- ابن خلكان
طبقات المفسرين – داودي
البداية والنهاية ابن كثير
طبقات الحفاظ- سيوطي
محدث ؛ علمي او اصلاحي اردو مجله/ دسمبر ۱۹۸۸ ، شماره ۱۷۰
مجلة البيان ـ عربي مجله، پنځمه ګڼه/ شعبان ۱۴۰۷ ـ اپریل ۱۹۸۷م
مجلة الصمود الإسلامية؛ داسلامي امارت عربي مجله /۵/ ۲۰۱۷م

ولې عصري علوم زده کوو؟

لیکوال: زاهدالله ابراهیمزی "اندړ"

علم یوه عربي کلمه ده چې په لغت کې د پېژندنې، شعور، اتقان او یقین په معنی په کار وړل کېږي او په اصطلاحي معنی کې یې علماوو مختلف تعریفونه وړاندې کړي دي چې د هغوی له جملې دغه لاندې اصطلاحي تعریف غوره کوو د یوه شي حقیقت درک کول او په هغه پوهېدلو ته علم وایي.

په ټوله (مجموع) کې علم په دوو برخو وېشل شوی:

۱ :دیني علم چې نقلي علم هم ورته ویل کیږي ۲: عصري علم چې (عقلي علم) یا تجربوي علم دی

عصري علوم په عمومي ډول پر دوو برخو وېشل شوي دي چې یو ډول یې مجرد ساینس او بل ډول یې تطبیقي ساینس (هغه ساینس چې عملي ساحه لري) بلل کېږي مجرد ساینس د ریاضي، الجبر، هندسې، مثلثاتو او داسې نورو علومو څخه بحث کوي چې هغه تطبیقي اړخ نه لري او د مجرد ساینس برخې دي

تطبیقي ساینس: هغه دي چې تطبیقي اړخ لري هغه بیا پر دوه ډوله دی: بیالوژیکل ساینس او فزیکل ساینس.

بیالوژیکل ساینس: هغه علم دي چې ژوندي یا وده کونکي موجودات څیړي.

فزیکل ساینس : هغه علم دی چې غیرحیه یا هغه موجودات تر څېړنې لاندې نیسي چې ژوند نلري او وده نه کوي ، دغه علم بیا په خپل ذات کې پرخو برخو وېشل شوی لکه : فزیک، کیمیا، جیولوژي.

داچې متن اوږد نشي او ډېر وخت ونه نیسي نو د عصري علومو په اړه په همدومره مالومات راته بسنه کوي.

د عصري علومو د اهمیت په اړه خپل بحث ته دوام:

لومړی د عصري علومو اهمیت د قران عظیم الشان په مبارکو ایتونو سره په ثبوت رسوو چې له دیني اړخه عصري علوم څومره د اهمیت وړ دي.

قران عظیم الشان چې د اسلام د مبارک دین سپیڅلی کتاب دی چې د نومړي دین د احکامو او قوانینو.. سربېره پکې د داسې علمي او ساینسي حقایقو څخه پرده پورته شوېده چې په هغه مهال (د اسلام په پیل) کې یې تصور لا هم نه کېدو، د قران کریم مبارک آیاتونه په سلو کې شل سلنه په علمي مسایلو پورې خانګړي شوي دي او هغو علومو ته اشاره کوي چې په هغو د جاهلیت د زمانې عربو پوهېدل ناشوني وه مګر د نن ورځې د علم پرمختګ د قران کریم معجزې په اثبات رسولې دي.

چې له یادو معجزو څخه په لاندې ډول درېو معجزو ته په لنډه توګه اشاره کوم:

۱ :الله جله جلاله فرمايي:(وَمِنْ كُـلِّ شَيْءٍ خَلَقْنَـا زَوْجَيْنِ....) سورت الذاريات (۴۹) ايـت، ژبـاړه: او هـر شی مي جوړه پيدا کړی....

اوس دلته پوښتنه پيدا كيږي، سمه ده حيوانات مذكر او مونث لري، اوسـني سـاينس ثابتـه كـړه چـې نباتات هم مذكر او مونث لري او د القاح عمليه سرته رسـوي ، اوس كـه نـور شـيان مـثلاً تلـويزون، چـوكي، كمپيوټر، غر، سيندونه څنګه جوړه پيداشوي؟

دلته د دې مبارک ايت تفسير ساينس كـوي: هـر هغه څه چې موږ يې وينو او په فضاء كې ځاى نيسي- هغه ماده بلل كيږي او هره ماده له بـې شـميره اتومونـو څخه جوړه شوي او هر آتوم درې ذرات لري چې په دې كـې بيـا الكـترون منفـي ذره ده او پروټـون مثبتـه او نيوټرون خنثى ذره، اوس نو پوه شـولو چـې ټـول شـته موجودات لكه حيوان، خمكه او داسې نور د مثبـت او منفي ذراتو څخه جوړ دي.

۲ :قرانكريم انسانانو ته په پوره وضاحت فرمـايي چې: (هُوَ الَّذِي خَلَقَ لَكُمْ مَـا فِي الأَرْضِ جَمِيعًـا) دبقـرې سورت ۲۹ ايت، ژباړه: هغه رب چې ټول هغه څه چې په ځمكه كې دي، ستاسو لپاره يې پيدا كړي، اوس كه وګـورو د اوسـني ساينسي- او ټيكنـالوژيكي پرمختګـ اكثره عوامل ياني كيمياوي عناصر په ځمكه كې دي، چـې د ځمكـې پـر دغـه سـتري هسـتي (عنـاصر، مينرالونه) او نورو پوهيـدل لـه ساينسي- علومـو پرتـه ناشوني ده ، د الله تعالي په كايناتو كې كـه ځمكـه وي او كه فضاء، فكر كول، تدبر او ذكر دی، او اللـه تعـالى په څوځلهپه قرانكريم كې د تدبر حكم كړی.

۳ :همدارنګـه د الانفـال سـورت پـه (٦٠)شـميره ايت كې، الله تعالى حكم كړی چې د دښمن (كفـارو او منافقينو) په وړاندي هـر هغـه څـه چمتـو كـړئ چـې ستاسو په وس او توان كـې وي پـه دې اړه اللـه تعـالى فرمايي: (وَأَعِدُّواْ لَهُم مَّا ٱسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّة ....) الايه او د هغوی (دښمن) په وړاندې هر هغه څه تيـار كـړئ چـې ستاسو په وس كې وي.

كه پورتنی ايـت كريمـه پـه اوسـني عصر- كـې تفسير كړو، نو نن يې وجوبـي حكـم دادی چـې زموږ دښـمن پـه هسـتوي او ذروي وسـلو او ليـري واټـن ويشتونكو توغندیو او بې پیلوټه الوتكو سمبال دی، د الله تعالى ددې حكم له مخې موږ مسـلمانانو تـه امـر شوی چې په ورته وسائيلو سمبال وه اوسوئ، اوس نـو هستوي او ذروي وسلې او بې پیلوټه الوتكې جوړول او سايبري جګړې (cyber wars) له شـكه پرتـه ساينسي- علومو ته اړتيا لري. علماء وايـي چـې د پـورتني ايـت كريمه سره سم پـر مسـلمانانو كفـايي فـرض ده چـې د دښـمن پـه وړانـدي د عصر- لـه غوښـتنو سره سـم پـه وسائيلو او امكاناتو خـان سـمبال كـړي چـې دا پورتـه كړني د عصري علومو څخه پرته امكان نه لري.

په همدې ترتيب د قران عظيم الشان ٦١ مبـارک ايتونه په رياضياتو، د فزيک علم (د ځمكـې جاذبـه او حركت ، د هـواطبقې او د اتومسـفير فشـارپه اړه (٦۴) ايتونـه راغـلي او همدارنګـه ۱۰٦ ايتونـه پـر اقتصـاد باندې راڅرخي نو كه دا ټول ايتونه تفسـير كـړای شي نو سم دم بـه كتـابتون تـرې جوړ شي چـې د عصري علومو د اهميت لرلو په هكله يو بل قناعـت بښـونكی دليل دی.

همدارنګه د نبي (ع) په يـو حـديث مبـارک كـې راغلي له شكه پرته الله تعالى هـيڅ درد (نـاروغي) نـه ده پيداكړې مګـر دا چـې ورتـه يـې شـفاء پيـداكړې، څوک چې علم لري ورباندي پوهيږي او څوک چې بـې علمـه دي وربانـدي نـه پـوهيږي. ترمـذي دا حـديث صحيح ګڼلی.

اوس نو د کیمیا، طب، بیولوژي، فارمیسي پرته د اوسنیو ناروغیو لپاره کله دوا جوړیدای شي، په همدې بنسټ دا پوره اشاره ده چې کله هره ناروغي پیدا کیږي انسانان په ځانګړې توګه مسلمانان یې باید په وړاندې دوا، معالجه او حتی وقایعه ولري.

همدارنګه د اسلام د ځنو مخورو علامو ویناو ته ورګرځو چې هغوی د عصري علوم په اړه څه نظر لري:

۱:کچیرې څوک د دنیوي یا عصري علومو زده کړه د مسلمانانو د مصالحو، لوړوالي او د کفارو څخه د مسلمانانو د بې احتیاجۍ او اکتفاء په نیت وکړي نو دا لوی اجر لري، بل دا چې د شرعي او دنیوي علومو یو ځایوالی اړین دی او دا دواړه یو له بل څخه نشي-بېل کیدای، په پخوا وخت کې ډیر علماؤ شرعي او دینوي دواړه علوم حاصل کړی و، لکه ابن جوزیه رحمه الله په شرعي علم کې وتلی عالم و مګر د طب علم یې هم حاصل کړی و، همداسې نور علماء "زادالمعاد"

۲ :همدا رنګه فتاوی اللجنة الدائمة لیکي: هر عصري او دنیوي علم چې هغې ته امت اړتیا لري او په هغې باندې یې ژوند ولاړ دی لکه طب، زراعت، انجنیري او داسې نور که د زده کړې څخه اراده او نیت دا وي چې اسلامي امت ته مې ګټه ورسیږي، د امت شان لوړ شي، او مسلمانان د کفري هیوادونو څخه بې نیازه شي نو دا همغه درجات دي چې په قرانکریم ور ته اشاره شوې ده.

۳ :امام غزالي رحمه الله په خپل کتاب (احیاء علوم الدین) کې د طب اوحساب علوم (ریاضیات علوم) ته کفایي فرض ویلي او د کفایي فرض علم تعریف یې داسې کړی: هغه علم چې د دنیا کارونه له هغه پرته نه تر سره کیږي، فرض کفایي بلل کیږي. نومړی زیاتوي چې د طب علم ته د صحت په برخه کې او حساب (ریاضي) علم ته په ډېرو معاملاتو کې زیاته اړتیا لیدل کیږي ځکه کفایي فرض ده.

په همدې ډول د انسان له پیدایښت څخه تر اوسنی زمانې پورې انسانانو د خپلو اړتیاو او موجوده امکاناتو په نظر کې نیولو سره له مروجه علومو او الاتو څخه ګټه پورته کوله او د وخت په تیرېدلو سره د پوهانو په زیار او هڅو سره د ژوند د هوسایینې او پر مختګ لپاره پر مختللي وسائل او ماشینونه رامنځته شول، د کښتۍ څخه نیولې تر موټره حتی تر الوتکو، اوبتلونو او فضایي راکټونو ته خبره ورسیده، او د موبایل، کمپیوټر او انټرنیټ په رامنځته کېدلو سره خو نور هم د کار اسانتیا را منځ ته شوه خو مسلمانانو خپل دغه میراث نورو ته پرېښود او خپله بېغمه ورته کښېنستل پداسې حال کې چې د دوی نیکونو دغه علمونه یا منځ ته راوړي دي او یا یې لېږ تر لیږه وده ورکړې وه د بېلګې په توګه په عباسي خلافت کې د هارون رشید خلیفه په وخت کې د هغه د وخت یوه مهمه لاسته راوړنه په بغداد کې د ساعت جوړول و کله چې یو ساعت د فرانسې پاچا شار لمان ته په تحفه کې ولیږل د فرانسې پاچا یې په لیدلو سره حیران شو او خپلو وزیرانو ته یې وویل دا مسلمان عجیب خلک دي د وسپنې په یو ټکری کې یې پیریان بند کړي چې دغه کوچني شیان یې په حرکت راوستلي دي او ټک ټک اواز کوي. له دې پورته بېلګي څخه موږ دا پرتله کولی شو چې مسلمانان نسبتاً پخوا زمانو ته ډېر شاته پاته دي او یواځنی لامل یې عصري علومو ته نه پاملرنه ده په همدې بنسټ اوس ډېری اسلامي هېوادونه دفاعي وسائل لکه الوتکي، هستوي بمونه، پوځي سمندري بېړۍ او داسې نور یا له فرانسې اخلي او یا له امریکا او یا له داسې نورو هېوادو څخه چې ټول یې کفري هېوادونه دي.

پر اسلامي نړۍ د ټرمپ بل ستر ګوزار

حسن مومند

په امریکا کې په ولسمشریزو انتخاباتو کې دبریالیتوب نه پس دامریکا ولسمشر ټرمپ په ډېرې تېزۍ دهغووعدو دپوره کولولپاره عملي اقدامات کړي کومې یې چې لپاره دکمپاین پرمهال کړې وې .

چې بیت المقدس ته دامریکا دسفارت دانتقالولو او د اسرائیلولپاره دپلازمېنې په صفت په رسمیت ددې ښار دمنلوخبره هم یوه له هغاغو خبرو وه چې ټرمپ به کوله اودامریکایهودیانوته به یې تل دا اطمینان ورکاوه چې دولسمشرکېدوسره سم به خپل سفارت دتل ابیب نه بیت المقدس نقلوم .

ټرمپ په ۲۰۱۷م کال کې بیت المقدس دقابض اسرائیلي دولت لپاره د پلازمېنې په صفت په رسمي ډول ومنلو او په تېر ۲۰۱۸م کال کې یې دتل ابیب نه خپل سفارت بیت المقدس ته رانقل کړ او ولسمشریزو ټاکنو ته دکمپاین پرمهال یې دیهودو سره پدې اړه کړې وعده پوره کړه.

دامریکا پخواني ولسمشر اوباما چې دایران سره کوم ترون لاسلیک کړی و ټرمپ دهغه ترون دماتولو وعده کړې وه هغه وعده یې هم پوره کړه او دایران سره دا رامنځته شوی ترون یې مات کړ.

اوس ټرمپ داسرائیلي قابض دولت او دټولې نړۍ د یهودیانو سره خپل لازیات اخلاص ښکاره کړ دمارچ په ۲۵ مې نېټه یې دګولان پرقبضه شویو غرونو داسرائیلو قبضه قانوني وګڼله او هغه اقدام یې هم وکړ چې نه یې په اړه وعده کړې وه او نه ترې دداسې اقدام تمه کېدله.

د۲۰۱۱م کال په جنورۍ کې چې په شام کې کورنۍ جنګ پیل شونوپکې دنړۍ دزبرځواکونواوپه ځانګړې ډول دامریکا کرنلارې اوعمل ته په پام سره داانديښنې راڅرګندېدلې چې دکورنۍ جنګ بل شوی دا اوربه ټول شام په خپلولمبوکې وسوځوي اوترڅنګ به یې ټول منځنۍ ختیځ ته دخپرولو هڅې وشي او هم به شام دومره کمزوری کړای شي چې دامریکا دپلانونو په مقابل کې دکوچنۍ خنډ جوړولو توان هم له لاسه ورکړې هغه مهال چې کومې اندېښنې ښکاره کېدلې حالات پرهماغې لور ولاړل .

نن دشام په یوې قبضه شوې خورا مهمې برخې امریکا داسرائیلو قبضه قانوني ګڼي خوشام یې په مقابل کې هیڅ هم نه شي کولی .

پدې اړه دټویټر له لارې خپور کړي پیغام کې ټرمپ ویلي دي چې ۵۲ کلونه وروسته اوس ددې وخت رارسېدلی دی چې واشنګټن دګولان پرغرونو داسرائیلو خپلواکې او حاکمیت تسلیم کړي ځکه دا ډېر ستراتیجیکي لرې او اسرائیلو او دسیمې دامنیت لپاره ډېر اهمیت لري.

داسرائیلو لومړي وزیر بنیامین نتن یاهو دټرمپ ددې پرېکړې ستاینه کړې او ویلي یې دي چې په داسې وخت کې

چې داسرائیلو دتیاه کولو لپاره شام دایران په لمسون ناوړه اقدامات کوي ولسمشر- ټرمپ زوروتوب ښکاره کړ؛په ګولان یې داسرئیلو حاکمیت ومانه چې دشام دبدو ارادو په مقابل کې دهمداسې پرېکړو اړتیا ده.

دیادولو وړ ده چې په ۱۹٦۷ م کال کې دعربو(مصر، شام او اردن) او اسرائیلو په نوم رامنځته شوي جنګ کې اسرائیلو دشام نه دګولان غرونه ونیول چې تراوسه داسرائیلو په قبضه کې دي او د بهر نه دراوستل شویو یهودیانو داستوګنې لپاره یې پکې ۳۰ کلي جوړ کړیدي .

اسرائیلو په ۱۹٦۷ م کې پدې سیمې قبضه وکړه او په ۱۹۸۱ م کال کې یې دخپل هیواد برخه وګرځوله خو دا اقدام په نړیواله سطحه ونه منل شو.

دګولان داقبضه ټولې نړۍ آن امریکا هم قبضه ګڼله خو څرنګه چې ټرمپ په ټوله کې دنړۍ دټولو یهودانو او په ځانګړي ډول د قابض اسرائیلي دولت دخوشالولو لپاره دامریکا په کرنلارې کې دبدلونونو لړۍ پیل کړیده او پدې اړه دهیڅچا دمخالفت او خفګان پروا نه لرې نو اوسنی پرېکړه یې دتمې خلاف او کومه حیرانونکې پرېکړه نده.

خو ورځې دمخه دبشر- دحقوقو دنړیوالې اداري په کلني راپور کې راغلي و چې دامریکا دباندیو چارو وزارت دتبر په خلاف دګولان پرغرونو داسرئیلي قبضې پرځای داسرائیلو دکنترول توری کارولی چې دا دامریکا په پالیسی کې دبدلون لوري ته روښانه اشاره ده.

دیادولو وړ ده چې د ګولان پرغرونو داسرئیلو دقبضې د قانوني ګڼلو دامریکایي اعلان نه یوه ورځ وړاندې داسرائیلي لومړي وزیر بن یامین نتن یاهو او دامریکا دباندیو چارو وزیر مایک پومپیو ترمنځ په ترسره شوې لیدنې کې یادو دواړو مشرانو دایران دمقابلې عزم کړی و؛نتن یاهو ویلي و چې پرایران دلازیات فشار راوړلو اړتیا ده او د فشار دا یره باید نوره هم فراخه شي؛دنړۍ او سیمې د تامین په موخه دایران دجارحیت دمخنیوي لپاره باید د واشنګټن او تل ابیب اړیکې دېرې قوي وي.

غالباً دابه دامریکا په تاریخ کې رومبی داسې اعلان وي چې په نړۍ کې هیڅچا نه وي تائیدکړی ؛ له غاصب اسرائیلي دولت پرته نېړدې ټولې نړۍ دټرمپ دا اعلان غندلی یا یې دنه تائید اظهر کړیدی او ورسره یې خپل مخالفت ښکاره کړیدي .

لویدیځه نړۍ هم دامني چې دټرمپ دا اعلان په تمامه معنی نامعقوله دی .

دټرمپ دا اقدام ایران،لبنان،سعودي عربستان، اردن، شام، روسې، ملګرو ملتونو او اروپایي دېرو هیوادونو په سختو ټکو غندلی.

سعودي عربستان ویلي دي چې پرګولان داسرائیلو دحاکمیت منلو اعلان په سختو ټکو غندو او دا اقدام په بشپړه توګه رد وو ؛ سعودي ویلي دي چې دګولان غرونه دشام قبضه شوې سیمه ده چې پرې داسرائیلو حاکمیت منل دملګرو ملتونو داصولو او نړیوالو تړونونو کلي مخالفت دی چې پدې سره به دمنځنې ختیځ امن او استحکام ته تاوان ورسیږي.

سعودي عربستان ویلي دي چې دملګرو ملتونو دامنیت شورۍ او په ماضي کې دامریکا دولت دګولان غرنۍ سیمه مقبوضه سیمه ګڼله چې ددې سیمې په اړه ختمي پرېکړه داسرائیلو او شام ترمنځ دامن مذاکراتو په نتیجه کې باید شوې وای؛امریکا دخپلې کرنلارې په بدلولو او داسې اقداماتو خپل اتحادیان له لاسه ورکوي.

بل لور ته دامنیت شورۍ دوه دائمي غړو برتانې او فرانسې ویلي دي چې دچین او روسې څېر دګولان غرونه دملګرو ملتونو دلوظنامو سره سم مقبوضه سیمه ګڼي.

اردن چې دامریکا مهم اتحادي ګڼل کېږي دامریکا اوسنی پرېکړه یې په سختو ټکو غندلې او ویلي یې دي چې

دګولان پرغرنۍ سیمې داسرائیلو دحاکمیت منل پرنوروو سیمو داسرائیلو دقبضې منلو ته لار برابروي.

دعربو اتحادي هم دیو څه جرأت مظاهره کړیده ؛د امریکا دا پرېکړه یې ناقانونه ګڼلې ده او ویلې یې ګولان داسرائیلو برخه ګرځولو سره به په سیمې کې دبدامنۍ او عدم استحکام یوه نوې فضا رامنځته شي چې توله پړه به یې دامریکا پرغاړه وي.

دعربو دپارلمان مشر مشعل بن فهم السلمي پدې اړه ویلي دي چې امریکا ولسمشر داسرائیلو لپاره دپلازمېنې په صفت دبیت المقدس دمنلو نه وروسته یو ځل بیا دملګرو ملتونو د ۲۴۲ او ۴۹۷ لوظنامو نه سرغړاونه کړیده چې عرب هېوادونه به هیڅکله هم داناروا پرېکړه ونه مني.

دعربو داتحادي مشر- احمد ابوالغیظ دامریکایي ولسمشر ددې پرېکړې سخته غندنه کړیده او ویلي یې دي چې په ګولان داسرائیلو قبضه منل دنړیوالو قوانینو دملګرو ملتونو دلوظنامو او دنړیوالې تولنې داصولي موقف توهین دی؛هغه زیاته کړه چې دامریکایي ولسمشر- ددې اعلان له امله دګولان دغرنۍ سیمې قانوني حیثیت ته هیڅ زیان نه وراوړي.

احمدابوالغیظ وویل دګولان غرنۍ سیمه دشام مقبوضه سیمه ده چې پرې داسرائیلو دحاکمیت منلو هیڅ جواز نشته؛هغه زیاته کړه چې په ۱۹۸۱م کې دملګرو ملتونو اداري ۴۹۷ لوظنامه تصویب کړه چې پکې ښه په روښانه ټکو راغلي و چې دګولان غرنۍ سیمه به په هیڅ صورت داسرائیلو برخه نه شي جوړابدای.

ایران هم دډونلډټرمپ دا اقدام غندلی او دا یې د اشغال او قبضو دترویج هڅه ګڼلې ده؛دایران ولسمشر- حسن روحاني ویلي دي چې یووخت و چې څه هېوادونو به د ګاونډیانو ځمکې نیولې او خپل خلک به یې پکې مېشت کول خو پدې زمانه کې دا کار چاته دمنلو وړ ندی؛پدې کې شک نشته چې ټرمپ دامریکا دمشر په حیث دقابضو قوتونو پرضد جوړ شوي ټول نړیوال قوانین تر پښو لاندې کړیدي چې پدې سره ټرمپ دامریکا پالیسي- لږترلږه نیمه پېړۍ وروسته بوتللې ده.

شام د ټرمپ دا اقدام په ټولې سیمې کې دبدامنۍ خپرولو لپاره یو خطرناک پلان ګڼلی او پدې اړه یې دامنیت شورۍ دبېړنۍ غونډې جوړولو غوښتنه کړیده.

دملګرو ملتونو په اداري کې دشام څانګړي استازي دامنیت شورۍ مشر په نوم خپل لیکلي خط کې لیکلي چې دګولان پرغرونو د اسرائیلو دقبضې په منلو ټرمپ دامنیت شورۍ دلوظنامو مخالفت کړی نو ددې ستونزې دحل په موخه دې دامنیت شورۍ بېړنۍ غونډه راوغوښتل شي.

روسیې هم دامریکا د اوسني اقدام سخته غندنه کړیده او ویلي یې دي چې هیڅکله به دامریکا دا پرېکړه ونه مني؛ روسیې ویلي دي چې امریکا دداسې پرېکړو له لارې داسرائیلو سره خپل روابط ښه کول؛ په عربو هېوادونو کې لازیات تقسیم او دشام او روسیې اتحاد ته تاوان رسول غواړي.

دا هم یو حقیقت دی چې دټرمپ او نتن یاهو ترمنځ دېرې ښې اړیکې شتون لري اوس څو ورځې پس داپریل په ۹ مې نېټې په اسرائیلو کې انتخابات راروان دي چې دنتن یاهو بریالیتوب پکې ډېر روښانه نه ښکاري څکه چې نتن یاهو دکرپشن دګنو تورونو سره مخامخ دی.

دنتن یاهو پر مېرمن ساره نتن یاهو هم دا تور لګول شوی چې زیات مصارف کوي؛ژوند یې دعیش او عشرت نه ډک دی په ډېرو قیمتي هوټلونو کې دوډۍ خوري او ددې ټولو څیزونو مصارف ددولتي بودیجې نه اداکوي.

نو پدې خاص وخت کې دټرمپ اعلان په انتخاباتو کې دنتن یاهو دکامیابولو هڅه هم کېدای شي.

عربو څېړونکو دټرمپ دا اقدام ډېر خطرناک ګڼلی او ویلی یې دي : داسې ښکاري چې دخپلې واکمنۍ دمودې پوره کېدو ته وړاندې به له دې هم زیات خطرناک او دمسلمانانو سره له دښمنۍ ډک اقدامات وکړي.

ټرمپ دخپلې واکمنۍ په تېرو ۳ کلونو کې درې داسې اقدامات وکړل چې له ده مخکې دامریکا یو ولسمشر هم نه وو کړي؛ په ۲۰۱۷ م کال کې یې بیت المقدس داسرائیلو دپلازمېنې په صفت ومنلو او په ۲۰۱۸ م کال کې یې ورته خپل سفارت را انتقال کړ حال دا چې بیت المقدس دفلسطینیانو دراتلونکي خپلواک دولت منل شوې پلازمېنه ده.

او اوس یې دا دی پرګولان داسرئیلو دحاکمیت په منلو دریم خطرناک اقدام هم وکړ.

دطبریه سیندپه غاړې پرته دګولان غریزه کاږجنه سیمه ۱۲۰۰ کیلومتره مربع مساحت لري چې دشام دپلازمېنې دمشق نه ایله ۶۰ کیلومتره لرې والی لري؛شمال یې دجبل الشیخ نومې سیمې او جنوب یې دیرموک سیند سره لګېدلی دی.

دنورې نړۍ نه دراویستل شویو یهودانو لپاره اسرائیلي دولت دلته ۳۰ کلي جوړ کړي او پکې یهود مېشت کړای شویدي؛له دې ځای نه ۲۰ زره شامیان کډه کولو ته اړ کړی شوي او کابو همدومره شامیان لاهم دلته مېشت دي او له خپلو مېنو ندي بېوربدلي.

په ۱۹۶۷ م کال کې دمصر،شام او اردن سره په رامنځته شوي جنګ کې چې اسرائیلو داسیمه ونیوله نو د اسرائیلو فوځي ویاند ویلي وو چې اسرائیلي فوځ دشام غرونه نیولي دي.

نو داسرائیلو دفوځ دویاند دې اعلان ته په پام سره ټوله نړۍ دا دشام مقبوضه سیمه ګڼي؛یانې دا سیمه دفلسطین دمقبوضه سیمو په څېرنه ده چې ورته یهود سل کلونه وړاندې له نورې نړۍ راغلي؛ځمکه یې اخستې او بیا یې داسرائیلي دولت داعلان سره د دولتي ځواکونو په زور نورې ځمکې قبضه کړي وي.

له یوې خوا په منځنۍ ختیځ کې دېردومداخلو اولاسوهنوله امله رامنځته شوی انتشار؛ فرقه یزې شخړې اوتعصبات؛دنظامونوړنګېدل ؛ کورني خونخوارجنګونه اوپه نتیجه کې یې دآبادو ښارونو ورانېدل ؛ په ملیونونوانسانان قتل کېدل اوپه لسګونوملیونه دخپلوکورونو پرېښودوته اړکېدلونه پس دنړۍ په مختلفوبرخوکې دسترو دربدریو اونه ختمېدونکو مشکلاتوسره مخامخ کېدل ؛ دنړۍ مسلمانانو لپاره دسخت خفګان اوغم سبب شویدي اوله بلې خوا دامریکا دولسمشر له لورې دغاصب اسرائیلي دولت لپاره دپلازمېنې په صفت دبیت المقدس منل بې له شکه چې دنړۍ دمسلمانانو په غم ، خفګان اوذهني کوفت کې لا ډېر زیاتوالی راوستلو .

خو امریکا ته به هم داسې پرېکړې څه ګټه ونه رسوي؛ یواځې داسرائیلو دخوشالولولپاره امریکا دټولې اسلامي نړۍ سره خپله دښمني لازیاتوي او په ټولې نړۍ کې ځان دسختې بد نامۍ سره مخامخ کوي.

....په تيرېسې
م: شمس....

غامدیت...

د اوسني عصر لویه فتنه...

ایا (سورة النصر) مکي دی؟

اهلِ علم پوهیږي دټولو مفسرینو په اند که هغه سلف دي اویا خلف، نصر سورة مدني دی او په دې یې اجماع ده.

یواځي جاوید غامدي ددې متفق او مجمع علیه امر سره اختلاف کړی او په دې اصرار لري چې نصر سوره مکي دی، هغه پخپل سرچپه تفسیر [البیان] (سرچپه یې په دې بولو چې هغه دوروستیو سورتونو څخه شروع کړی اوتراوسه مکمل هم ندی) کې لیکلي:

د النصر سورة مرکزي مضمون رسول الله ﷺ سره په عربي خاوره باندې دحق دغلبې زیرې او ددې هدایت دی چې تهد خپل پروردګاسره ملاقات ته خان تیارکړه!

د کافرون سورة څخه وروسته او دلهب سورة نه وړاندې د النصر سورة راوړل ښیي چې دا هم دکوثر سورة پشان په اُم القری (مکه) کې درسول الله ﷺ ددعوت هجرت و برائت په مرحله کې په رسول الله ﷺ د یو لوی بشارت په توګه نازل شوی دی (البیان ۲۵۲مخ چاپ ۲۰۰۰ز)

دینه معلومه شوه چې غامدي النصرسورة مکي ګرځوي او دهجرت و برائت مرحلې په زمانه کې یې نزول مني، همدا خبره یې بل ځای هم په ښکاره الفاظو کې کړې:

اووم باب د(مُلک) سورة نه شروع او په (الناس) سورة ختم شوی دي کې وروستي دوه سورتونه یعني (معوذتین) مدني دي او باقي ټول مکي دي (البیان ٦مخ)

ګواکي دغامدي صاحب په رایه نصر سورة مکي دی ځکه چې هغه هم دمُلک سورة او معوذتینو ترمنځ واقع دی البته دهغه په نظر دپوره پوهیدو لپاره په لومړی حواله کې یوه خبره ده چې د(هجرت او برائت دمرحلې) نه دهغه مراد څه دی نو دا هم پخپله دنوموړي په ژبه واورئ لیکي:

دهجرت وبرائت مرحله الماعون ۱۰۷.... الاخلاص ۱۱۲-

دقریشو سرداران په جرم تورنول، هغوی ته دعذاب وعید خبر او رسول الله ﷺ ته بشارت ورکول چې دحرم تولیت به اوس دهغوی په ځای رسول الله ﷺ ته په لاس ورځي او ددوی ریښې به دتل لپاره ددې خاورې نه قطع شي (۱۰۷-۱۰۸)

دأم القری دکفرایمه وو نه درسول الله ﷺ دبرائت اعلان او دعربو په زمکه دحق دغلبې بشارت (۱۰۹-۱۱۰)

دقریشو دقیادت بالخصوص دابولهب نوم یې واخیست او دهغوی دهلاکت وړاندوینه او د نبي ﷺ د لوري، ددې مرحلې

په پای کې پر توحید عقیدې دپریکړې اعلان (۱۱۱-۱۱۲) (البیان ۱۴مخ)

یعني دغامدي خودساخته مرحله (دهجرت وبرائت)په اصل کې دهجرت نه وړاندې مکي دور دی اونصر-سورة په هغه دور کې نازل شوی سورة بولي، غامدي دقرآن مجید باره کې په خودساخته (۷) ابوابو کې وروستي باب په اړه وضاحت کړی او هلته یې هم النصر-سورة مکي گرځولی نوموړی لیکي:

دا د قرآن مجید اووم باب دی، دې کې الملک (٦٧) نه تر والناس (۱۱۴) پوري ۴۸سورتونه دي ددې سورتونو له مضامینو اوپدې باب کې دهغو دترتیب نه معلومیږي چې دې کې لومړي ۴٦سورتونه په اُم القری مکه کې نازل شوي او وروستي دوه سورتونه (الفلق او الناس)دهجرت نه فوراً وروسته په مدینه کې نازل شوي

دقرآن مجید دنورو ټولو ابوابو په څیرداځیز هم په دې باب کې ملحوظ کړی چې دمکي سورتونو څخه شروع کیږي او په مدني باندې پای مومي

(البیان ۱۱مخ)

گواکي دغامدي په رایه دزماني پلوه هم النصرسوره دهجرت څخه وړاندې په مکه کې نازل شوی سورة دی!! زموږ په نظر دغامدي دا رایه نه یوازې غلطه ده بلکې دمفسرینو د اجماع ، دامت اجماع نه هم خلاف ده په دې لړ کې موږ لاندې دځو معتبرو او مستندو تفاسیرو حوالې وړاندې کوو:

۱.... تفسیر الکشاف دعلامه محمود زمخشري

((سورة النصر، مدنية وهي ثلاث آيات.... روي آنها نزلت فی آیام التشریق بمنی فی حجة الوداع)) (تفسیر الکشاف ۴ټوک۲۹۳مخ)

نصر سورة مدني دی دهغه درې ایاتونه دي... روایت دی داسورة په ایام تشریق په منی کې دحجة الوداع په مهال نازل شوی دی

تفسیر قرطبي:دامام قرطبي رح

((وهی مدنیة باجماع وتسّمی سورة التوديع، وهی ثلاث ایات، وهی اخرسورة نزلت جمیعاً، قاله ابن عباس فی صحیح مسلم))

الجامع لاحکام القرآن ۱۰ټوک۲۲۹مخ)

او هغه (نصرسورة) مدني دی په دې باندې اجماع ده دیته سورةالتودیع (الوداعی سورة) هم وایي،دا وروستی مکمل سورة دی ددې درې ایتونه دي، داوروستی مکمل نازل شوی سورة دی په صحیح مسلم کې دحضرت ابن عباس رضي الله عنه نه دا قول نقل دی.

۳.... تفسیر ابن کثیر دحافظ ابن کثیر

((تفسیر سورة اذا جاء نصر-الله والفتح وهی مدنیة)) (تفسیر القرآن العظیم ۴ټوک ۵٦۱مخ)

د اذاجاء نصر الله الخ داسورة مدني دی

تفسیر رازي ازامام فخر الدین رازي:

((هذا السورة من أواخر ما نازل با لمدینة))(تفسیر کبیر۳۲ټوک ۱۵۰مخ)

داسورة په مدینه منوره کې داخري نازل شویو سورتونو څخه دی

روح المعانی دعلامه محمود الوسي

((وتُسمّی سورة اذاجآء ، وعن ابن مسعود: أنها تسّمی سورة التوديع لما فيها من الاِ يماء الِی وفاته علیه الصلاة والسلام وتودیعه الدنیا وما فیها... وهی مدنیة علی القول الأصح فی تعریف المدنی ... عن ابن عمر رضي الله عنه أنه قال: هذه السورة نزلت علی رسول الله صلی الله علیه وسلم اوسط أیام التشریق بمنی وهو فی حجة الوداع (روح المعانی ۱٦ټوک ۴۵۸مخ)

او داسورة (سوره نصر-)ورته اذا جآء سورة هم ویلی کیږي ، حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه قول دی چې دیته تودیع سورة (الوداعی سورة) هم ویل کیږي زکه په دې کې د دنیا و مافیها نه درخصت اخستلو اشاره ده، او دا دمدني تعریف د صحیح ترین قول سره سم مدني سورة دی دعبد الله بن عمر رض روایت دی چې داسورة په حجة الوداع کې د ایام تشریق په منځ کې په رسول الله صلی الله علیه وسلم نازل شوی

مراغي تفسير داحمد مصطفی مراغي:

((هی مدنية وأياتها ثلاث، نزلت بعد التوبة)) (تفسير مراغی ۳۰ټوک ۲۵۷مخ)

دا(نصر سورة) مدنی سورت دی ددې درې اياتونه دي، او داسورة دتوبه وروسته نازل شوی دی

وړاندې علامه مراغي ليکي:

((وقدفهم النبي ﷺ من هذا أن الأمرقدتم ولم يبق إلا أن يلحق بالرفيق الأعلى)) (تفسير مراغی ۲۶۰مخ)

ددې سورة دنزول وروسته نبي ﷺ وفهموله چې کار يې نور پای ته رسيدلی -اوس يواځې درفيق اعلی سره يې يوځای کيدل يې پاته دي

تفسير جلالين دعلامه محلی وسيوطي

((سورة النصر-نزلت بمنی فی حجة الوداع فتعدمدنية وهی آخرما نزل من السور وآياتها ثلاث))

نصر سورة منی کې دحجة الوداع په مهال نازل شوی او دا مدني شمارل کيږي او دا په نازل شويو سورتونو کې وروستی سورة دی او درې اياتونه يې دي.

فتح القدير دامام شوکاني

((اذاجآء نصر الله والفتح وتسمی سورة التوديع هی ثلاث آيات وهی مدنية بلاخوف))(فتح القدير۵ټوک ۷۲۴)

دا سورة اذاجآء نصر الله والفتح دی اوديته الوداعی سورة هم ويل کيږي او ددې درې اياتونه دي او ددې په مدنيتوب کې دهيڅا اخلاف نشته

۹.... البرهان فی علوم القرآن دبدر الدين زرکشي

دا اگر که دتفسير کتاب ندی خو دعلوم القرآن په موضوع دسند حيثيت لري او ددې څلور ټوکونه دي او پکې دا سورة (اذاجآ نصر-الله يعنې نصر سوره بالاتفاق دمدني سورتونو په فهرست کې شمارلی (وګورئ البرهان ی علوم القرآن لومړی ټوک ۱۹۴مخ)

تدبرقرآن دمولانا امين اصلاحي

په دې کې هم نصر-سورة بالاتفاق مدني سورة ګرځول شوی او اصلاحي صاحب دحديبيه صلحې وروسته او دمکې فتح وړاندې نازل شوی سورة منلی دی نوموړی ليکي:

دهجرت او دفتح و نصرت ترمنځ دغه هغه رشته ده چې دپه سبب يې (داسورة کوم چې بالاتفاق مدني دی)ديو مکي سورة مثنی ګڼل شوې ددې سورة دنزول زماني په اړه دوه قوله دي : يو داچې دمکې فتح وروسته په نازل شويو سورتونو کې ترټولو وروستی سورة دی دوهم داچې دمکې دفتح نه وړاندې بشارت (زيري) په توګه نازل شوی زما په نزد دوهم قول راجح دی (تدبر قرآن ۹ټوک ۶۱۵-۶۱۶)

خلاصه دبحث داشوه چې دټولو مفسرينو او دامت علماوو په نظر نصر-سورة مدني دی او ددې په مدنيت باندې اجماع ده او امام قرطبي څنګه چې وړاندې تير شول په دې اجماع نقل کړې او امام شوکاني وايي چې په دې باره کې دسره اختلاف نشته

اوس پوښتنه داده چې غامدي ولې د دومره اجماعي او متفق عليه امر په اړه اختلاف پيداکولو ضرورت محسوسوي؟

مولانا محمد رفيق چودهري چې په غامدي يې ښه مدلل عالمانه نقد کړی ليکي: ددې يواځينی سبب دهغه خودساخته بې ځايه له ځانه جوړ موضوعه تفسير او دين په اړه هغه اصول ګڼل دکومو لازمي نتيجه چې دامت په متفقه او مجمع عليه مسائلو کې هم داختلاف صورت وتلی شي دکوم له امله چې په امت کې افتراق وانتشار هم پيدا کيدای شي

لکه درجم مسئله شوه ياد مرتد سزا شوه ، دجهاد و قتال حکم يا قرآت سبعه ، په حدودو کې دښځو دشهادت مسئله وې، يا دديت ، وحې خفي خبره يا دعيسی عليه السلام ژوندی اسمان ته ختل ، يا درسولانو دوژلو امکان غامدي په دې ټولو مسائلو کې دامت سره اختلاف کړی دی او هغه دغير سبيل المؤمنين په لار روان بريښي کومه چې دکعبې په ځای ترکستان ته تللې. دوام لري.

په اسلام کې

دمال او ملکیت احکام

م: ش: منصور

بیشکه! په ظاهري اسبابو کې د بشري ژوند ارتقاء اوخوشالي په مال او ملکیت پورې تړلي ده اوداقتصاد و معیشت دارو مدار په مال او ملکیت باندې دی، دمال او ملکیت باره کې چې کوم ډول انګیرنې او تصورات شتون لري د هم هغو پر بنسټ او اساس قوانین جوړیږي او هم یې په کتو ته دراکړې ورکړې احکام مرتب کېږي له دې وجې نن سبا دمال اوملکیت پر موضوع اسلامي څېړنو او بحثونوته خورا ډیر ضرورت دی

دې لیکنه کې په لنډډول دمال اوملکیت په اړه اسلامي احکاموته کتنه شوې اوبیا دهغو په رڼا کې اوسنیو ظروفو او شرائطو ته په کتو پرې بحث اوڅېړنه شوې، د یادونې وړده چې دلیکنې دعلمي ،شرعي او فني محتو په لیکلو او راټولولو کې د عظیم الشان قران د ایاتونو، د نبوي احادیثواود اسلامي فقهاوو دتصریحاتو او تشریحاتوپه راوړو سربیره دیوشمیر معاصرو علماوو اود مغربي تهذیب دخواکمنو ناقدینو علماوو لکه مولانا مناظر احسن ګیلاني، علامه شمس الحق افغاني ،مولانا ابو الحسن علي ندوي، دوکتور محمدحمید الله او دوکتور محمودغازي رحمهم الله دکتابونو ، لیکنو اودهغوی د ویناوو او محاضراتونه هم استفاده شوې کومو چې داسلامي شریعت اوفقهې تحقیقات او اصول دخپلو اصلي مصدري بنو ترڅنګ په نوي سبک او معاصر اسلوب سره هم را وړي.

بل سپیناوی دا هم اړین بولم چې د اسلام مبارک دین کې دمال او ملکیت باره کې د احکامو په اړه هغه ټول تفصیلات زموږ په وړاندې دي کوم چې په قرآن وسنت کې بیان شوي او بیا فقهاوو دهغو په اړه تفصیلي احکام مرتب کړي دي.

د الله تعالی کتاب(قرآن پاک) دمطالعې له مخې دهرڅېز حقیقي مالک د الله تعالی ذات دی او هم هغه جَلَّجَلَالُهُ د ټول کائنات ، دزمکې په مخ دښکاره او دزمکې دمخ نه د بهرټولو څېزونو څښتن دی اوس پوښتنه داده چې په دې کې دانسان حیثیت څه دی؟ الله تعالی په قرآن مجیدکې انسان خپل خلیفه او پخپلو ممتلکاتو کې دځای ناستي په صفت یاد کړی.

عظیم الشان قرآن کې صریح ارشاد دی﴿وانفِقوا مِما جعَلَكُم مُستَخلَفِينَ فِيه﴾ (الحدید)

او دهغه مال ودولت نه ولګوئ چې پکې تاسي الله تعالی خپل ځای ناستي ګرځولي یئ!

علماوو ليکلي : استخلاف دانسان دتکريم او احترام لپاره دی، په دې سره الله تعالى دانسان مرتبه او مقام ښکاره کړې ور ته يې دخپل خلافت لوړ مقام ښېلی.

د نيابت او خلافت نه هدف دادی چې هغه (انسان) د نيابت فرايض دهغو حدودو او قواعدو په چوکاټ کې دننه اداء کړي کوم چې دهغه لپاره داصل مالک اوڅښتن لخوا طی کړي شوي، که زيدولګيري او عمر دخپلو شتمنيو يا ملکيتونو متولي او ساتونکی وګوماري،عمر به مکلف وي چې د هم هغو اصولو او قواعدو سره سم خپل وظائف او وجايب پرمخ يوسي کوم چې دهغه لپاره زيد ټاکلي ، زکه دعمر حيثيت د (امين) په توګه د(متولي او نګران) دی او مکلف دی هغه ټول شرايط او اوقيو دات رعايت او ومني چې داصلي مالک(زيد) لخوا ټاکل شوي، هم دا کيفيت په کائنات کې دشته وسائلو، اسبابو اود مال و دولت په باره کې دانسان دی.

مال فی نفسه مقصود ندی، نه سره وسپين زر او جوهرات پخپل ذات کې مقصود دي، انسان هغه نه خوړلی شي، نه يې څکلی شي ،نه يې ګرمي او يخني محسوسولی شي او نه دناروغتيا په حالت کې يې ددوا او درملو په توګه خوړلی شي اونه هغه دملهم په حيث کارول کيدای شي، مال و دولت يوه زريعه ده، وسيله ده چې انسان پري خپل ډيرکارونه روانولی شي ، خپل ګڼ ضرويات تري پوره کولی شي، دلوږې، تندې پر مهال ځان لپاره خواړه او اوبه پرې پيرلی شي، په تودوخه کې ساړه او په يخنۍ کې تاوده کالي پري اخستلی شي، دکاله اړتياوې ورباندې پوره کولی شي نور مال فی نفسه مقصود ندی هو! دډيرو مقاصدو دلاس ته راوړو زريعه او وسيله دی ځنګ چې دټولو څيزونو خالق او مالک الله تعالى دی همدغسې دسرو وسپينو زرو او جواهراتو دزخيرو مالک هم الله تعالى دی چې دزمکې پر مخ اوخيته کې يې خوندي کړې.

الله تعالى انسان ته دشريعت دحکمونو سره سم د مال و دولت حاصلولو او استعمالولو اجازت ورکړی، ليکن دمال و دولت ترلاسه کولو لپاره هم هغه زرايع کارول جايز دي چې داالله شريعت بيان کړي، که څوک دشريعت د ټاکلو طريقو پرته مال ترلاسه کړي هغه شريعت ناروابولي، ځنګ چې دمال و دولت حصول په جايزو طريقو ضروري دی او همداسې داستعمال لپاره يې هم شريعت حدود اولارې په ګوته کړې يعنې دمال د (راتلو) او بيرته د(تلو) لارې به جايز او دشريعت سره مطابق وي.

دمال ودولت باره کې دشريعت منشا داده چې په ټولنه کې دي خور او وويشل شي او په يوه خاص او محدوده کورنۍ يادله کې دي نه پاته کيږي، يوه کورنۍ يا ډله دي ورباندې اجاره دارې او قبضه ونلري، شريعت ګڼ احکام دهمدې غرض دتکميل لپاره ټاکلي هرقانون او هره فيصله چې دشريعت سره سمون ونلري او دشريعت سره متعارضه وي په نتيجه کې هغه د دولت دارتکاز په صورت منتج کيږي.

داسمه ده الله تعالى دمال و دولت محبت دانسانانو په زړونو کې ايښی نو دا يوه فطري جذبه يا فطري داعيه ده چې شريعت يې له منځه وړل نه غواړي، کوم دواعي چې الله تعالى دانسان په زړه کې ايښي که هغه مادي و جسماني دي او يا حيواني ! اوکه دمال ودولت په اړه دي هغه ټول داالله تعالى عطا او دين دی

عظيم الشان قرآن څو ځايونو کې ښکاره ويلي:﴿و اِنّهُ لِحُبِ الخيرَ لشديد﴾ انسان دمال په محبت کې ډير شديد دی بل ځای کې ارشاد دی: چې څومره شهوات دي هغه ټول الله انسان ته مزين کړي، د انسانانو لپاره يې ښکلي ګرځولي او هر انسان غواړي شهوات ترلاسه کړي اوس حاصلول باک نلري خو چې دشريعت دټاکلو حدودو دننه اوپه جايزه طريقه ترلاسه شي او دجايزو حدودو دننه استعمال کړای شي داټول هم هغه څيزونه دي چې

ورته [ددنیا متاع] ویل شوي او ددنیا د[عارضي خوند سامان] بلل شوي

الله تعالی مال او نور... دانسان دفایدې ته پیدا کړي ﴿خَلَقَ لَکُم مّا فی الارضِ جمیعا﴾(البقره)

کوم څیزونه چې دانسان دګټې لپاره پیدا کړای شوي اوس که انسان هغه یومخ پریښودل، نو دا به دالله تعالی دبې پایه حکمت نه سرغړونه وي، ددې وجې نه ارشاد دی﴿ ولاتَنسَ نصیبَک من الدنیا﴾(القصص) دنیا کې چې ستا څومره محدود برخه ده دشریعت دقوانینو سره سم هغه درته ترلاسه کول پکار دي نه هغه پریښودل!

مال ودولت ته الله تعالی (خیر) هم ویلي، ورته(فضل) یې هم ویلي (متاع) یې هم یادکړی، او په (حسنه) یې هم بللی، ددینه معلومه کړئ چې دشریعت په نظر کې مال څومره اهمیت لري؟ بیا همدا مال و دولت دټول ژوند لپاره دقیام حیثیت لري څنګه چې دانسان دروغتیا دارو مدار په صحت منده وینه دی، دغسې دټولنې او یو هیواد دژوند دارو مدار په مال و دولت دی.

یواځې مال دی چې دهغو ټولو شرعي ذمه واریو اساس دی، کومې چې په مالي معاملاتو پورې تعلق لري، فقهاوو لیکلي:[المالُ مَناطُ التکالیف المالیة] الله تعالی ګڼ شرعي مسؤلیتونه په انسان ایښي، ځیني جسماني دي لکه لمونځ،ځیني مالي دي: لکه زکات اوځیني بیا دواړه اړخه لري لکه حج، ددې لپاره د شریعت په هغو ټولو مالي احکامو هغه وخت عمل کیدای شي، کله چې مال موجودوي سرسایه انسان هغه وخت اداء کولی شي ، کله چې شرایط یې موجود شي، نفقات واجبه ،کفارات، داټول ترمال پورې مشروط دي، په وجوبي صدقاتو کې انسان ددې خبرې پابند دی، چې هغه به دخپلې سوېې او خپل معیار سره سم خپلې کورنۍ ته لګښتونه برابروي﴿ اَسکِنُوا هُنَّ من حیثُ سکَنتُم مِن وُجدِ کمُ﴾چیري او څنګه چې تاسو اوسئ په هم هغه سویه خپلې میرمنې هم اوسوئ ﴿ لِیُنفِق ذوسَعةٍ مِن سعتهِ﴾ چاته چې الله پراخې ورکړې ،هغو دي دفراخۍ سره برابر مال لګوي ﴿ فَلیُنفِق مِمّاآتاهُ الله﴾ کوم څه چې الله تعالی هغوی ته ورکړې له هغو دي خرڅ کوي ،﴿ لایکلفُ الله نفساً الّاماَ اتاهَا﴾ الله تعالی چې کوم فردته کوم مال ودولت او وسائل ورکړې هغو سره سم هغه ته ذمواری هم ورکړې

داسې نده چې وسائل الله تعالی چاته نه وي ورکړي او ذمه واری یې ورباندې ایښې، دا دالله تعالی دعدل، فضل، کرم، او لطف خلاف دی.

اوس دیته چې مال څه ته وایي؟ په مال کې کوم څه راځي؟ مال څو ډوله دی؟ داپوښتنې دفقهې او قانون مهمې پوښتنې دي؟ دمال په تعریف کې فقهاوو ګڼې بحثونه کړي ، په خالص قانوني انداز یې هم تعریف کړی او په ټولنیز اندازیې هم تعریف کړی دی، داخلاقیاتو دپلوه یې هم مال ته کتلي او داقتصادیاتو دپلوه یې هم دمال په اړه دوضاحت کوښښ کړی دی

په ټولو تعریفاتو کې فقهاوو دمال لفظي لغوي تشریح دنظره نده غورځولې ،[مال] لفظ دعربي دمیل څخه وتلیاو د[مال، یمیل] معنی ده مایل کیدل، میل ساتل، مثلاً: یو شخص ذاتي میلان یوڅیزته ولري، هغه ته دلغوي پلوه مال ویل کیږي،دکوم څیز په لور چې ترټولونه زیات میلان کیږي هغه [مال] دی؛ په دې وجه دمال لفظ دمیلان لفظ نه وتلی اودهر هغه څیزلورته چې انسان طبعي میلان ولري او ترې په جایزه توګه استفاده کیدای شي او په عامو حالاتو کې هغه څیز دانسان لپاره دجایز منفعت زریعه او ماخذ وي، هغه ته مال ویل کیږي (لسان العرب، م،ی،ل،(۱۱\۶۳۵)

امام شاطبی لیکلي [مال] مال کیدو یو علامت دادی چې بازار کې څه نه، څه قیمت ولري، په کوم قیمت چې هغه پلور ل کیږي یا اخستل کیږي اګرکه هرڅومره کم هم وي، خو که کوم شخص هغه ضایع کړي په هغه یې تاوان

اداء کول دي،اقتصادي کارپوهان د(زرو) په تعریف کې store of value ذکر کوي چې دا صلاحیت يکې مندل کېږي، مالیت دضرورت تروخته محفوظولی شي داتصور داسلامي فقهاوو سره هم شته ، فقهاوو لیکلي: دعلامه ابن خلدون الفاظ دي: {والمال مَايَمِيلُ اليه الطبع ويمكـنُ اِدِّ خارهُ لِوقت الحاجة} په مال کې هغه ټول څیزونه راځي دکوم په لور چې انسان فطري میلان ولري اوکوم چې دضرورت لپاره زخیره کولی شي ، کله چې کوم څیز ډیر خلک یا ځیني خلک هغه مال وګڼي او ترلاسه کولو لپاره هڅه یې وکړي او یادهغه په زریعه تمول حاصلول غواړي نو دهغه مالیت یعنې [مال ګرځیدل] جوتوي او مالیت یې ښکاره کوي .

دمال دقانوني تعریف په باره کې دحنفي فقهاوو اوغیرحنفي فقهاوو ترمنځ یوځه اختلاف شته شافعي، مالکي، حنبلي اونور یوشمیر فقهاء: دمال نه مراد هرهغه څه اخلي کوم چې په یو مادي قیمت سره دعامو خلکو تر منځ کې پیژندګلوي ولري او شرعاً دهغه نه انتفاع جایز وي،برابره خبره ده چې خپل وجودېې په مادي توګه متمیز وي او که نه ؛نو منافع، یعنې دیوڅېز فوائد،یا مجرد حقوق لکه دتصنیف حق، دایجاد حق اونور دټولو فقهاوو په نزد مال دی، زکه دهغوی په نظر:ددې یومادي قیمت شته؛ د بل مال په عوض کې دیوملکیت نه بل ملکیت ته منتقل کیدای شي

ددوی په مقابل کې داحنافو فقهاوو نظر دادی چې: مال هغه دی کوم چې خپل مادي وجودهم ولري؛ محض یو مجرد څېز نه وي،همدا وجه ده چې دحنفي فقهاوو په نزد په روایتي توګه[منافع او حقوق] مال نه ګڼل کېږي؛ هیڅ شخص خپل حقوق پلورلی نشي، زکه حقوق کوم حسي یعنې tangibie څیزندي چې ملکیت یاقبضه یې دیو شخص نه بل ته منتقل کړای شي، دیته په کتو سره موږ وینو دهند په نیمه وچه کې داسې لوی شمیر علماء تیر او شته چې هغوی دخپلو تصنیفاتو [حقوق] کله هم وصول کړي ندي؛ حال داچې دهند په نیمه وچه کې دومره لوی علمي حضر ات شتون لري چې ددتصنیفاتو شمیر یې ترسووونو پورې رسي او په هغوی کې دځینو کتابونه داردو ژبې مقبول او منل شوي کتابونه هم ګرځول شوي او په بیا، بیا دچاپ څخه وځي .ددې باوجود هغوی یوه روپۍ هم دتصنیف دحق په توګه نده وصول کړې، زکه هغوی دحنفي مذهب د مخې [حقوق او منافع] مال نه ګڼي او په همدې دلیل یې پلورل اوپیرل هم روا نه بولي!

البته نن سبا دفقهاوو عام رجحان دجمهورو رایې ته دی، په نظر یې منافع او حقوق مال ګڼل کیدای شي، زکه نن سبا دحقوقو دومره ګڼ قسمونه رایج شوي دي چې پیرل اوپلورل ي په پراخه کچه دوام لري او مخنیوی یې مشکل دی او که ترڅه حده یې مخنیوی وشي خوپه نتیجه کې یې داسې مسائل پیدا کیږي چې هغه به ډیر دوشوار وي، اوځومره نړیوالې اسلامي اداري چې اوس شتون لري که هغه مجمع الفقه الاسلامي ده یا بله کومه اجتماعي اداره د ټولو رجحان اوفیصله دا ده چې منافع دي مال اوګڼل شي او دهغو بیع وشرا دي جایزه وګرځول شي، نو هرهغه څېز چې دهغه نه ګټه پورته کول دشریعت په نظر کې جایزوي هغه مال دي داتعریف داحنافو نه پرته نورو فقهاوو په خاصه توګه حنبلي فقهاوو ایجاد کړی دی

احناف ایمه وو نه چې څومره تعریفات منقو ل دي دامام محمد نه، علامه ابن عابدین نه، په هغو ټولو تعریفاتو کې په مادي څیزونو زور راوړل شوی او هغه یې دمثال په طور په مال کې ورګډ کړي مثلاً: دتجارت سامان، نغد سره وسپین زر، جواهرات، غنم، رخت او زمکه داټول هغه مثالونه دي کوم چې حنفي امامانو دمال په تعریف کې بیان کړي دي

دمال په باره کې چې شریعت کوم احکام ورکړي هغه احکام قانوني هم دي او اخلاقي هم، ځیني احکام

داسې دي چې دهغو يو اړخ د قانوني پلوه واجب التنفيذ يا واجب التعميل دی خو بل اړخ يې اخلاقي مسؤليت يا ذمه واري ده، چې عمل پرې پکاردی دمثال په ډول: دشريعت حکم دی :دمال حفاظت وکړئ ، مال مه ضايع کوئ، يوحديث دی رسول الله ﷺ فرمايلي: په صحيح بخاري، صحيح مسلم دواړو کې دا حديث راغلی، چې الله تعالی ته کوم څيزونه ناخوښ دي په هغو کې يو اضاعة المال دی يعنې د مال ضايع کول دي (بخاري کتاب الرقاق ، باب مايکره قيل وقال(٦٤٧٣)، مسلم کتاب الاعتصام بالکتاب والسنة باب مايکره من کثرة السؤال (٧٢٩٢).

دمال دضايع کولو ګڼ صورتونه کيدای شي ځينې وخت انسان دوسائلو دکثرت او ډيروالي په وجه مال ضايع کوي، اضافه شوي خواړه غورځوي، او احساس هم ورته نه وي، لکه يو سړی زاړه کالي ضايع کوي ، اضافه خواړه غورځوي، هغه څيزونه چې دضرورت نه زيات وي، هغه غورځوي داټول دمال ضايع کولو جلا، جلاصورتونه دي اوس دغه څيزونه بايد دغورځولو په ځای هغه چاته ورکړای شي چې ورته ضرورت لري ، زکه ه نړی، کې دضرورت مندو کمی نشته يواځې اهتمام او خيال ساتل اړين دی.

بل پلوته شريعت دمال دحفاظت حکم ورکړی دی بلکې دفقهاوو په اتفاق دمال حفاظت دشريعت د پنځو اساسي اصولو نه يو اصل دی ، ته! دخپل واک و تصر ف لاندې دشته مال په ساتنه مکلف يې، ته!

د هغه آمين يې، د اصلي مالک ځای ناستی يې، اصل مالک دالله تعالی ذات دی او ته يې نايب يې، که يوځوک تا دخپل مال متولي وګرځوي خو تا يې ساتنه ونکړای شوه هغه به خامخا تا نا اهل متولي اونا لايق منصرم په ګرځولو سره د منصب نه لرې کړي.

دمال دحفاضت او نه ضايع کولو يو صورت دادی چې انسان دخپل مال دحفاظت ترڅنګ دبل انسان دمال ساتنه هم خپل مسؤليت وبولي، ځکه چې دانسان عزت محترم دی، داسې دانسان مال محترم دی، ځنګه چې دانسان عزت مقدس دی هغسې دانسان جايز ملکيت مقدس دی او دهرعاقل وبالغ انسان وظيفه او ذمه واري ده که يوانسان دخپل مال نه په دفاع کې ووژل شو شهيد دی (من قُتِل دُونَ مَالِهِ فهوا شهيد) کوم سړی چې دخپل مال په حفاظت کې قتل شي شهيد دی، ددينه معلوميږي چې شريعت دمال ساتلو ته زيات اهميت ورکړی.

دمال دحفاظت بله طريقه دا ده چې پر هغه پانګونه وکړای شي اويکې داضافې کوښښ و شي، رسول الله ﷺ فرمايلي: که يوسړی زمکه ولري ،هغه دي اول پخپله اباده کړي او يا دې د ابادولو لپاره بل ورورته ورکړي کوم چې په ابادولو کې دلچسپي لري په حديث کې رسول الله ﷺ فرمايي: که څوک ديتيم دمال متولي شي،دهغه مال دي په تجارت کې ولګوي، ولې که همداسې پاته شي،هرکال تري دزکات په ورکولو سره پولويه سلنه يې کمه شي او څو چې يتيم بلوغ ته رسي نو دمال يوه لويه برخه به يې په زکات کې لاړه وي له دې وجې بهتره داده چې هغه مال په تجارت کې ولګول شي او په تجارت سره به پکې برکت راځي او د ټولنې لپاره به په خير او ګټه تمام شي

ددې نه اندازه ولګوئ! چې دشريعت په نظر کې تجارت او پانګونه څومره غوره کار دی؟ دشريعت په نظر کې هر هغه زيار غوره او خوښ دی دکوم په وجه چې ټولنه کې تجارت تقويه کيږي او خلکو ته يې اقتصادي ګټې ور رسي. نور بيا ...

حافظ سعید

د شوراب د غزا ګمنام اتل

حافظ حمدالله حامد په ۱۳۷۰ هش کال دکندهار ولایت په معروف ولسوالی کې دمولوي نور جهان صاحب په علمي او جهادي کورنۍ کې زیږیدلی. مولوي نور جهان صاحب دشوري ضد جهاد په مهال کندهار کې دحرکت انقلاب اسلامي قوماندان و، دکندهار په مختلفو محاذونو کې یې دکمونستانو خلاف جهادکې برخه اخیستې ده.

حافظ حامد دقران کریم حفظ د بلوچستان ایالت په اصحاف صفه مدرسه کې وکړ، وروسته یې په منهاج القران مدرسه کې دیني زده کړې پیل کړې،د زده کړې په جریان کې داستشهاد مینه پرې غالبه شوه، مدرسه یې پرېښوده، اصحاب الجنة معسکر ته ولاړ،جهادي تدریب یې پای ته ورساوه اواستشهادي عملیاتو ته انتظار شو.

داصحاب الجنة معسکر مسؤلینو چې دحافظ حامد استعداد او لیاقت ولید،وخت په وخت به یې نوموړی له عملیاتو څخه وروسته کاوه او په معسکر کې یې په خدمت موظف کاوه،خو حافظ حامد به دژوند هره شیبه دشهادت له ارمان سره تېروله، لس کاله یې دشهادت ارمان وپاله او پای خپل ستر ارمان دشهادت عالي مقام ته ورسید.

په اصحاب الجنة معسکر کې

د اصحاب الجنة معسکر مسولینو حافظ حامد په همدې معسکر کې داستاد په صفت مقرر کړ،نوموړی دهمدې معسکر دایمي استاد و،خو وخت په وخت به دخالد بن ولیدرضی الله عنه معسکر ته هم د تدریس او امتحان لپاره ور بلل کیده او په کال کې به یې دوې- درې میاشتې دهلمند په سره قطعه کې خدمت کاوه.

حافظ حامد لس کاله په اصحاب الجنة معسکر کې داستاد او خادم په حیث خدمت وکړ، زرګونو استشهادي مجاهدینو ته یې روزنه ورکړه، دنوموړي په لاس روزل شوي سلګونه مجاهدین داستشهاد میدان ته ولاړل،پر دښمن یې تندریز بریدونه وکړل او دشهادت ارمان ته وصل شول، همداراز دحافظ حامدتقبله الله له خواد روزل شوو مجاهدینو له جملې څني یې اوس هم په مختلفو معسکرونو کې داستادانو په حیث خدمت کوي.

له شهادت سره مینه

حافظ حامد دشهادت په مینه کې غرق و،همیشه یې دشهادت تمنااو کوښښ کاوه، له ملګرو، استادانو او والدینو یې غوښتنه کوله چې دشهادت

دعاء ورته وکړي. د حافظ حامد ورونه وايي:« حامد چې په کور ته راغی، مور ته به يې ويل: مورکې! دشهادت دعاء نه راته کوې! مورکې! به مو ويل يارب زما دزوی ارمان(شهادت) پوره کړې!، دحامد مشر ورور وايي: مور مو چې دحافظ حامد له شهادت څخه خبره شوه،ويې ويل:« اوس مې زړه يخ شو چې زما د زوی ارمان پوره شو!!».

حامد او له نبوي سنتو سره محبت

حامد دبشريت دلارښود رحمة اللعالمين صلی الله عليه وسلم سره ډيره زياته مينه درلوده او دان حضرت صلی الله عليه وسلم د طريقې ټينګه پيروي يې کوله،نبي عليه الصلاة و السلام او صحابه کرام به يې ډير ډير په خوب کې ليدل، استشهادي ملګرو به هم په مختلفو کيفيتونو سره حامد له نبي عليه السلام سره خوب کې ليده.

قال ابوهريرة ض سمعت رسول الله صلی الله عليه وسلم يقول:((من رآني في المنام فكأنما رآني في اليقظه، فان الشيطان لا يتمثل بي)) حضرت ابوهريره رضی الله عنه وايي، له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه مې واوريدل چې ويل يې:« کوم څوک چې ما په خوب کې ويني، لکه په ويښه يې چې ليدلی يم، بې شکه شيطان زما تمثيل نشي کولای»

اصحاب الجنة معسکر کې دحامد ملګري وايي: حامد دژوند په اخري شپو کې خوب ويني چې رسول الله صلی الله عليه وسلم روان وي،نوموړی وريسې وي،ان حضرت صلی الله عليه وسلم چې له کوم ځای څخه مبارک قدم پورته کړي، حامد په هماغه ځای پل کښيږدي،په همدې روان حالت کې له يوې غونډۍ سره صحابه کرام رضوان الله تعالی عليهم ولاړ وي او حامد هم ورسره ملګری شي.همدا خوب دحافظ حامد په شهادت سره تعبير شو.

اصحاب الجنة معسکر کې د يوه استشهادي مجاهد وينا ده: خوب مې ليده، حضرت محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم راته وويل: « حافظ حامد ته ووايه چې ټول ارمانونه به دې پوره شي».

کله چې حامد او ملګري يې د شوراب غزا ته روانيدل، دهمدې غزا ملګري (متوکل باالله) نبي عليه السلام په خوب کې ليدلی و ،متوکل باالله ويل: نبي عليه الصلاة والسلام راته وويل:« اوس لو ورځه اجازه ده».

حافظ حامد دډيرو ښو صفاتو څښتن و، پر تقوی، اخلاص، صبر او استقامت يې ملګري اعتراف کوي او دمثال په ډول يې ذکر کوي،دحامد داستشهادي ملګرو په ويناکله چې به استاد حامد د روزنې ميدان ته را داخل شو نو ملګرو به يو خانګړې کيف احساساوه.

حافظ حامد د ښکلي اواز او پياوړې حنجرې څښتن و، دقران کريم تلاوت يې په ډير ښه انداز او ښايسته اواز سره کاوه،نبوي نعتونه او جهادي ترانې به يې ويلې او ملګرو استشهاديانو به دنوموړي نعتونه ډير خوښول.

د نمونې په ډول دحافظ حامد له لوري دويل شوو نعتونو څو بيتونه

ليونی نه يم پارولی يم زور دمينې
سرخرڅوم اداء کوم ورباندې پور دمينې

ديدن ته دې حبيبه ناقرار دمينې تږي
بې حد په زړه زخمي کړل انتظار دمينې تږي
دعشق په مدرسه کې يې ازمون دمينې ورکړ
کامياب راغلل تحفه کې يې ژوندون دمينې ورکړ
مضمون دقربانی ته شول تيار دمينې تږي

د شوراب عملیات او دحامد شهادت

د ۲۰۱۹ دفبروري دمیاشتې په ۲۸مه نیټه دجمعې په شپه داسلامي امارت اتلو استشهادي مجاهدینو هلمند کې د شوراب پر لویه پوځي اډه عملیات ترسره کړل. شوراب دیرغلګرو لویه او مشهوره اډه ده،په دې اډه کې داخلي عسکر هم میشت دي. له دې اډې څخه دمجاهدینو او عام ولس پر ضد عملیات رهبري کیږي او دافغان ولس دیرغلګرو دښمنانو او اجرتي قاتلانو یو لوی پټنځای دی.

دشوراب په مبارکو عملیاتو کې (۹) تنه استشهادي مجاهدین برخه وال وو (مولوي متوکل بالله د هلمند، حافظ حامد، منتقم، نوید او عبدالرحمن د کندهار، بدرالدین او عمرمنصور د غزني، بدري او هلال د زابل) فدایي مجاهدین په سپکو او درنو وسلو سمبارل وو،او د یو خاص تاکتیک څخه په ګټه اخیستنه دې مهمې اډې ته ننوتل او پردښمن یې بریدونه پیل کړل.دې عملیاتو ۴۶ ساعته دوام وکړ، یرغلګر او مزدور دښمن ته یې د سر او تجهیزاتو خورا درانه زیانونه ورسول.

دالاماره ویبپاڼې د راپور په اساس : دشوراب په عملیاتو کې (۱۳۷) تنه امریکایي اشغالګر عسکر ووژل شول او ۱۹ تنه ټپیان شول. همدارنګه د ګارنیزیون قومندان سراج او د کماندو عسکرو قومندان منصور په ګډون (۲۶۰) تنه داخلي عسکر مړه او (۷۳) تنه یې زخمیان شول.په همدې عملیاتو کې ددښمن ګڼې الوتکې، (۳۳) هاموي او (۱۹) ضربتي ټانګونه، (۲۷) عرادې رینجر موټر، (۲۱) عرادې انټرنشنل موټر، (۷) عرادې نظامي امبولانس (۱۱) عرادې د تیلوډک ټانکر او دیرې د تیلو ذخیرې، دوسلو ډیپوګان،ورکشافونه،دالوتکو رادار او ۴۰سلنه پوځي تاسیسات له منځه یو وړل شول.

حافظ حامد تقبله الله دشوراب عملیاتو په دوهمه ورځ(د۲۰۱۹ دمارچ په لومړۍ نیټه) باستن کمپ کې دننه دیرغلګرو سره په مخامخ سخته جګړه کې دشهادت عالي مقام ته ورسید.دالله تعالی ځانګړې پیرزوینه او دمشرانو شفقت و چې حامد لس کاله داستشهادیانو او نورو مجاهدینو روزنه وکړه او بیا د شهاب ثاقب په څېر داخوان الشیاطین په یو لوی مرکز(باستن کمپ) ور ولوید او دسلګونو شیطانانو له شررارته یې امت ته نجات ورکړ.

تقبله الله



د هڅونې (تشجيع) ارزښت

احمد حمزه

نعم الرجل عبدالله لو کان يصلي من الليل.

عبد الله ښه سړی دی که د شپې لمونځ يې کولای!

دا خبره پيغمبر صلی الله عليه وسلم دعبدالله بن عمر رضی الله عنه په حق کې کړې ، همدا خبره وه چې د ده په زړه کې ولوېده، بيا به هر وخت د شپې پاڅېدلو اندېښنه ورسره وه.

دا يوه هنګامه شوه، پسې زياته شوه، نورو ته تيته شوه، چې نورو ته يې هم ګټه ورسېده بس چا به چې اورېده، د هغه به دا عمل ګرځېده.

دومره خوږو الفاظو باندې شخصيت هڅونه او تشجيع ډېرو مواردو کې له پيغمبر صلی الله عليه وسلم څخه رانقل شوې، چې بيا د ټول امت لپاره لارښوونې وګرځېدې.

يقينا هغه امتونه چې خپل تاريخي برم لري او وياړي ورباندې ، هغوی تل دا کوښښ کوي چې په نورو امتونو مخکې شي، هغه څه يې رابښکاره کړي وي چې خوانان يې پکې ځانګړتياوې لري ، هغوی په همغوځانګړنو وهڅوي، تشجيع يې کړي، دهغوی تشجيع او هڅونې سره مجال پراخيږي، په وخت سره دوی بيا له خپلې ټولنې سره په تراو وطنونهورباندې آباد کاندې.

تشجيع او تشويق چې د اميدونو په روح کې ساه پوه کول، په ډېرو رنګينو الفاظو، غوره اسلوب، په مناسب ځای او موقف کې چې وهڅول شوی، سړی ورباندې پرمختګ کوي او همت يې لوړ شي، بيا يې په مخکې کوم مشکلات او خنډونه مخه نه شي نيولای.

د هڅونې (تشجيع) له برکته:

په يو نيک او دخير کار کې هڅونه او تشويق ډېرته په ترسره کوونکي او هڅوونکي دواړه له لوړ اجر او ښه انجام څخه برخمن کيږي:

پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايي:

«مَنْ دَعَا إِلَى هُدَى كَانَ لَهُ مِنَ الأَجْرِ مِثْلُ أُجُورِ مَنْ يَتَّبِعُهُ لَا يَنْقُصُ ذَلِكَ مِنْ أُجُورِهِمْ شَيْئًا» (سنن الترمذي ت شاكر (٥/ ٤٣)

ژباړه: چا چې خير طرف ته بلنه وکړه، دده لپاره دومره اجر ده څومره چې د ترسره کوونکي لپاره وي، د هغوی له اجر څخه به هيڅ نه کميږي.

امام طيبي رحمه الله فرمايي : څنګه چې ثواب او عقاب دواړه په کوونکي مرتب کيږي، دغه راز دغه دواړه په هغه چا چې مسبب يې وي، يعنې لارښوونه يې ورته کړې وي، يا يې اشارة ورته ويلي، او يا يې تينګار پرې کړی او هڅولی وي .

هغه اړخ چې مسبب يې د جزا يا اجر موجب ګرځي، ماوراء له هغه چا چې کار يې په خپله کړی وي د هڅول شوي له اجر څخه د هڅوونکي اجر نه کميږي.

نو امام طيبي رحمه الله دوه کسانو ته په اشاره کې څرګندوي چې د هريو لپاره څو چنده اجرونه د دوی عمل سره سم زياتيږي:

نو دلته هغه څوک چې خپله دخير كار وكړي او هغه چې دغه خير ته يې وهڅوي، او په كولو يې لاربښوونه وكړي، د دواړو يو برابر اجر دى چې يو د بل له اجره هيڅ نه كميږي، نو ځان مشال كړه چې نور ستا په رڼا لار پيدا كړي او د هدايت سبب وګرځې!

د تشجيع لارې چارې:

ځينې خلک ګومان كوي چې كه څېرته د چا ستاينه وشي، نو دى بياپه خپل كار كې څنډنى كيږي، بيا به سم كار نه كوي، له همدې وجې دوى دا ښه انګيري چې بيخي د دوى ستاينه ونه كړي او نه ور څخه په كار كې رضامندي ښكاره كړي، ددې لپاره چې كوشش زيات كړي او يا خو يې بيخي كړى كار نيمګړى او كم وګڼي چې په كار كې نور اخلاص وكړي، خو دا كار له شخصيت سره ستر ظلم دى. ډېر وارې يو شخص چې كار په ښه توګه ترسره كوي او بيا له كاره لاس نيسي، هغه دا وجه وي چې نوموړى يو ښه مرستندوى او تشويقوونكى نه لري، كه څه هم په يوه په خوږه كلمه وي.

۲- مناسبه داده چې انسان بايد د تشويق او هڅونې يو داسې توازن وساتي چې نه تشويق دومره زيات شي چې نفس ورسره پورته او غرور پيداكړي او نه هم تشويق پرېښودل داسې حد ته ورسيږي چې د انسان زړه مات او له كاره ولوېږي.

۳- موږ هغه كلمې چې چاپلوسي ته رسيږي او هغه كلمات چې په روح ډېر اثر لري او همت ورسره پورته كيږي بايدوپېژنو. په لومړي سره چې كه په دروغو چانه وويل شي، اثر يې نه وي اوكه وي هم بيا ډېر كم او لږ څنډه پورې وي؛ دويمه خبره له خپل اثر سره په فرد او ټولنه دواړو پريږدي.

۴- د شخصيت هڅونې په پار ډالۍ وركول هم ډېر لوى اغيز لري.

۵- هغه كسان چې خانګړى او ابتكاري كار يې ترسره كړى وي، دهغوى د حوصله افزايي او هڅونې لپاره يو جشن بايد ونيول شي، پدې كې په نوموړي سربېره په ګډون كوونكو هم اثر غورځوي او تر ډېره وخته يې بيا په ياد وي.

٦- د تشجيع او هڅونې تر ټولو ښه لاره داده چې موږ هغه خبرې وړاندې كړو چې سړى پرې پرمختګ كوي چې هغه له نورو سره په غمونو، كارونو كې رايه وركول او ورسره په كار كې همكاري او مشاركت كول دي، تركومه چې يې په وسه برابر وي.

د تشجيع ژوندى بېلګه :

كار ته هڅونه زموږ د اسلافو هم خانګړنه وه، امام ابوحنيفه رحمه الله هغه وخت چې لا په ماشوم و، او د بيداري او ذكاء نښې وربانډې له ورايه ښكاربدې اوپه خلكو كې يې دهغه ويښتيا او زيركتوب خبره خپره شوه، تردې چې د كوفې قاضي او د زمانې ستر عالم د محدثينو مشر امام شعبي رحمه الله ته خبره ورسېده، يو ورځ امام ابوحنيفه رحمه الله له هغه سره مخ شو، نو هغه ورته وويل چې : ته څه كوې؟ هغه وويل زه تجارت كوم، امام شعبي رحمه الله ويل: عليک بالنظر في العلم ومجالسة العلماء فإني أرى فيک يقظة وحركة. علم باندې خپل نظر لره او له علماو سره ناسته ولاړه كوه، زه په تا كې بيداري او خوځښت وينم.

همدغه خبره يې په زړه كې ولويده ، له بازار سره يې علاقه پرېښوده او په علم يې له همغه وخته پيل وكړ.

د هڅونې يوه بله مهمه ګټه داده چې كله د علماو لخوا د چا هڅونه كيږي، په راتلونكي كې له هغوى نه يو لوى واعظ جوړيدلى شي خو چې عملي يې وهڅوي او دخلكو په مخكې د غږېدلو زمينه ورته مساعده كړي، امام ابن كثير رحمه الله كيسه كوي چې : لومړى ځل چې ابن الجوزي رحمه الله مجلس ته وغږيد، عمر يې ۱۳ كاله و، او له خپل استاد ابو القاسم علي بن علوي البلخي لخوا ورته دمقالې اوخبرو ترتيب شوى و چې خپله هم موجود و، هغه ورته كلمات ښودلي و، ممبر ته يې پورته كړ او ابن الجوزي رحمه الله كلمات وړاندې كړل. ابن الجوزي رحمه الله په خپله وايي چې دغه ورځ پنځوس زره كسان و، والله أعلم.

نو ددومره کم عمر سره بیا هم هغه وکولای شول چې تقریر وکړي او ددې اثر خپله په راتلونکو خلکو وغورځېد او د هڅونې (تشجیع) له برکته هغه د خپل عصر یو ستر وینااوال او خطیب شو.

۲- کله چې هڅونه او تشویق په ټولنه کې د پرګنو ترمنځ یو تړاو ولري او خوانان د مشرانو له تجربو څخه ګټه واخلي نو هغوی به د لویو مسئولیتونو په تحمل کولو بلد کړي، یوه ورځ عمرو بن العاص رضي الله عنه د قریشو په حلقه کې ناست و، هغه وویل چې تاسې ولې د غه ځوانان همداسې پرې ایښي؟ داسې مه کوئ، هغوی ته مجلسونو کې ځای ورکړئ او هغوی ته ښې خبرې ور واوروئ او په خبرو یې پوه کړئ، هغوی که اوس د قوم بې تجربې هلکان دي، بیا به د قوم مخور وي، لکه څنګه چې نن تاسې د خپلې قبیلې مخور یاست. [شرف أصحاب الحدیث للخطیب البغدادي ص۶۵].

د تشجیع او هڅونې لپاره عبارتونه:

دلته ځینې هغه کلمات راوړو که استاد یې دطالب او آمر یې د مامور لپآره د تشویق او تشجیع په توګه د خلکو په مخکې وکاروي نو د هغه هڅونه کیږي او هغه په کار او فعالیت کې لا برېالی کوي او چټک پرمختګ کولای شي:

- ته چې کوم کمال لرې، بېلګه یې نشته!
- خلک به تاته وایي چې د درد احساس ډېر بد وي، خو درد ترېوه وخته وي او کامیابي ټول عمر درسره ملګرې وي.
- ته یې کولای شې... ګوره کوم خلک چې اوس پیسه داره دي، دوی ټول پخوا مسکینان و، خو دوی سره عزم او اراده ملګرې وه.
- خپل ځان وپیژنه، د خپل کمال قدر وکړه او خپل وخت منظم کړه، بیا به خامخا خپل هدف ته رسیږې.
- لکه څنګه چې حکماء وایي : که مونږ د هغو خلکو په اړه فکر وکړو چې زمونږ کامیابي نه غواړي او ناکامي مو غواړي، نو دغه شعور مونږ ته ډېر قوت رابښي.
- زه خپله چې د یوې ډلې تصور کوم ، نو د هغه چا انتخاب یکې کوم چې کامیابي خوښوي، که داسې څوک پیدا نه کړم؛ بیا هغه خلک ګورم چې شکست یې بد ایسي.
- کامیابي د خپل کوشش او عمل ثمره ده، آیا ته دا خوښوې چې د کامیابو خلکو په لومړي کتار کې راشي او که ته په خپل ځای درېږې او یواځې د دوی سیل کوې!
- ناکامي د راتلونکي بریالیتوب لپاره سبب وي، نو همدغه ناکامي ځان لپآره غنیمت وګڼه او خپل ژوند دناکامۍ له وجې مه تباه کوه.
- له حقائقو نه تیښته مه کوه! ځکه چې پدې سره کمزوری کیږې! بلکې ځان ورسره مخ کړه او ځان ورباندې برلاسی کړه، بیا به خپل هدف ته خامخا رسیږې.
- خپل کار سره مینه وکړه، بریالیتوب خوښ کړه... ځان د لوړو ارادو څښتن کړه، صادق اوسه او خپله کامیابي غواړه!
- زه چې تا تشویقوم، دا نه چې ته کمزوری یې، ددې لپاره چې یو بریالی او ممتاز شخصیت در نه جوړ شې، همدغه امتیاز دې غواړم.
- د بریالیتوب عمیقه معنا داده چې د سختیو او ستونزو په شتون کې بیا هم پرلپسې خواري او کوشش کول.
- چې ته خپله لار له پیله ځان ته معلومه کړې او په سمه لار هم لاړ روان یې خو پدې نه یې پوه چې څه غواړې، خپل هدف نه لرې نو بیا هم ته لار ورکی یې!
- له هدف لرونکو خلکو سره علاقه ساته چې ته هم کامیاب شې... او بې امیده خلکو نه لرې اوسه، هسې نه چې ته هم ورسره ناکام شې!
- خپل ژوند ته په ایجابي سترګه ګوره ... خپل پرمختګ او ترقي په ذهن کې ونیسه... خامخا به داسې ورځ راځي چې ستا ارزوګانې به پوره کیږي.

د تشــویق او هڅــونې ډګرونه:

موږ ته ښکار دي چې يو څوک د داسې څه لپاره وهڅوو او تشويق يې کړو چې الله پاک پرې راضي کيږي او خلکو ته يې نفع رسيږي، چې يو څو يې دلته راوړو:

۱- د د خير په کار کې په بيداري او د اصلاح په لار کې تشويق:

د يو چا د اصلاح لپاره د تنقيد په ډول هڅونه چې له بدو اجتناب وکړي او اصلاح يې وشي، دغه راز مسلمان هميشه په خير کې کار تسابق کوي، ځکه هغه د الله پاک په اجر پوهيږي او د صالحينو خلکو اجر او ثواب پيژني، که پدې لاره کې څوک تشويقوي نو الله تعالى به يې دده ددين او دنيا ښايسته او کامياب کړي.

۲- د مسئوليت په تحمل :

څوک چې مسئوليت نه شي کولای، په ټولنه بوج ګرځي، که هغه مسئوليت دخپل اهل عيال ښه ساتنه او پالنه هم وي، پيمغبر صلى الله عليه وسلم اسامه بن زيد ته پداسې حال کې د ټول لښکر سرمشري سپاري چې ۱۸ کاله عمر لري او له ده نه ستر صحابه په لښکر کې موجود دي.

۳- وختي عمر کې د واده کولو لپاره هڅول:

عبدالله رضي الله عنه وايي چې موږ له نبي کريم صلى الله عليه وسلم سره هغه وخت چې ځوانان و، موږ سره هيڅ په لاس کې نه و، نو موږ ته پيغمبر صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې:

«يَا مَعْشَرَ الشَّبَابِ، مَنِ اسْتَطَاعَ البَاءَةَ فَلْيَتَزَوَّجْ، فَإِنَّهُ أَغَضُّ لِلْبَصَرِ وَأَحْصَنُ لِلْفَرْجِ، وَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَعَلَيْهِ بِالصَّوْمِ فَإِنَّهُ لَهُ وِجَاءٌ» (صحيح البخاري (۷/ ۳)

اې د ځوانانو ټولنه! څوک چې د واده کولو توان ولري، هغه دې واده وکړي، ځکه دا ترټولو دنظر ښکته کوونکی او د شرمګاه (فرج) ښه ساتونکی دی او څوک چې يې توان نه لري، نو هغه دې روژه ونيسي ځکه هغه دده لپاره (د شهوت) مخنيوی کوونکی دی.

هغه څوک چې د واده له خرڅ او مصارفو ويريدل، هغوی لپاره پيغمبر صلى الله عليه وسلم وفرمايل:

ثَلَاثَةٌ حَقٌّ عَلَى اللهِ عَوْنُهُمْ: الْمُجَاهِدُ فِي سَبِيلِ اللهِ، وَالمُكَاتَبُ الَّذِي يُرِيدُ الأَدَاءَ، وَالنَّاكِحُ الَّذِي يُرِيدُ العَفَافَ (سنن الترمذي ت بشار (۳/ ۲۳۶)

درې کسان داسې دي چې په الله تعالى يې مرسته حق ده: هغه مجاهد چې د الله په لاره کې جنګيږي، هغه مکاتب (غلام) چې د (خپلې آزادۍ لپاره د ټاکليو روپيو) ورکولو اراده لري او هغه چې د خپل عفت ساتلو لپاره نکاح کوونکی وي.

نو وروستی خبره داده چې کله انسان تشجيع او تشويق له چا ونهويني ، بيا د اهمال او بې وسۍ په رنځ رنځيږي، کله ناکله انسان له يوه مشکل سره مخ شي، له نيک کار کولو هم غورځيږي او لاس ترې اخلي، موږ اوريدلي چې په نشيي توکو روږدي شوي کسان، په اکثره مواردو کې د عدم حوصله افزايي، نا اميدۍ او د خپلې کورنۍ لخوا ورسره د ناسم چلند، د بې اهميته بللو ښکار شوي وي، هغوی د خپل پام غلطولو او غم لرې کولو په خاطر نشيي توکو ته مخه کوي، چې بيا په ټولنه هم بار وګرځي او خپله هم ترې ټول عمر رنځيږي، او د بې نتيجې ژوند وروسته، چېرته اوبه پرې راغلې، وړې يې وي او يا يې څوک دغسې چېرته خاورې پرې واړوي.

څنګه چې الله تعالى انسان په ټولو مخلوقاتو غوره مخلوق دی، نو يو داسې حالت څخه د ژغورلو په خاطر کوم کسان چې دغسې احساس يې زړه ماتوي، هغوی دې پدې وپوهيږي چې د کار او عمل غوره والی يوازې پدې کې ده چې اخلاص، اتقان او نفعه يې زياته وي، نه د خلکو په ستاينو او صفت کولو؛ خو دا چې انسان په تشجيع او تشويق لا غښتلی کيږي، نو موږ بايد د نورو د کار ستاينه وکړو، شکر او تقدير يې کړو، ښه تشجيع او تشويق يې وکړو.

دجهاد لپاره اعداد څومره اهمیت لري؟

داسلامي شریعت په احکامو کې جهاد دومره لوی اهمیت لري چې داسلامي ضروري عقایدو نه بعد بل کوم فرض، کوم رکن اوعبادت یې نلري، داخبره په قران وحدیث کې بیا، بیا راغلې چې داسلامي ژوند بقا په جهاد باندې موقوف ده، ترکومه پورې چې په مسلمانانوکې دجهادجذبه ژوندۍ او پاته وي او هر مسلمان فرد ورسره دومره علاقه ولري چې دخپل ژوند، مال، وخت او ځان قربانولو هروخت تیاروي دنري، هیڅ خواکمن یا زبرخواک په مسلمانانو غالب کیدای نشي، هر کله چې دجهادجذبه سره شيء یعنې د مسلمانانو دزړونو څخه د جهادجذبه ووځي نوژرده چې په هغه ورځ یاشیبو کې مسلمانانو ته ملي مرگ هم را شي، په دې اړه قرآن کریم په مثال کې دیهودو تاریخ وړاندې کوي څو چې په یهودانو کې دجهادجذبه ژوندۍ وه، عزت اوحکومت یې په لاسو کې و، کله چې پر هغوی دعیشونو، راحتونو او هوسونو دطلب غلبه راغله اوپه متدلو پسې یې ونښتل، نوذلت، خواري، محکومیت او دغلامۍ داغ دهریهودي په تنده جوړشو اودهمیش لپاره خوار و ذلیل شول

وَضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ وَالْمَسْكَنَةُ وَبَآؤُواْ بِغَضَبٍ مِّنَ اللَّهِ

الَمْ تَرَ إِلَى ٱلْمَلَإِ مِن بَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ مِنۢ بَعْدِ مُوسَىٰٓ إِذْ قَالُواْ لِنَبِيٍّ لَّهُمُ ٱبْعَثْ لَنَا مَلِكًا نُّقَٰتِلْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ ۖ قَالَ هَلْ عَسَيْتُمْ إِن كُتِبَ عَلَيْكُمُ ٱلْقِتَالُ أَلَّا تُقَٰتِلُواْ ۖ قَالُواْ وَمَا لَنَآ أَلَّا نُقَٰتِلَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَقَدْ أُخْرِجْنَا مِن دِيَٰرِنَا وَأَبْنَآئِنَا ۖ فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيْهِمُ ٱلْقِتَالُ تَوَلَّوْاْ إِلَّا قَلِيلًا مِّنْهُمْ ۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌۢ بِٱلظَّٰلِمِينَ

جهادي جذبې څنگ ژوند مومي؟

اگرکه دعمل په اعتبار دفاعي جهاد هغه وخت د[لازم] نه [الزم] کېږي چې کله دښمن په مسلمانانو باندې یرغل یاحمله وکړي یعنې دهغوی دیرغل اوحملې په وجه دفاع ته ضرورت پیښ شي خو دعزم او استقلال له پلوه دا حکم ترکوم خاص وخت پورې محدود ندی بلکې په هرحال، هروخت په مسلمان باندې فرض ده چې ددښمنانوڅخه ددفاع لپاره تیار اوچمتوالی ولري اوپخپل ټول مادي او معنوي ځوک دهغه لپاره آماده گې لري اوهیڅکله دجهادلپاره په تیارۍ او اماده گۍ کې غفلت اولاپرواهي ونکړي په عظیم قرآن کې الله تعالی په ډیر صراحت سره په لاندې مبارک ایت کې دجهاد داعداد، تدریب او دهغه دعزم ، طلب او تیارۍ په اړه حکم کړی :

﴿ وَأَعِدُّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ وَمِنْ رِبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِ عَدُوَّ اللَّهِ وَعَدُوَّكُمْ وَآخَرِينَ مِنْ دُونِهِمْ لَا تَعْلَمُونَهُمُ اللَّهُ يَعْلَمُهُمْ وَمَا تُنْفِقُوا مِنْ

شَيْءٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ يُوَفَّ إِلَيْكُمْ وَأَنْتُمْ لَا تُظْلَمُونَ ﴾.

اوتیاروئ (ای مؤمنانو)لپاره(دجنگ) ددغو(عهدماتوونکویا دمطلق کفارو) څومره چې توان لرئ (یعنې جمع کولی شئ) تاسې دقوت نه (اسبابو دجنگ) اوله روزل شوو، ساتل شوو اسونو(لپاره دجهاد) څو وویروئ تاسې په دغه (قوت اوتیاری) سره دښمنان دالله او دښمنان ستاسې، او تاسې نور کسان بې د دوی نه پیژنئ ، الله تعالی عالم دی په (عداوت د) هغوی او هرهغه څه چې خرڅ کوئ تاسې د یوه شي نه، په لاره دالله کې (لپاره) دترقی ددین)پوره (بدل دهغه) به درکړای شي تاسې ته، حال داچې پرتاسې به ظلم ونشي-(دثواب په لږوالی او دعذاب په ډیر والی کې)

مولانا شبیر احمد عثماني رَحِمَهُ اللَّهُ چې دحضرت شیخ الهند (مولانا محمود الحسن دیوبندي رح) په ترجمه کومه حاشیه یاتفسیر لیکلی په هغه کې مولانا عثماني لیکلي: په الله تعالی باندې داعتماد او توکل معنی دانه ده چې مشروع او ضروري اسباب دي پرېښودل شي، څکه په مسلمانانو فرض ده څو چې قدرت لري، وس لري او توان لري جهاد ته به خانونه تیاروي، دجهاد لپاره به اسباب او وسلې پیدا کوي او هم به خانونه جهاد ته اماده اومجهز ساتي.

درسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مبارکه زمانه کې په اسونو سورلي، توره وهل، (نیزه بازي) غشي- ویشتل اونورجنگي مشقونه او تمرینونه دجهاد دلوازموڅخه گڼل کیدل، نن سبا په توله نړۍ کې د جنگ په اسبابو او وسائلو کې لوی تغیر راغلی، نوي پرمختللي تیکنالوجي منځته راغلې توپونه، ټانگونه، شوبلې، الوتکې، سمندري بیړۍ او اوبتلونه ایجاد شوي ، مختلف ډول توغندي او رهبري شده وسلې جوړې شوي، فی الحال جنگونو کې داټولې کارول کیږي او په خاصه توگه دمسلمانانو دښمن خو پرې ترژامو پورې مجهز اومسلح دی او په موجوده دور کې همدا پرمختللي وسلې دجنگ دلوازمو څخه دي، نو په مسلمانانو فرض ده چې ددښمن دمقابلې لپاره یادې ټولې وسلې پیدا، جوړې اوترلاسه یې کړي او دجنگ په میدان کې دي دځپلو هیوادونو، ښارونو او ولسونوڅخه ددفاع لپاره وکاروي نو داوسنیو جنگي اسبابو او وسائلو جوړول یا پیدا کول، دهغو په استعمال اچول او چلول همدا راز دحربي اوعصري فنونو زده کول لازم او ضروري دي په دې علاوه ورزش کول، وسلې زده کول، داستعمالولو اوچلولو عملي زده کړې کول،ډول ډول عملیاتي تاکتیکونو یادول او پیژندل دجهاد اوحرب دلوازماتو څخه دي او نه یواځې په اوسنیو جنگي اسبابو او الاتو بسیا نه کول بلکې کوښښ کول چې په راتلونکي کې کوم نور پرمختللي جنگي اسباب او وسائل رامنځته کیږي باید دهغو ترلاسه کولو لپاره هم پلانونه ترتیب او منظم کړي او ضروري ده دې لړ کې خپل ایجادات او اختراعات هم رامنځته کړي څکه داټول ددې ایت په منشاء کې داخل دي هرچې اسونه روزل او ساتل دي دهغو په اړه پخپله رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي« الخیل معقود فی نواصیها الخیر الی یوم القیامة» داسونو په تندیو کې ترقیامته خیر اینښودل شوی، په احادیثو کې راځي: هرهغه کس چې اس دجهاد په نیت روزي اوساتي یې هغه ته به په خوړلو او څکلو بلکې په هرقدم پورته کولو اجر ورکول کیږي او دقیامت په ورځ به دده ترخوړو او نورو پورې ټول به په تله (میزان) کې تلل کیږي په موجوده وخت کې څو هم داسونو اهمیت لا شته او درسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دارشاد مبارک سره سم به ترقیامت پورې وي لیکن په ضرورت کې یې کمی ضرور راغلی، نن ټانگونو ، شوبلو او عراده جات

داسونو څای نیولی، نوداسونو په څای که مسلمانان په اجتماعي یا انفرادي توګه مروجه وسلې جوړې یا پیدا کړي ، هغه و چلوي اووې کاروي دقیامت په ورځ به الله تعالی ددې ټولو په عوض کې اجرونه ورکوي مراتب به یې لوړوي دېورتني مبارک ایت دامفهوم چې موږ ورته اشاره وکړه نورو محدثینو او علماوو هم کړی لکه په دې لاندې عبارتونو کې راغلی:

تفسیر الواحدی لیکي ﴿ وأعدوا لهم ﴾ أيْ: خذوا العُدَّة لعدوِّكم ﴿ ما استطعتم من قوة ﴾ ممَّا تتقوون به على حربهم من السِّلاح والقسيِّ وغيرها ﴿ ومن رباط الخيل ﴾ ممَّا يرتبط من الفرس في سبيل الله ﴿ ترهبون به ﴾ تخوِّفون به بما استطعتم ﴿ عدو الله وعدوكم ﴾ مشركي مكَّة وكفَّار العرب ﴿ وَآخَرِينَ مِنْ دُونِهِمْ ﴾ وهم المنافقون ﴿ لا تعلمونهم الله يعلمهم ﴾ لأنَّهم معكم يقولون: لا إله إلاَّ الله ويغزون معكم والمنافق يريبه عدد المسلمين ﴿ وما تنفقوا من شيء ﴾ من آلة وسلاحٍ وصفراء وبيضاء ﴿ في سبيل الله ﴾ طاعة الله ﴿ يوف إليكم ﴾ يخلف لكم في العاجل ويوفَّر لكم أجره في الآخرة ﴿ وَأَنْتُمْ لا تُظْلَمُونَ ﴾ لا تنقصون من الثَّواب.

♦تفسیر البغوي "معالم التنزيل:" لیکي قَوْلُهُ تَعَالَى :﴿ وَأَعِدُّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ ﴾، الْإِعْدَادُ: اتِّخَاذُ الشَّيْءِ لِوَقْتِ الْحَاجَةِ. مِنْ قُوَّةٍ، أَيْ: مِنَ الْآلَاتِ الَّتِي تَكُونُ لَكُمْ قُوَّةً عَلَيْهِمْ مِنَ الْخَيْلِ وَالسِّلَاحِ. أَخْبَرَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ عَبْدِ الْقَاهِرِ أَنْبَأَنَا عَبْدُ الْغَافِرِ بْنُ مُحَمَّدٍ أَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عيسى الجلودي ثنا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ سُفْيَانَ عَنْ مُسْلِمِ بْنِ الْحَجَّاجِ ثَنَا هَارُونُ بْنُ مَعْرُوفٍ ثَنَا ابْنُ وَهْبٍ أَخْبَرَنِي عَمْرُو بْنُ الْحَارِثِ عَنْ أَبِي عَلِيٍّ ثُمَامَةَ بْنِ شُفَيٍّ أَنَّهُ سَمِعَ عُقْبَةَ بْنَ عَامِرٍ يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ وَهُوَ عَلَى الْمِنْبَرِ: «وَأَعِدُّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ أَلَا إِنَّ الْقُوَّةَ الرَّمْيُ، أَلَا إِنَّ الْقُوَّةَ الرَّمْيُ، أَلَا إِنَّ الْقُوَّةَ الرَّمْيُ.«

مشهور فقهي اصل دی[مَالَا يَتِمُّ الواجِبُ الابه فهوا واجبٌ](الاشباه والنظائر۱-۱۳۶مخ، شرح قواعد الفقهیه ۱-۳۰۳مخ) په کوم څیز چې د کوم واجب دحصول دارمدار وي هغه څیز هم واجب ګرځي،نو دمسلمانانو او ملت نه دفاع واجب ده.دمسلمانانو ددفاع لپاره چې ضروري ده چې دکومو څواکونو اویا هیوادونو دمسلمانانو دفاع کول ضروري وي هغوی سره چې په مسلمانانو باندې دحملې لپاره کومې وسلې وي په مسلمانانو فرض ده چې هغوی دهغو وسلو نه دفاعي وسلې او توکي ترلاسه کړي دعلماوو په نظر ددې ټولو څیزونو حصول شرعاً هغسې فرض دی څنګه چې دمسلمانانو نه دفاع فرض ده

نو دجهادي اعداد په برخه کې سستې او تنبلې دشریعت نه سرغړونه ده، احادیثو کې په دې اړه سخت وعیدونه راغلي: دحضرت ابوهریرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ روایت دی: من مات ولم يغزو ولم يحدث نفسه به ، مات على شعبة من النفاق کوم مسلمان چې دالله تعالی په لارکې نه غزا وکړي او نه دهغه په زړه کې دغزا یا جهاد کولو طلب وي او په همدې حالت کې ورته مړاګ راشي نودامرګ یې دنفاق دښاخونو څخه په یوښاخ دی ، امام قرطبي رح ددې حدیث په شرح کې لیکلي: فيه دليل على وجوب العزم یعنې ددې حدیث نه ثابته شوه چې دجهاد لپاره عزم او اراده، دجهاد لپاره ځان تیارول او اعداد په هر مسلمان باندې واجب او فرض دی ددې حدیث دا وعید چې: که دچا زړه د جهاله عزم ، ارادې ، اعداد او تدریب نه خالي وې هغه مومن ندی منافق دی !!نو ددې حدیث : په پام کې نیولو سره دې هرسړی خپل زړه ته وګوري چې کوم حال یې دی؟ او درسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ددې فرمان په رڼا کې دې دخپل ایمان و نفاق پریکړه پخپله وکړي

دجهاد معنی: کمال درجه کوښښ کول دي، دقران وسنت په اصطلاح کې دغه کمال درجه کوښښ چې دذاتي اغراضو اودشخصي گټو وټو په ځای دحق پالنې په لار کې وکړای شي ورڅخه دجهاد په لفظ سره تعبیرکېږي، اوس دا کمال درجه کوښښ یو هغه دی چې مجاهدینو په مخامخ سنگر کې شپه ورځ کوي، په ځان باندې لوږه، تنده ، سختۍ او مشقت تیروي ، بل هغه دی چې یومجاهدین دجهادلپاره دځان په تیارولو او جهاد ته په آماده گۍ نیولو سره کوي، جهادي مشقونه او تمرینات زده کوي ، دوسلو استعمالول او چلول یادوي اوبل دادی چې یو څوک پخپله ژبه مجاهدین تیاروي، دجهادلپاره دعوت کوي دمجاهدینو دکړنو څخه دفاع کوي اوکوښښ کوي چې په ژبه جهاد اومبارزه وکړي، بل هغه دی چې په مال ورکولو سره مجاهدین اکمالوي، دهغوی اړتیاوې پوره کوي نو داټول کارونه دجهاد او مبارزې موارد دي او په خاصه توگه دکومې مبارزې او کوښښ چې ضرورت ډیروي هغه ترسره کول یعنې دکوم دسرته رسولو چې صلاحیت ولري ،کول یې ورباندې فرض دي فی سبیل الله جهاد کې دلغت او شرع دواړو دپلوه داخبره داخل نده چې دجهاد نه مقصود یوازې جنگ دی ولې که داسې وای نوبیابه دجهاد اطلاق په قلبي او لساني اعمالو باندې نه کیده حال داچې ټول قرآن وسنت دداسې اطلاقاتو څخه ډک دی : په دې باره کې دصاحب اقناع قول فیصل دی هغه لیکي: الامربالجهادمنه مایکون بالقلب، کالعزم علیه، ومنه مایکون باللسان کالدعوة الی الاسلام والحجة والبیان والرائ والتدبیر مافیه نفع المسلمین وبا لبدن ای القتال بنفسه فیجب الجهاد بغایة مایمکن من هذه الامور(۱ جلد: ۶۵۳) لنډه داچې دجهاد میدان پراخ دی هغه خلک چې په زړه کې دجهاد کولو عزم و طلب ولري ، مجاهدین بلل کیدای شي او په خاصه توگه هغه خلک چې دجهاد لپاره زده کړې کوي ورزشونه کوي ،پهلواني کوي خو نیت یې دجهادلري، په نیت سره ورته دجهاد ثواب ورکول کیږي داسې هلمّ جرا

علماوو لیکلي: چې کله جهاد فرض عین شي دهغه دکولو لپاره شریعت یو خاص ترتیب ایښی دی چې کله هم کفري ځواکونه دمسلمانانو په کوم اسلامي حکومت باندې دحملې قصد وکړي، په دې مجرد قصد سره دهغه هیواد یا ښار په مسلمانانو جهاد فرض عین کیږي ددې لپاره چې کافران دمسلمانانو جنگي کمزورۍ ونه فهموي اسلام مسلمانان په دې مامور کړي چې دوی به مخکې ددینه چې کافران د دوی ښارونو او هیوادونو ته ورشي په جهادي روزنې او تربیې ته پام لري او هیڅکله به جهادي اعداد او تدریب لایعني عمل نه بولي.

په ورته توگه څنگ چې جهاد یوه عظیم الشانه فریضه ده، دجهاد لپاره عزم اراده هم دیو مسلمان دایمان نښه ده دجهادي اسبابو او وسائلو سره احتیاط کول او په ښه شان دهغو ساتنه او دبې ځایه نه استعمال او استهلاک څخه یې اجتناب کول دواجباتو دجهاد څخه دي څنگ چې ددښمن په مقابل کې وسلې جوړول، وسلې پیدا کول، د وسلو خریداري لازم او واجب دي همداسې دجهادي وسلو، مهماتو او اسبابو ساتنه او حفظت هم واجب او لازم دی، په دې لړ کې اسلام هیڅ ډول غفلت او لاپرواهۍ نه زغمي زکه دنیا دارلاسباب ده زموږ مبارک دین ددې ښوونه کوي چې اسباب ترلاسه کړئ اسباب پیدا کړئ اسباب اختراع او ایجاد کړئ ددې ترڅنگ داسبابو په ساتنه او حفاظت هم کلک ټینگالي او بې موجبه استعمال او دهغوچلول خیانت او ظلم بولي پکا ردی داسلامي امارت مجاهدین دوسلو او جنگي توکیو او مهماتو سره مسؤلانه احتیاط وکړي هیڅکله په اړه یې د نه احتیاط او خپلسرۍ نه کار وانه خلي. ومن الله توفیق

د (الفتح) جهادي عملياتو د پيل په اړه

د اسلامي امارت اعلاميه

الحمدلله و کفی و الصلوة والسلام علی عباده الذین اصطفی، امابعد: فقد قال الله تبارک و تعالی:
إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُّبِينًا ﴿١﴾ سورة الفتح) و ایضا قال الله تعالی: انفِرُوا خِفَافًا وَثِقَالًا وَجَاهِدُوا بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنفُسِكُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ۚ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٤١﴾ (التوبه) صدق الله العظیم

مؤمنو هیوادوالو او مجاهدینو ورونو! له تیرو اتلسو کلونو راپه دې خوا زموږ په هیواد افغانستان کې د بهرنیو اشغالگرو او د هغوی د ملاتړو پر ضد مسلح جهاد جریان لري.

دغه جهادي مبارزه د اسلام او افغانستان د تاریخ هغه وياړمن باب دی چې زموږ د راتلونکو نسلونو سعادت، دیانت، خپلواکي او سرلوړي تضمینوي او زموږ د معنوي بقاء راز په کې نغښتی دی. که زموږ ملت د انگریزانو، شورویانو او اوس د امریکايي اشغالگرو پر ضد د جهاد توره نه وای پورته کړې نوڼ به موږ هم د نورو استعمارځپلو اولسونو په شان هم له دنیوي عزت او خپلې ارادې څخه محروم وای او هم به مو راتلونکي نسلونه گمراهان او له خپلو معتقداتو پردي شوي وو؛ خو (لله الحمد) دا زموږ په اولس د الله تعالی خانگړی مرحمت دی چې موږ ته یې په دې ابتلاء کې د کامیابۍ توفیق راکړ، زموږ ملت ته یې د اشغالگرو په خلاف د پاڅون او مقاومت توان ورکړ او موږ یې له تلپاتې معنوي زوال او سقوط څخه وژغورلو.

مجاهدو هیوادوالو! زموږ جهادي وظیفه لا هم سرته نه ده رسیدلې، د هیواد زیاتره سیمې که څه هم له دښمن څخه ازادې شوي دي خو زموږ په اسلامي هیواد کې لا هم بهرني اشغالگر ځواکونه پوځي او سیاسي حضور لري. هغوی نه یواځې د هیواد سیاسي واک په کنترول کې لري؛ بلکې له لویو پوځي اډو څخه شپه ورځ په هیوادوالو بمباري کوي، د داخلي روزل شویو غلامانو په مرسته چاپې وهي، خلکو ته د سر او مال زیانونه اړوي او په بیلابیلو طریقو زموږ اولس ځوروي.

ورسره یې د کابل ادارې په وسیله د افغان وژنې، اشغال غزولو او د اسلامي نظام د مخنیوي لپاره د روان ۱۳۹۸ لمریزکال د حمل په لومړۍ نیټه د خالد په نامه عملیات اعلان کړل، دا کار پخپله د دې گواهي ورکوي چې دښمن لا هم غواړي چې دزور له لارې خپلو شومو اهدافو ته ورسیږي، ځکه خو د بشپړ اسلامي نظام په مخ کې د شگو بندونه جوړوي.

دا چې له خپل دین، خپلې خاورې، خپل سر، مال او ناموس څخه دفاع او ساتنه لازمه ده او له پردي ښکیلاک څخه د اسلامي هیواد بشپړه آزادي جهادي فریضه ده، اسلامي امارت د همدې جهادي فریضې د تکمیل په موخه د نوي هجري شمسي کال په رابریدو سره د (الفتح) په نوم جهادي عملیات اعلانوي او په دې اړه لاندې څو تکې د یادونې او توجه وړ بولي.

ـ په ټول هیواد کې د (الفتح) عملیاتو د هماهنگه پیل کیدو امر وشو، دا چې د هر عبادت په پیل کې نیت مهم دی مجاهدین ورونه دې په پوره اخلاص او اصلاح النیة سره دغه جهادي عملیات پیل کړي.

خپل هدف دې یوازې او یوازې د الله تعالی د رضاء حاصلولو په مقصد د اشغال له منځه وړل، له اشغال او فساد څخه د اسلامي هیواد تصفیه، د اسلامي نظام اقامه کول او د خپلو مؤمنو هیوادوالو دفاع او خدمت وگرځوي.

ـ مجاهدین مکلف دي چې د (الفتح) عملیاتو په لړ کې د اطاعت اصل په پام کې ولري. خپل جهادي کردار باید د جهادي لوائحو او خپلو آمرانو د لارښوونو په رڼا کې ترسره کړي. د اسلامي امارت د نظامي کمیسیون او نورو ذی ربطه اداراتو لخوا چې هر امر او توصیه کیږي باید په کلکه یې رعایت کړي، هغه که د روزانه جهادي کارونو په اړه وي او یا هم د ملکي تلفاتو دمخنیوي، احتیاط، نظم، خپلمنځي همکارۍ، اخلاقي چلند او نورو امورو په اړه.

ـ دا چې مجاهدین لله الحمد د هر کله په نسبت په لوړ جهادي عزم سمبال، له حربي تجربو، نویو تاکتیکونو، ولسي ملاتړ، د دښمن په صف کې له نفوذ او پرمختللیو وسلو څخه برخمن دي، نو د الله تعالی نصرت ته په هیله مندۍ سره ډیر امید شته چې سږ کال به پراخې سیمې، ښارونه او مراکز د دښمن له شتون څخه تصفیه شي.

مجاهدین ورونه باید په جهادي چارو کې له غدر، غلول، خیانت او نورو ناروا کارونو څخه ځان وژغوري. د هیوادوالو د سر او مال حفاظت، دغه راز د عامه شتمنیو او عام المنفعه تاسیساتو ساتنه باید خپله وظیفه وبولي.

ـ د (الفتح) عملیاتو یوه مهمه برخه د دښمن له صف څخه د هغو هیوادوالو را ایستل دي چې د اردو، پولیسو او اربکیانو په نوم پوځي تشکیلاتو کې داخل شوي او اشغالگر یې د خپلو گټو لپاره جنگوي.

اسلامي امارت په باطل صف کې د دوی د مرگ په ځای، دې ته ترجیح ورکوي چې دوی له بر حق صف (اسلامي امارت) سره یو ځای شي او خپل سر او مال وژغوري. په همدې اساس موږ د دښمن په صف کې ولاړو عسکرو باندې یو ځل بیا غږ کوو چې له بې دلیله دښمنۍ او بې گټې جگړې لاس واخلي، له مجاهدینو سره یو ځای شي او د خپل سر او مال د ساتنې تضمین تر لاسه کړي.

ـ په پای کې له مجاهدینو ورونو څخه یو ځل بیا غوښتنه کوو چې په ډیر جدیت، اخلاص، توکل، لوړ عزم او پیاوړي روحیې او د الله اکبر په ملکوتي نعرو سره (الفتح) عملیات پیل او دفتوحاتو په روح تازه کونکو ځپو سره سولې او اسلامي نظام ته تږیو او دردمنو مؤمنانو زړونه تکورکړي.

په دې باور ولرئ چې موږ پر حق یو او(فتحه) همیشه د حقپالو په برخه وي. د الله تعالی وعدو ته په پام سره هغه ورځ را نږدې ده چې زموږ د شهیدانو، بندیانو، مهاجرینو او کړیدلي اولس جهادي ارمانونه ترسره او د نهایي (فتحې) په حصول سره اسلامي نظام قائم او هیواد مو له امریکایي اشغال او شریرو عناصرو څخه خلاص شي. الله تعالی فرمايي: وَنُرِيدُ أَن نَّمُنَّ عَلَى الَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا فِي الْأَرْضِ وَنَجْعَلَهُمْ أَئِمَّةً وَنَجْعَلَهُمُ الْوَارِثِينَ ﴿٥﴾. القصص. ژباړه: او موږ دا اراده وکړه چې پر هغو خلکو چې په ځمکه کې ضعیفه گرځول شوي ول احسان (مهرباني) وکړو، رهبران یې وگرځوو او هماغوی (پرځمکه) وارثان وگرځوو.

د افغانستان اسلامي امارت

۱۴۴۰/۸/۷هـ ق ۱۳۹۸/۱/۲۳هـ ش ـ ۱۲/٤/۲۰۱۹م

Shahamat

ويره

مولوي بدرالدين "حقاني"

په پټو سترګو مشره ولسونه درپسې دي
خيرک اوسه هدف ته اميدونه درپسې دي

ډېر ورې دي نهر دي برهنه دي ابله پښې دي
بيعت کوي دخداى په دين لاسونه درپسې دي

ګټېل دي او بايلل دي دکلونو قربانيو
دتورو تمبو شاته زنځيرونه درپسې دي

بې شميره د بارودو جامې وکړې فدايانو
دحشر په ميدان کې يې هډونه درپسې دي

د ډېرو شهيدانو کونډې بيادي کونډې شوي
له سترګو يې د اوښکو قطارونه درپسې دي

اهونه يې والله چې سپينې ورځې توره شپه کړي
د داسې بې وزلانو حسابونه درپسې دي

راځه ځادر په مټ کړه چيرې لاړشه بدرالدينه!
خان بچ ګڼې خو وګوره اورونه درپسې دي